# د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره (UNOPS)

# د افغانستان د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام (ACRLP)

# د چاپيريال او ټولنيز مديريت چوکاټ (ESMF)

د اضافي تمويل برخې لپاره د دې سند د بیاکتنې نېټه – ۱۴۰۱ کال د قوس میاشتې ۲۵مه

# د موضوعاتو لړلیک


**1. اجرأیوي لنډیز** 5

**2. عمومي معلومات** 7

**3.** د پروژې توضیحات او اداري ترتیبات 8

**4. پالیسي او حقوقي چوکاټ**9

**5. د چاپېریال او ټولنیز مدیریت په هکله لومړني معلومات (بېسلاین)** 11

**6. د چاپېریالي او ټولنیزو احتمالي خطرونو او اغېزو په ګوته کول او ارزول او د خطر کمولو اقدامات** 13

**7. اداري ترتیبات او څارنه او ارزونه** 21

**8. د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ لپاره تخمین شوې بودجه** 23

**9. روزنه او ظرفیت لوړونه**25

**لومړۍ ضمیمه: د چاپیریالي او ټولنیزې ارزونې فورمه، د چاپیریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان او سایټ پورې ځانګړې د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان نمونه** 27

**دویمه ضمیمه: د منفي (غیر مجاز) پروژو نوملړ** 34

**دریمه ضمیمه: د قراردادیانو لپاره د قرارداد د مادو بېلګې** 35

**څلورمه ضمیمه: د کارکوونکو د مدیریت ساده شوې کړنلارې** 37

**پنځمه ضمیمه: د لرغونو اثارو د موندنې کړنلاره** 44

**شپږمه ضمیمه: د ځمکني ماینونو (LM)، ناچاودو توکو (UXO)، او د جګړې له پاتې شونو (ERW) د مدیریت معیاري عملیاتي کړنلاره** 45

اوومه ضمیمه: د پروژې لومړي جزء (کلیوالي برخې) لپاره د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو (PPE) او د لومړنیو روغتیایي مرستو کېټونو اړتیاوې 48

# د مخففونو نوملړ

| | |
|---|---|
| ARTF | د افغانستان د بیارغوني وجهي صندوق |
| CCAP | د افغانستان د ولسي تړون پروژه |
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون |
| CIP | په ښارونو کې د پانګونې پروګرام |
| CoC | د چلند اصول |
| CRC | د ماشومانو د حقونو کنوانسیون |
| CRG | د کلي نماینده ګان |
| CRLP | د افغانستان د ټولنیز ملاتړاو معیشت پروژه |
| CSO | د مدني ټولنې سازمان |
| E&S | چاپیریالي او ټولنیز |
| EIA | د چاپیریالي اغیزو ارزونه |
| ESCP | د چاپیریال ساتنې او ټولنېزې ژمنتیا پلان |
| ESF | د چاپېریال او ټولنیز چوکاټ |
| ESS | د چاپیریال او ټولنیز مدیریت معیارونه |
| ESMF | د چاپیریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ |
| ESMP | د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان |
| ERW | د جګړې ناچاودې پاتې شوني |
| EZ-Kar | د افغانستان د کارموندنی/اشتغال زایي پروژه |
| FP | همکاره مؤسسه |
| GBV | جنسیتي تاوتریخوالی |
| GIIP | غوره نړیوالې صنعتي کړنلارې |
| GRS | شکایتونو ته د رسېدنې نماینده ګان |
| GRM | شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم |
| IDP | داخلي بې ځایه شوي |
| INGO | نړیوال غیر دولتي سازمان |
| IPV | د خاوند/ښځې لخوا تاوتریخوالی |
| ITA | د طالبانو سرپرست حکومت |
| IUCN | د طبیعت ساتنې نړیواله اداره |
| LiW | پر کارګرو ولاړ فعالیتونه |
| LMP | د کارګرو د مدیریت کړنلاره |
| LM | ځمکني ماینونه |
| MIS | د معلوماتو د مدیریت سیستم |
| NGO | غیر دولتي سازمان |
| NEPA | د چاپیریال ساتنې ملي اداره |
| OHS | کاري روغتیا او خوندیتوب |
| UXO | ناچاودي توکي |
| PAD | د پروژې د ارزونې سند |
| PDO | د پروژې پرمختیایي موخه |
| PIU | د پروژې پلي کوونکې څانګه |
| PSEA | د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی |
| PWD | معلولیت لرونکي وګړي |

| | |
|---|---|
| SEA | جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنه |
| SEP | د ښکیلو اړخونو د ګډون پلان |
| SH | جنسي ځورونه |
| SRA | د امنیتي خطر ارزونه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNOPS | د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره |
| VAWG | د ښځو او انجونو پر وړاندې تاوتریخوالی |
| WB | نړیوال بانک |

## 1. اجرأیوي لنډیز

د افغانستان د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژه (ACRLP) پرمختیایي موخه په کلیوالي او ښاري سیمو کې په ټولنیزو او اقتصادي زیږبناوو کې د لنډ مهاله معیشتي فرصتونو برابرول او د بېړنیو اساسي خدمتونو وړاندې کول دي. دا پروژه پنځه برخې (اجزاوې) لري چې عبارت دي له : لومړی برخه: په کلیوالي سیمو کې د معیشت بېړنۍ مرستې؛ دوهمه برخه: په ښاري سیمو کې پر کارګرو ولاړ عامه کارونه؛ دریمه برخه: په کلیوالي او ښاري سیمو کې د میرمنو او له زیانمنو وګړو سره ټولنیزې مرستې؛ څلورمه برخه: د ټول شموله او په ځانګړې توګه میرمنو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره د ټولنیزو بنسټونو پیاوړي کول؛ او پنځمه برخه: د پروګرام د تطبیق مرستې.[1] د اضافي مالي تمویل (AF) برخې تر چتر لاندې، د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژه په کلیوالو او ښاري سیمو کې د لنډمهاله معیشتي فرصتونو برابرولو او بیړنیو اساسي خدمتونو وړاندې کولو ته دوام ورکوي. د پروګرام اړوند اضافي مالي تمویل برخه کې د سیمو پوښښ کې زیاتوالی، د افغان مېرمنو لپاره د معیشتي فرصتونو زیاتوالی، د اقلیمي مقاومت لرونکو فعالیتونو پراوخوالی، او له پاکستان څخه د وروستیو راستنېدونکو سره د مرستو کول شامل دي.

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې؛ د نړیوال بانک د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت لومړی معیار او د چاپیریال ساتنې او تولنیز خوندیتوب نور اړوند معیارونه او همدارنګه د ملي قوانینو د رعایت په موخه، د کار د مدیریت د ساده کړنلارو په ګډون، د چاپیریال او ټولنیز مدیریت دا چوکاټ او ورسره د چاپیریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د ژمنتیا پلان، د جنسیتي تاوتریخوالي/جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې کاري پلان، او د ښکیلو اړخونو د ګډون پلان ترتیب او پلي کړي دي.

د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د دې چوکاټ اساسي موخه د چاپیریالي او ټولنیز خوندیتوب ارزونه او د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې تر چتر لاندې د تمویل کېدونکو پانګونو د مدیریت، بیاکتنې، منظورۍ او تطبیق لپاره د کړنلارو جوړول دي.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې د پخوانیو پړاوونو د تطبیق تجربې ښیي، چې همکارې مؤسسې د چاپیریالي او ټولنیزو خطرونو د مدیریت تطبیق لپاره زیاتې بودیجې ته اړتیا لري، څو د کارکوونکو او کلیو لپاره د یو خوندي کاري چاپیریال رامنیځته کېدل یقیني کړي. تر دې سربېره، همکارې مؤسسې د چاپیریالي او ټولنیزو خطرونو ارزونې په ځانګړي ډول د کاري روغتیا او خوندیتوب اړوند خطرونو راکمولو تدابیرو لپاره، د لا زیات ظرفیت لوړولو اړتیا لري. دغه اړتیاوې د قراردادیانو او همکارو مؤسسو د وړتیا لوړولو فعالیتونو، او د کلیو او کارکوونکو لپاره د پوهاوي پروګرامونو په بڼه د اضافي تمویل برخې په فعالیتونو کې شاملې دي.

د روزونکو د روزنې پروګرامونه او د شپږو همکارو مؤسسو لپاره د بیاځلي روزنیزو پرګرامونو شمېر کې به زیاتوالی راشي. همدارنګه، د همکارو مؤسسو او قراردادیانو لخوا به د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونو راکمولو روزنې په زنجیره یي بڼه کاریګرو ته په ورځني ډول ورسوي.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې په لومړني پړاو کې، د فرعي پروژو ساحو کې د ناچاودېدلو توکو د شتون تمه نه کېده، خو د تطبیق تجربو وښودله چې د ناچاودو توکو اړوند خطرونه شته او که په سمه توګه مدیریت نشي، د پېښو د رامنځته کېدو لامل کېدلای شي. ځمکني ماینونه، ناچاودي مهمات او د جګړې چاودېدونکي پاتې شوني د نظامي فعالیتونو هغه میراث دی، چې د افغانستان ډېری کلیوالي او ښاري سیمې یې اغېزمنې کړي دي. د څو لسیزو جګړو په ترڅ کې، زرګونه ناچاودېدلي راکټونه، هاوانونه، بمونه او ګولۍ په ځمکه یا اوبو کې سطحي پاتې یا ښخ شوي دي. ځمکني ماینونه، ناچاودي مهمات او د جګړې چاودېدونکي پاتې شوني، د وخت په تېریدو سره لا نور هم خطرناک کېږي او د تودوخې، ټکان یا ارتعاش له امله په اسانۍ سره چاودېدلای شي. دا وضعیت په ځانګړي ډول د هغو ساختماني کارونو لپاره خطرناک دی، چې د ځمکې کیندنې اړوند

[1] د افغانستان د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام ، د پروژې د ارزونې سند، ۲۰۲۲ اپریل، د لاسرسي لینک:

https://documents.worldbank.org/en/publication/documents-reports/documentdetail/099941005092220009/idu0ba95440800fb504e13083fc077d4132723aa

فعالیتونه په کې شامل وي.

په همدې موخه، د دې چوکاټ په شپږمه ضمیمه کې د ناچاودو توکو د مدیریت ځانګړي پروتوکولونه وړاندې شوي دي چې له همکارو مؤسسو او قراردادیانو سره شریکیږي.

**چاپېریالي او ټولنیز احتمالي خطرونه او د مخنیوي تدابیر**

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې لپاره د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو درجه بندي "د پام وړ" ټاکل شوې ده. په چاپېریالي خطرونو او اغېزو کې د کوچنیو رغنیزو کارونو له امله د ټیټې یا منځنۍ کچې غږیزه ککړتیا او ګردونه رامنځته کېدل؛ د بیارغونې ساحو کې د رغنیزو کارونو لپاره د ساختماني موادو د کیندنو له امله پد بوټو له منځه وړل او د ځمکې تخریب؛ د رغنیزو کارونو له امله د کثافاتو رامنځته کېدل او د هغوی ناسمه پاکاري، د کارګرانو لپاره د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونه، او د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو په ځانګړې توګه د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونو د مدیریت په برخه کې د همکارو مؤسسو او قراردادیانو کمزورې وړتیا اړوند موارد شامل دي. د چاپېریالي خطرونو او اغېزو ترڅنګ د پروژې د اضافي تمویل (AF) برخې ټولنیز خطرونه عبارت دي له: د ښځو د تګ راتګ او کار محدودیتونه، ټولنیزې نابرابرۍ، محرومیت، او د ځینو وګړو لکه بیاراستنېدونکو سره احتمالي توپیري چلند کول، د حرفوي او ټولنیزې روغتیا او خوندیتوب ستونزې، جرمونه، پر ماشومانو جبري کار، د وسله والو نښتو او تروریستي بریدونو پېښېدو په ګډون بدلېدونکي امنیتي شرایط او د ځمکنیو ماینونو، ناچاودي مهماتو او د جګړې چاودېدونکي پاتې شونو شتون او د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو په ځانګړې توګه د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونو د مدیریت په برخه کې د همکارو مؤسسو او قراردادیانو کمزورې وړتیا. دا خطرونه او اغېزې د خطر د راکمولو لپاره د هغو تګلارو (مخنیوی، راکمول، له منځه وړل او جبرانول) له مخې چې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت په دې چوکاټ کې شاملې دي، مدیریت کېږي. د دې ترڅنګ د یادو ټولنیزو خطرونو اغېزې دایمي او تلپاتې ندي، ځکه چې ډېری دا ډول خطرونه کوچني، ځایي او په یوې ځانګړې پروژې پورې تړلي دی او د خطر راکمولو د ټاکل شوو اقداماتو له لارې د مدیریت وړ دي.

نړیوال بانک د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې د پلي کولو لپاره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې سره مستقیم قرارداد کړی دی. د دې پروژې د عمومي همغږۍ، د ځایي سازمانونو او قراردادیانو سره د تدارکاتي چارو ترسره کول، د کلیو سره ګډ کار، مالي مدیریت، کارکوونکو ګمارنه او روزنه، د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو مدیریت، د کیفیت تضمین، څارنه او راپور ورکول، او د تخنیکي ملاتړ فعالیتونو د مدیریت مسؤولیت د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې په غاړه دی. دغه اداره تر کلیو پورې د پروژې د مرستو رسولو لپاره له غیر دولتي سازمانونو او ځایي ښاري قراردادي شرکتونو سره قرارداد کړی دی او دوی ته مالي تمویل چمتو کوي.

د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د (۱۰) معیار مطابق، د پروژې شکایتونو ته د رسېدنې یو میکانیزم طرحه او ترتیب شوی دی. د دې مېکانېزم هدف دا دی چې د پروژې له امله زیانمنو شویو وګړو او د پروژې په چاپېریال، ټولنیزو، او کاري روغتیا او خوندیتوب اړوند ښکېلو اړخونو اندېښنې او شکایتونه واورېدلی شي، او همدارنګه د پروژې اړوند نورې اندېښنې هم ځواب شي. دا پروژه د دغه ډول اندېښنو د ترلاسه کولو او حل لارې برابرولو لپاره میکانیزمونه برابروي. شکایتونو ته د رسېدنې دا میکانیزم به د نړیوال بانک د معیارونو سره سم د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې پېښو ته د ځواب ورکولو لپاره اړینې کړنې پلي کړي چې دا کړنې په تفصیل سره د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې په کاري پلان کې ذکر شوي دي، کوم چې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ د ضمیمې په توګه شامل دی.

د ګټه اخیستونکو او د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې او روزنې پروګرام هم طرحه او ترتیب او د پروژې په لومړیو کې تطبیق شوی دی.

د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ د تطبیق لګښت ۲،۷۶۲،۰۰۰ امریکایي ډالره اټکل شوی دی. په دې اټکل شوې بودجه کې د پروژې د پلي کولو په لړ کې د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو مدیریت د یو فعال اداري جوړښت ساتنه، د روزنې او ظرفیت لوړونې پروګرامونه، د ښکېلو اړخونو مشورې، د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې کاري پلان، شکایتونو ته د رسېدنې د میکانیزم تطبیق او د غیر دولتي سازمانونو او په ښاري برخه کې د قراردادي شرکتونو لخوا د

چاپېریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ د تطبیق څارنه او د اسنادو برابرول شامل دي.

## 2. عمومي معلومات

د افغانستان د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام موخه په کليوالي او ښاري سيمو کې د لنډ مهاله معيشتي فرصتونو برابرول او د بېړنيو اساسي خدمتونو وړاندې کول دي. دا پروګرام به د ميليونونو افغانانو لپاره لنډمهاله کاري فرصتونه او عايد برابر کړي، سره له دې چې د پاکو اوبو او روغتيا خدماتو ته د هغوی لاسرسی زياتوي. په ځانګړې توګه، د پروګرام ډيزاين د مېرمنو او له زيان سره مخ ډلو، لکه داخلي بې ځايه شويو او معلوليت لرونکو وګړو لپاره ځانګړې مرستې وړاندې کوي.

د دې پروګرام دويمه برخه د کلي د سيستمونو او بنسټونو د اوږدمهاله پياوړتيا، پايښت او ټول ګډونه پرمختيا ته هم ارزښت ورکوي. د اضافي تمويل (AF) برخه د لنډ مهاله معيشتي فرصتونو دوامداره برابرولو او په کليوالو او ښاري سيمو کې د عاجلو اساسي خدمتونو په وړاندې کولو ډاډمنتيا ورکوي.

د پروګرام د لومړنی مرحلې د ۱۸ مياشتنی لاسته راغلې تجربې پر بنسټ، د پروژې په اضافي تمويل کې څلور عمده بدلونونه رامنځته شوي دي:

i. په کليوالي او ښاري سيمو کې جغرافياوي پراختيا

ii. د ښځو د اقتصادي فعاليتونو د يوې نوې برخې رامنځته کولو له لارې د افغان ښځو لپاره د معيشتي فرصتونو زياتوالی

iii. د اقليمي خطر کمولو او تطابق په اړه د کلي په کچه د پوهاوي لوړولو او په ښاري سيمو کې د اقليمي مقاومت لرونکو فرعي پروژو ته د هڅوني ورکولو له لارې د اقليم پر وړاندې د مقاومت لرونکو فعاليتونو باندې زيات تمرکز کول

iv. د پاکستان څخه په ورستيو کې د زيات شمېر راستنېدونکو لپاره مرستې ترڅو د پروژې په فعاليتونو کې ګډون وکړي او خپلو سيمو کې د کاري فرصتونو او خدمتونو اړينه مرستې ترلاسه کړي.

دا چې د وړانديز شوو اجزاوو د فرعي پروژو د ساحو د فزيکي موقعيت او ماهيت اړوند ځانګړې معلومات د چمتووالي په لومړيو پړاوونو کې څرګند نه وو، نو د همدې لپاره د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروژې د چوکاټ طريقه تر لاس لاندې نيول شوې ده. د چاپيريال او ټولنيز مديريت کاری چوکاټ يو معياري سند دی او په هغو حالاتو کې، چې د پروژې اړوند فعاليت اغېزې او فزيکي موقعيت له وړاندې معلوم نه وي، د چاپيريالي او ټولنيزو اغېزو د کتنې، ارزونې، مديريت او څارنې په موخه اصول، مقررات او کړنلارې بيانوي. دا چوکاټ؛ هغه مهال د يوې پروژې يا يو لړ فرعي پروژو د چاپيرياِل او ټولنيز مديريت احتمالي خطرونه او اغېزې څېړي، دا چاپيريالي او ټولنيزې اغېزې تر هغې پورې نشي معلوميدلی ترڅو چې د دې فعاليت يا فرعي پروژو بشپړ معلومات په ډاګه شوي نه وي؛ او همدارنګه د چاپيرياِل او ټولنيز مديريت د پلان وروسته چې د دې چوکاټ په شپږمه برخه کې شامل دی، د خطر راکمولو اقداماتو د تطبيق لپاره د کړنلارو سپارښتنه کوي.

د چاپيرياِل او ټولنيز مديريت چوکاټ پر وخت د اقداماتو د ترسره کولو ډاډ رامنځته کوي ترڅو:

- د انسان روغتيا او امنيت ته د هر ډول زيان مخه ونيول شي يا راکم شي؛
- د هر ډول معيشت د له منځه تللو څخه مخنيوی وشي؛
- د پروژې د فعاليتونو له امله د چاپيرياِل د هر ډول خرابوالي څخه مخنيوی وشي، تر ټولو ټيټې کچې ته راکم شي او يا جبران شي؛
- چاپيريالي او ټولنيزې مثبتې پايلې زياتې کړي؛
- د افغانستان د قوانينو او همدارنګه د نړيوال بانک د چاپيرياِل او ټولنيز مديريت د چوکاټ او د نړيوال بانک د چاپيرياِل ساتنې، روغتيا او خونديتوب لارښوونو ته د رعايت ډاډ رامنځته شي.[2]

---

[2] https://documents1.worldbank.org/curated/en/157871484635724258/pdf/112110-WP-Final-General-EHS-Guidelines.pdf

همدارنګه دا چوکاټ د کارکوونکو ګمارنه او د اداري اصولو ترتیبات هم رامنځته کوي او د پروژې د پلي کوونکي واحد، همکارو مؤسسو او نړیوال بانک ترمنځ اړیکې، او د دې چوکاټ او د چاپیریالي او ټولنیزو نورو ټولو ابزارونو په پلي کولو کې د هرې اداري دندې او مسؤلیتونه روښانه کوي.

## 3. د پروژې توضیحات او اداري ترتیبات

**د پروژې پرمختیایي موخه:** د دې پروژې پرمختیایي موخه په کلیوالي او ښاري سیمو کې د لنډ مهاله معیشتي فرصتونو برابرول او د بېړنیو اساسي خدمتونو وړاندې کول دي.

دا لومړنۍ او بېړنۍ مرسته به په لومړیو کې میلیونونو افغانانو ته د لنډمهاله کاري فرصتونو او عاید ترڅنګ، د اساسي خدمتونو لکه پاکو اوبو او روغتیا خدماتو ته د دوی لاسرسی لا زیات کړي.

دا پروژه به په ځانګړي ډول د زیانمنو قشرونو، لکه ښځو، داخلي بې ځایه شویو، او معلولیت لرونکو وګړو، ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړي. سربېره پر دې، پروژه به د کلیوالي سېستمونو او بنسټونو پیاوړتیا ته وده ورکړي، ترڅو د اوږدمهاله پایښت، ټول ګډونه پرمختګ، او د محلي ظرفیتونو د لوړولو اساسي بنسټ رامنځته شي.

دا کلیوالي سیستمونه د خلکو د فعال ګډون، مسؤلانه مدیریت، او شفافه توګه د حالت د ښه والي لپاره یو بنسټ برابروي. نړیوالې تجربې ثابتوي چې د سیاسي بدلونونو او د جنګ ځګړو په ورته شرایطو کې د معیشت د فرصتونو دوامداره ساتل، په اساسي خدمتونو پانګونه او همدارنګه غیر دولتي ځایي بنسټونه او سیستمونه خورا مهم دي ترڅو عمده پرمختیایي ګټې وساتل شي.

د دې پروژې اصلي اجزاوې، چې د دوه نیمو کلونو په اوږدو کې به پلي شي، په لاندې ډول دي:

۱. په کلیوالي سیمو کې د معیشت بېړنۍ مرستې؛

۲. په ښاري سیمو کې د معیشت بېړنۍ مرستې؛

۳. په کلیوالي او ښاري سیمو کې د مېرمنو او ترټولو زیان-منونکو ډلو سره ټولنیزې مرستې؛

۴. د ټول شموله ټولنیزو بنسټونو په ځانګړې توګه میرمنو ته د خدمتونو وړاندې کولو په موخه پیاوړي کول؛

۵. د پروګرام د پلي کولو مرستې.

د پروژې د بیا تنظیم (restructuring) پروسه د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په میاشت کې پای ته ورسېده او په دې پروسه کې د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام په اړانه کې د کلي بسیج سازي پروسې اړوند راغلیو بدلونونو شاملولو او د اضافي تمویل برخې تر پوښښ لاندې سیمو کې د کلي نماینده ګانو سره د همکاري لپاره اداري ترتیبات نوي شول. د کلي نماینده ګان غیر رسمي، غیر دولتي نماینده ګان دي چې د نارینه وو، ښځو، داخلي بې ځایه شویو خلکو (IDPs) ، راستنېدونکو او نورو بې وزله او زیانمنو ډلو استازیتوب کوي. د کلي نماینده ګان د تحلیل، پلان جوړونې او فرعي پروژو د پلي کولو چارې پر مخ وړي. همدارنګه، د پروژې د بیا تنظیم پروسې په ترڅ کې پروژه کې د شمولیت شرایطو په ترتیب سره بیان شوي دي.

د اضافي تمویل برخې سره یو ځای، د دې پروګرام له لارې به په ټولیزه توګه یو نیم میلیون کورنۍ یا ۱۰.۶ میلیونه افغانان کاري فرصت ترلاسه کړي. په تخمیني ډول به ۱۴.۴ میلیونه افغانان د لومړنیو خدمتونو او د کلیوالي بنسټونو لکه د دریمې درجې سړکونو، کوڅو، د اوبو لګولو پاکو کانالونو او ویالو او داسې نورو بیا رغونې څخه برخمن شي. د دې پروژې بشپړ سند په عامه توګه دلته د لاسرسي وړ دی.

د مرکزي آسيا-جنوب آسيا د بريښنا د ليږد او سوداګرۍ پروژې (CASA-1000) د محدود بيا پيل اجازه د بانک لخوا د "Approach 3.0" [3] د منظورۍ برخې په توګه ورکړل شوه. کاسا 1000 یوه سيمه يزه پروژه ده چې ۱.۲ بيليون ډالره ارزښت لري او د تاجکستان او قرغزستان پاکه انرژي د افغانستان له لارې پاکستان ته رسوي. د دې پروژې اړوند په درېيو نورو ګډون کوونکو هېوادونو کې د دې پروژې چارې نږدې بشپړې شوې دي او د دغو هېوادونو غوښتنه وه چې په افغانستان کې د کاسا 1000 پروژې کارونه بيا پيل شي ترڅو د دې پروژې د ناکامېدو خطر له منځه يوړل شي. په افغانستان کې به دغه پروژه په محدود ډول پيل شي، څو ډاډ تر لاسه شي چې د رغنيزو چارو د پيسو ټولې ورکړې او راتلونکي عايدات د افغانستان له سېستمونو بهر مديريت شي او د طالبانو سرپرست حکومت (ITA) سېستمونه پکې شامل نه وي.

دا چې کاسا 1000 پروژه کې د جنسي استثمار او جنسي ځورونې (SEA/SH) خطرونه لوړ دي، نو په همدې خاطر د دې خطرونو د کمولو لپاره د پروژې د بيا پيل په برخه کې اضافي مرستو ته اړتيا ده. افغانستان د جنسيتي تاوتريخوالي د لوړې کچې له امله په سيمه کې له جدي ستونزو سره مخ دی. د ۲۰۲۱ کال د اګست مياشت کې رامنځته شوي سياسي تحول څخه را وروسته، د جنسيتي تاوتريخوالي اړوند خدمتونو چمتو کول ډېر کم شوي دي او د دې برخې قربانيانو لپاره د ملاتړ لارې محدودې دي. اوس مهال، د ملګرو ملتونو ادارې کولای شي د جنسيتي تاوتريخوالي قربانيان د ملاتړ کوونکو خدمتونو ته راجع کړي. د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام د کاري محدودې سره په سمون کې، د جنسيتي تاوتريخوالي د لوړې کچې خطرونو د حل لپاره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره ټاکل شوېده څو د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام او د کاسا 1000 پروژې تر پوښښ لاندې سيمو کې د جنسي استثمار/جنسي ځورونې خطرونو کمولو اقدامات ترسره کړي.

## 4. پاليسي او حقوقي چوکاټ

**ملي حقوقي چوکاټ: د افغانستان اسلامي جمهوريت د دې پروژې اړوند لاندې قوانين او پاليسی لرې:**

<u>د چاپيريال ساتنې قانون (۲۰۰۷):</u> دا قانون د هغو نړيوالو معيارونو پر بنسټ جوړ دی چې د افغانستان د چاپيريال اوسنی وضعيت په پام کې نيسي، په داسې حال کې چې د چاپيريالي مديريت لپاره يو اغېزناک چوکاټ رامنځته کوي.

دا قانون د بيولوژيکي تنوع، ځنګلونو، ځمکې او نورو طبيعي سرچينو د دوامداره کارونې، بيارغونې او ساتنې؛ د هوا د ککړتيا د مخنيوي او کنټرول؛ د چاپيريال د ساتنې او بياجوړونې؛ او د چاپيريال په اړه د تصميم نيونې په پروسه کې د ځايي سيمو او کليو د فعال ګډون، او د پروژې په هره مرحله کې د زيانمنو شويو خلکو ته د ګډون يو ښکاره فرصت ورکولو حکم کوي.

دا قوانين له ټولو پرمختيايي پروژو، پلان، پاليسي او يا فعاليت څخه غواړي ترڅو د هر ډول فعاليت له ترسره کولو مخکې د چاپيريال ساتنې د جواز (د قوانينو د رعايت تصديق پاڼه) تر لاسه کولو لپاره غوښتنليک وړاندې کړي، چې ددې موخې لپاره بايد د چاپيريال اغېزو د ارزونې اړتياوې بايد د چاپيريال ساتنې ملي ادارې ته وسپارل شي ترڅو اړوندې احتمالي ناوړه اغېزې او احتمالي تاثيرات معلوم کړي. دا قانون د متخصصانو يو پلاوی هم رامنځته کوي چې د چاپيريال ساتنې ملي ادارې لخوا د جواز د صادرېدو او يا نه صادرېدو مخکې غوښتنليکونه او اسناد تر بياکتنې، ارزونې او غور لاندې نيسي. د چاپيريالي اغېزو د ارزونې پلاوی د چاپيريال ساتنې ملي ادارې د عمومي رئيس لخوا ټاکل شوی دی او له ۸ څخه زيات غړي لري. د يادونې وړ ده چې د چاپيريالي اغېزو د ارزونې لپاره د متخصصانو د پلاوي تصميم د استيناف وړ دی.

<u>د چاپيريالي اغېزو د ارزونې پاليسي (۲۰۱۷):</u> دا پاليسي د چاپيريالي اغېزو د ارزونې د کړنلارو پلي کول تعريفوي او د چاپيريال ساتنې د قانون (۲۰۰۷) د درېيم څپرکي د تطبيق لپاره د پاليسی بنسټ برابروي. همدارنګه دا پاليسي د هغو پروژو يو نوملړ هم وړاندې کوي چې ښايي ناوړه اغېزې (لومړی کټګوري) او هغه پروژې چې ښايي د پام وړ منفي اغېزې (دوهمه کټګوري) رامنځته کړي.

---

[3] د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ په مياشت کې، د نړيوال بانک اجرائيه بورډ "Approach 3.0" پلان منظور کړ. د دې پلان له مخې به د نړيوالې پرمختيايي ټولنې بوديجه د مرستې په توګه د ملګرو ملتونو ادارو او نورو نړيوالو عامه سازمانونو ته ورکړل کيږي، څو په ټول هېواد کې د اساسي خدمتونو مرستو ته دوام ورکړل شي، په ځانګړي ډول هغه خدمتونه چې د ښځو لپاره ګټور وي.

د کار قانون (۲۰۰۷): په دې قانون کې د رغونې او ساختماني چارو اړوند يو شمېر مادې شاملې دي. د دې قانون ۳۰ ماده بيانوي چې يوه اداره يا سازمان کولای شي د اونۍ په اوږدو کې کاري ساعتونه زيات او يا کم کړي، په دې شرط چې په يوه اونۍ کې ټول کاري ساعتونه له ۴۰ څخه زيات نشي. د دې قانون په ۱۰ څپرکي کې ۱۰۷ نه تر ۱۱۹ پورې مادو کې په کار ځای کې د روغتيا او کاري خونديتوب د تأمين په موخه يو لړځانګړي شرايط ذکر شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۱۱۲ مادې شرط دا دی چې روغتيا ته زيان رسوونکو شرايطو کې د کار کولو پر مهال بايد کارګرو ته له لګښت پرته په وړيا ډول ځانګړي لباسونه/بوټان برابر شي. همدارنګه ۱۱۴ ماده کې راغلي چې د لومړنيو مرستو طبي کڅوړې يا کيټونه بايد د کارګرو په واک کې ورکړل شي او د کارګرو د ناروغی درملنه بايد د کار ګمارونکي ادارې په لګښت وشي.

د چاپېريال ساتنې نړيوال تړونونه: د افغانستان اساسي قانون هغه حالت مقيدوي او دا مکلفيت رامنځته کوي چې له مخې يې د ملګرو ملتونو منشور، نړيوالې معاهدې، هغه نړيوال کنوانسيونونه چې افغانستان لاسليک کړي او د بشر حقونو نړيواله اعلاميه (اوومه ماده) رعايت او پلي کوي.

د ملي قوانينو تطبيق: په افغانستان کې زيات شمېر نافذ قوانين او پاليسی لا هم پخوانې افغان قوانين او همدارنګه نوي قوانين او پاليسی منعکسوي چې د نړيوالو مرستو پر بنسټ په تېرو شلو کلونو کې ترتيب او تصويب شوي دي. د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ د ۲۰۲۲ کال تر اپريل مياشت پورې د موجوده قوانينو او مقررو مطابق ترتيب شوی دی. دا پروژه به ټول هغه قوانين او پاليسی چې د نړيوال بانک د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ سره ټکر ونلري، تعقيب کړي. د تضاد او اختلافاتو د شتون په صورت کې او يا چېرته چې د افغانستان قوانين د نړيوال بانک د معيارونو سره تضاد يا مخالفت ولري، د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ به د پلي کېدو وړ وي.

که څه هم، د دولتي ادارو لکه د چاپېريال ساتنې ملي اداري مرکزي او ولايتي دفترونه او د طالبانو د سرپرست حکومت سره د پروژې د نه تعامل او د ملګرو ملتونو د منشور د اووم څپرکي پر بنسټ د امنيت شورا لخوا پر القاعده او طالبانو د بنديزونو د بهير له امله به د ځينو قوانينو رعايت او منل ستونزمن وي. دا په دې معنی ده چې دا پروژه به د امکان تر کچې د دې هېواد قوانين مراعتوي.

نړيوال کنوانسيونونه او تړونونه: افغانستان لاندې اړوند نړيوال کنوانسيونونه او تړونونه لاسليک کړي او تصويب کړي دي. که څه هم اوسنی حکومت په رسميت ندی پيژندل شوی او تر بنديزونو لاندې دی، خو بيا هم د نړيوالو کنوانسيونونو او تړونونو د دوام لپاره مسؤل ګڼل کېږي. په هر صورت، د پلي کولو ظرفيتونه خورا محدود دي.

- د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيون ۱۹۸۳.
- د ماشومانو د حقونو کنوانسيون ۱۹۸۹.
- پر ماشومانو د هر ډول شاقه کارونو کنوانسيون، ۱۹۹۹.
- د مساوي مزد او اجورې کنوانسيون، ۱۹۵۱.
- د اجباري کار د منسوخولو کنوانسيون، ۱۹۶۳.
- د کم عمر کنوانسيون، ۲۰۱۰.
- د بيولوژيکي تنوع کنوانسيون، ۱۹۹۳.
- د اقليم د بدلون کنوانسيون، ۱۹۹۲ (او په ۱۹۹۷ کال کې د کيوتو پروتوکول او په ۲۰۱۵ کال کې د پاريس تړون).
- د وچکالی پر وړاندې د مبارزې کنوانسيون، ۱۹۹۴.

- د خطر (انقراض) سره مخامخ بېلابېل ډوله وحشي ژوو او بوټو د نړیوال پېر او پلور کنوانسیون، ۱۹۷۳.
- د اوزون طبقې د خوندي ساتنې لپاره د ویانا کنوانسیون، ۱۹۸۸.
- د ملګرو ملتونو منشور- ۴۱ ماده، اووم څپرکی، چې د القاعده او طالبانو پر وړاندې د بندیزونو بنسټ دی.
- د خطرناکو کثافاتو او د هغوی د تصفیې د کنټرول په اړه د باسل د (۱۹۹۲) کنوانسیون- د دې کنوانسیون موخه د هېوادونو ترمنځ د خطرناکو او روغتیا ته د زیان رسوونکو کثافاتو د انتقال راکمول، له پرمختللو هېوادونو څخه لږ پرمختللو هېوادونو ته د دغه ډول کثافاتو د لېږد مخنیوی؛ د کثافاتو د مقدار او زهریت (سِمیت) کمول؛ د کثافاتو د تولید په ساحه یا ورسره نږدې ساحو کې د چاپېریال ساتنې له پلوه د سالم مدیریت رواجول؛ له لږو پرمختللو هېوادونو سره د چاپېریال ساتنې له پلوه د کثافاتو په سالم مدیریت کې له هغوی سره مرسته کول؛ د رادیو اکتیف کثافاتو مخنیوی نه کول؛

د نړیوال بانک د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ لارښوونې: نړیوال بانک د چاپېریال ساتنې او ټولنیز مدیریت لس معیارونه رامنځته کړي دي، چې د پروژې په جریان کې باید په پام کې ونیول شي، او په لاندې ډول دي. د چاپېریال ساتنې او ټولنیز مدیریت لاندې معیارونه د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام اړوند دي.

لومړی معیار: د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو او اغېزو ارزول او مدیریت؛ دویم معیار- د کارګرو او کار شرایط؛ دریم معیار- منابع او مؤثریت، د ککړتیا مخنیوی او مدیریت؛ څلورم معیار- د ټولنې روغتیا او خوندیتوب؛ لسم معیار- د ښکېلو اړخونو ګډون او د معلوماتو شریکول. د افغانستان د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام به د نړیوال بانک د ۲۰۰۷ کال د چاپېریال ساتنې، روغتیا او خوندیتوب لارښوونې هم تطبیق کړي. په دې لارښوونو کې د کاري اجراآتو هغه کچې او اندازې شتون لري، چې د نړیوال بانک لپاره د منلو وړ دي. په هغه صورت کې چې ملي مقررات په دې لارښوونو کې له وړاندې شویو کچو او اندازو سره توپیر ولري، پروژه مکلفه ده ترڅو هغه کچې او اندازې ترلاسه کړي، چې د نورو په پرتله ډېرې دقیقې او کره وي.

## 5. د چاپېریال او ټولنیز مدیریت په هکله لومړني معلومات (بېسلاین)

**اقلیم:** افغانستان د آسیا په مرکز کې په وچه کې پروت هېواد دی چې ۶۵۲۰۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري. دا هېواد نیمه وچ او صحرایي اقلیم لري او د پسرلي په موسم کې یې تودوخه په ټیټو برخو کې د ۳۰ سانتي ګرید درجو ترمنځ او په ژمي کې یې تودوخه په لوړو برخو کې له منفي ۲۰ څخه تر منفي ۴۰ درجو پورې وي. د اورښت اوسط کلنۍ کچه یې شاوخوا ۲۵۰ ملي متره ده، چې د شمال ختیځو برخو په لوړو ارتفاع ګانو کې له ۱۲۰۰ ملي مترو نیولې بیا په جنوب لویدیځو برخو کې یوازې تر ۶۰ ملي مترو پورې رسېږي او په دې توګه د هېواد په بیلابیلو برخو کې د پام وړ توپیر څرګندوي.

افغانستان د غرونو د پراخوالي او د څو اقلیمي سېستمونو د همغږۍ له امله د ایکوسېستمونو، د ځمکې د پوښښ او د اوبو سرچینو اغېزمنه تنوع لري.

**د اقلیم بدلون:** نړیوال بانک اټکل کوي چې افغانستان به د نړیوالې تودوخې له امله د نړۍ د اوسط کچې په پرتله زیاته تودوخه تجربه کړي.[4] د یادونې وړ ده چې د ۱۹۵۰ کال راپدېخوا د تودوخې په درجه کې ۱.۸ سانتي ګرید درجې زیاتوالی راغلی دی.

د دې هېواد زیات نفوس په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او زیاته برخه یې تر ډېره په ګټورو طبیعي سرچینو اتکاء کوي، چې

---

[4] ژلینا بجلیکا، کمول، نري کول او بیا کمول: افغان لوی جهیلونه تر ګواښ لاندې، جنوري ۲۰۲۱، په لاندې لینک د لاسرسي وړ ده:

https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/economy-development-environment/shrinking-thinning-retreating-afghan-glaciers-under-threat-from-climate-change/

له همدې امله د ځايي او نړيوالو پېښو او آفتونو (لکه وچکالی، طبيعي پېښو، اقليمي بدلون او په دښتو د حاصلخيزه ځمکو بدلېدو)، د ځمکي ښوئيدو او د خاورې او اوبو د ککړتيا له لارې د طبيعي سرچينو د کمېدو د اغېزو څخه خورا ډېر زيان وينې.

**توپوګرافي:** افغانستان په وچه کې راګير هېواد دی، چې د هندوکش غرونه يې له شمال ختيځ څخه د جنوب ختيځ په لور غځېدلي او شمالي ولايتونه د هېواد له نورو برخو څخه جلا کوي. د هندوکش د غرونو لړۍ تر ټولو لوړه څوکه نوشاخ نومېږي چې ۷۴۹۲ متره لوړوالی لري.

**د ځمکي سطحي اوبه او د ځمکي لاندې اوبه:** افغانستان څلور لوی سېندونه لري چې کابل، هريرود، امو او هلمند سېند څخه عبارت دي. همدارنګه ځيني کوچني سيندونه، جهيلونه او نهرونه هم لري. د افغانستان خطرناک اورښت د مارچ او اپريل په مياشتو کې شمالي لوړې برخې ډېرې زيانمنوي، خو په ټيټو برخو کې اورښت ډېر کم او اندازه يې اټکل شوې نه ده. که څه هم، افغانستان د واورو د ويلي کېدو او سيندونو، نهرونو او جهيلونو ته د دغو اوبو د جريان پيدا کولو له امله معمولاً د اوبو له کمښت سره نه مخ کېږي.

**طبيعي پېښې:** د ځمکي خوځېدو يا زلزلې فعاليت په زون کې د افغانستان د واقع کېدو له امله په دې هېواد کې ډېرى وخت زلزلې رامنځته کېږي. ويجاړونکي زلزلې د هندوکش په غرونو کې پېښېږي. د سيلابونو راوتل او د ځمکو ښوئيدل په غرونو او درو کې په ځانګړې توګه د پسرلي او اوړي په موسمونو کې هغه مهال تر ټولو لوی خطرونه دي کله چې واوره په ويلي کېدو پيل کوي او لوی جهيلونه له اوبو څخه ډکېږي او د چټکو سيلابونو لامل کېږي. همدارنګه دوامداره وچکالي او د خاورو او شګو بادونه او طوفانونه د پراخې ويجاړۍ لامل کېږي او په ټولو وګړو باندې اغېزې پرېباسي. د ژمي شديد وضعيت په کرنه او زيربناوو کې د زياتو زيانونو د رامنځته کېدو لامل کېږي. پورتني عوامل د چاپېريال ساتنې د خرابوالي ستونزه لا زياتوي او په ايکوسيستمونو باندې د فشار راتللو لامل ګرځي.

**ايکولوژي:** د افغانستان په ايکوسيستم کې څلور ډوله سيمې شاملې دي:

- په ځنګلونو پوښل شوې شنې سيمې
- ازادې ځنګلي سيمې
- نيمه دښتي
- نيمه غرنيزې او غرنيزې سيمې

يوې وروستۍ څېړنې دا سيمې په پنځلسو کوچنيو سيمو باندې ويشلې دي، چې څلور يې حساسې/په خطر کې، اته زيانمنونکې او دوه يې ثابتې دي.[5] د ټولو ساحو د انواعو ترکيب د زيات څړ، سونګ موادو راټولولو او د لويو وښو خوړونکو حيواناتو لخوا د څړ له امله د پام وړ راکم شوی دی.

په دې هېواد کې د ۳۵۰۰ څخه تر ۴۰۰۰ پورې د نباتاتو بيلابيلې نوعې شتون لري. دا نباتات لوړوالي يا ارتفاع ته په پام سره توپير کوي. د بېلګې په توګه د سفيد کوه د غرونو په لړيو کې د ۱۸۰۰ نه تر ۳۰۰۰ مترو لوړوالي کې لويې ځنګلي ونې لکه مخروطيان شتون لري، خو په ۱۰۰۰ متره ټيټ لوړوالي کې ښونان، د زيړو ګلانو بيلابيلې نوعې، د ښون کورنۍ وحشي ګلان او غزان شتون لري. د کندهار په پراخو او همواړو ټيټو ساحو کې د حبوباتو کورنۍ بوټي لکه، ببر بوټي يا غزان، اسټرالاګوس، سپايني ريسټ هارو (spiny rest-harrow)، نازک ميموسا او ارکيډ موندل کېږي. په تېرو لسيزو کې، د ځنګلونو د وهلو له امله د دې بوټو ۹۰ سلنه له منځه تللي دي.[6]

---

5 د ملګرو ملتونو د چاپېريال پروګرام، د چاپېريال ساتنې ملي اداره او GEF، د افغانستان د ژوندانه د تنوع پروفايل، جون ۲۰۰۸. په لاندې لينک د لاسرسي وړ دی:

https://postconflict.unep.ch/publications/afg_tech/theme_02/afg_biodiv.pdf

6 ويکي پيډيا، د افغانستان جغرافيه، په لاندې لينک د لاسرسي وړ دی: https://en.wikipedia.org/wiki/Geography_of_Afghanistan

افغانستان کې بېلابېل حیوانات شتون لري. شاوخوا د ۱۳۵ نه تر ۱۵۰ پورې د تي لرونکو حیواناتو نوعې، د ۴۲۸ نه تر ۵۱۵ پورې د مرغانو نوعې، ۹۲ نه تر ۱۱۲ پورې د خزنده گانو نوعې، ۶ نه تر ۸ پورې د ذومعشتینو نوعې، د ۱۰۱ نه تر ۱۳۹ پورې د ماهیانو او ۲۴۵ د پتنگانو (شوپرک) نوعې لري. په ټولیزه توګه د پورتنیو نوعو له ډلې ۳۹ نوعې د طبیعت ساتنې نړیوالې ادارې په سور لیست کې دي، ځکه دا نوعې په نړیواله کچه د ورکېدو او له منځه تللو له ګواښ سره مخ دي.[7]

**د ژوو د اوسېدو خوندي ځایونه:** افغانستان اوس مهال د ژویو د اوسېدو لپاره په قانوني توګه اداره کېدونکې او په اغېزناکه توګه مدیریت کېدونکي خوندي سیمې نه لري. د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام (UNEP) د ۱۵ هغو وړاندیز شویو خوندي سیمو لیست ترتیب کړی چې د بېلابېلو ادارو لخوا وړاندې شوی دی.[8]

**نفوس:** په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان ۴۷.۳ سلنه وګړو د فقر تر کرښې لاندې ژوند کاوه او ۳۴.۳ سلنه کار درلودونکو وګړو هره ورځ د ۱.۹۰ امریکایي ډالرو څخه ټیټ عاید درلوده. په ۲۰۲۰ کال د بې کارۍ ټولیزه کچه ۱۱.۷ سلنې ته رسېده.[9]

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته او د لسیزو جګړو او دوامداره طبیعي پېښو راپېدېخوا، د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې د اټکل پر بنسټ ۲۴.۴ میلیونه افغانان لومړنیو بشري مرستو ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۱ کال کې ۱۷.۷ میلیونه خلکو بشري مرستو ته اړتیا درلوده چې خوړو ته د شدیدې اړتیا درلودونکو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالي اصلي لامل د اقتصادي وضعیت او اساسي خدمتونو د پام خرابوالی او کموالی ګڼل کېږي. په ورته وخت کې په کلیوالي سیمو کې د خلکو په ژوندانه کې د بحران لامل وچکالي ده، خو اقتصادي زیانونو بیا په ښاري سیمو کې د خلکو معیشت زیانمن کړی دی[10].

ځینې کورنۍ او افراد په ځانګړې توګه له زیان سره مخ دي، چې په دې کې د کور د اړتیاوو پوره کولو لپاره پوروړي، د دماغي او فزیکي معلولیت لرونکي کسان، د ستونزو سره په منفي توګه مبارزه کوونکي او د ښځو، ماشومانو او یا سپین ږیرو لخوا سرپرست کېدونکي کورنۍ شاملې دي. [11]

**جنسیتي مساوات او جنسیتي تاوتریخوالی:** په افغانستان کې د جنسیتي نورمونو برخه د سیاست، سولې او امنیت د لیدلوري په مرکز کې ده او په دې توګه ښځې او انجونې د دې بحران په لومړۍ کرښه کې واقع دي. [12] د ښځو او انجونو پر وړاندې تاوتریخوالی له جنسیتي نابرابرۍ، تبعیض او زیان رسوونکو کلتوري او ټولنیزو نورمونو څخه سرچینه اخلي. د ښځو او انجونو پر وړاندې تاوتریخوالی او جنسیتي تاوتریخوالی په پراخه کچه زیات دی او راپورونه څرګندوي چې ۵۶ سلنه [13] ښځې د خپلو میړونو لخوا د تاوتریخوالي قرباني دي. په افغانستان کې ښځې او انجونې له دوامداره تبعیض، تاوتریخوالي، په لارو کوڅو کې ځورونو، اجباري او کم عمره ودونو، له کوره بهر کار کولو او زده کړو کولو له شدیدو بندیزونو او عدالت ته د محدود لاسرسي سره مخ دي. د کووېډ-۱۹ په شرایطو کې، د جنسیتي تاوتریخوالي خطرونه یواځې په افغانستان او د نړۍ په ځینو نورو برخو کې زیات شوي دي. [14]

---

7 د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام، د چاپېریال ساتنې ملي اداره او GEF، د افغانستان د ژوندانه د تنوع پروفایل، جون ۲۰۰۸، ۹ مخ.

8 د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام، د چاپېریال ساتنې ملي اداره او GEF، د افغانستان د ژوندانه د تنوع پروفایل، جون ۲۰۰۸، ۹ مخ.

9 آسیایي پرمختګ، افغانستان او د آسیا پراختیایي بانک، د بیوزلۍ معلومات: افغانستان، په لاندې لینک د لاسرسي وړ دی:

https://www.adb.org/countries/afghanistan/poverty

10 د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره، د بشري غبرګون پلان افغانستان، جنوري ۲۰۲۲، ۷ مخ، په لاندې لینک د لاسرسي وړ دی:

https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan-humanitarian-response-plan-2022.pdf

11 10 د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره، د بشري غبرګون پلان افغانستان، جنوري ۲۰۲۲، ۷-۸ مخ، په لاندې لینک د لاسرسي وړ دی

https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan-humanitarian-response-plan-2022.pdf

12 په افغانستان کې د ښځو حقونه، اوس موږ په کوم حالت کې یو؟ جنسیتي خبرداری د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره

13 د احصائیې مرکزي اداره/افغانستان، د عامې روغتیا وزارت/افغانستان، او ۲۰۱۷ (ICF). د افغانستان د وګړو د احصائیې او روغتیا سروې ۲۰۱۵.

14 د افغانستان د وګړو د احصائیې سروې ۲۰۱۵.

همدارنګه ښځې اقتصادي فرصتونو او سیاسي پروګرامونو ته له لاسرسي څخه بې برخې دي. په داسې حال کې چې د ښځو د کار کولو حق د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې تصریح شوی دی، د راپور له مخې د ۲۰۲۱ کال د اګسټ د ۱۵ نېټې راپدیخوا زیات شمېر ښځو دندې له لاسه ورکړي، چې لامل یې د ښځو په تګ راتګ باندې نوې بندیزونه او په عامه ځایونو کې د ښځو په ګډون د یو لړ شرایطو وضع کول ګڼل کېږي. [15] لیدل کېږي چې په زیاتو سکتورونو کې ښځو خپلې دندې له لاسه ورکړې، خو په ځانګړو دندو لکه رسنیو او مدني ټولنو کې د راپورونو له مخې د ښځو د کار حق پر وړاندې د اوسني دولت د چارواکو د درېځ له امله نورې ننګونې هم راپورته شوې دي. د یادونې وړ ده چې د ښځو د دندو او په کار کې د دوی د ونډې پر وړاندې د ځینو خنډونو لامل ناڅرګند حالت او د اوسني دولت د چارواکو لخوا په کارځایونو کې د ښځو د ښېړ ګډون په اړه د یو واضح درېځ په نشتون کې د کورنیو او مېرمنو لخوا د خپلو ځانونو سانسورول او بندول دي. په ټولیزه توګه، د اوسنیو چارواکو لخوا د حکومت واګې د ترلاسه کولو له امله، چې په بشپړه توګه دندو ته د مېرمنو د بېرته راستنیدو په برخه کې هیڅ روښانه طرحه او تګلاره نه لري، د ښځو د کار کولو حق په برخه کې د پام وړ شاتګ شوی دی. [16] د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام د جنسیتي نابرابرۍ د شاخص پر بنسټ، افغانستان د ۱۹۱ هېوادونو له منځه ۱۸۰مقام لري.[17]

## 6. د چاپېريالي او ټولنيزو احتمالي خطرونو او اغېزو په ګوته کول او ارزول او د خطر کمولو اقدامات

**د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې پروسه:** د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام کې د فرعي پروژې په کچه د فرعي پروژو د غیر مجاز لېست په وړاندې د هرې فرعي پروژې د ارزونې چاره لومړۍ مرحله ده او په دویمه مرحله کې د فرعي پروژې چاپېریالي او ټولنیزه ارزونه ترسره کېږي ترڅو احتمالي خطرونه او اغېزې یې په ګوته شي. د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې کارول کېدونکې ټمپلېټ یا نمونه په لومړۍ ضمیمه کې وړاندې شوې ده. دا نمونه د پروګرام د اضافي تمویل برخې لپاره مرور او اپډېټ شوېده.

د ارزونې پایلې د نامناسبو فعالیتونو په لرې کولو او د اټکل شویو خطرونو اغېزو پر بنسټ د وړ او مناسب فعالیتونو په ډلبندي کولو کې مرسته کوي. ټولې هغه فرعي پروژې چې د خپل موقعیت له امله پایداره نه وي او یا د هغو خطرونو او اغېزو درلودونکي وي چې د مخنیوي، کموالي او جبران وړ نه وي، د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام لخوا یې مالي تمویل نه کېږي.

د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې فورمه د اړوند هغه پلان په اړه لارښوونه وړاندې کوي، چې د فرعي پروژې لپاره د خطر کمولو اړین اقدامات په کې ذکر شوي دي (د بیلګې په توګه، د پروژې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان، د جنسیتي تاوتریخوالي، جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې کاري پلان، د کلتوري میراثونو د موندنې کړنلارې، د کارګرو د مدیریت کړنلارې او داسې نور ...). همدارنګه دا به د چاپېریال او ټولنیز خطر کمولو د لا زیاتو اقداماتو د تطبیق لپاره د اړتیا په ګوته کولو کې، د بیلګې په توګه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ساده او واضح پلان په شکل، مرسته وکړي. دا ساده شوی پلان د پروژې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان او د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د نورو سندونو پر بنسټ جوړېدای شي.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام کلیوالي برخه کې د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب ارزونې بهیر مشري د UNOPS اړوند د پروژې پلې کولو واحد سره په نږدې همغږۍ، د همکارې مؤسسې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت کارپوه لخوا کېږي. د همکارو مؤسسو لخوا د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې فورمونو له بشپړولو وروسته، دوی دا فورمونه د پروژې د معلوماتو

---

15 رویټرز، افغان ښځې باید د سړیو سره یوځای کار ونکړي، د طالبانو یو لوړ پوړی چارواکی وايي، د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر ۱۳، په دې لینک د لاسرسي وړ ده:
https://www.reuters.com/world/asia-pacific/exclusive-afghan-women-should-not-work-alongside-men-senior-taliban-figure-/says-2021-09-13

16 د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره، په افغانستان کې د ښځو حقونه، اوس موږ په کوم حالت کې یو؟ ډسمبر ۲۰۲۱، په دې لینک د لاسرسي وړ ده:
https://www.unwomen.org/sites/default/files/2021-12/Gender-alert-Womens-rights-in-Afghanistan-en.pdf

17 د UNDP اړوند د جنسیتي نابرابرۍ شاخص، په دې لینک د لاسرسي وړ ده: http://data.un.org/DocumentData.aspx?q=Gender+inequality+index&id=471

مدیریت سیستم MIS ته اپلوډ کوي. وروسته، د UNOPS اړوند د پروژې د پلي کولو واحد یو څو داني دا فورمونه چک کوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د چاپیریالي او ټولنیزو ابزارو چمتووالی په سمه توګه ترسره شوی دی.

د ښاري برخي لپاره، د چاپیریالي او ټولنیزې ارزوني بهیر د پروژې د پلي کولو واحد اړوند د چاپیریالي او ټولنیز مدیریت کارپوه له خوا چې ساحوي دفترونو کې مېشت دي، پرمخ وړل کېږي. وروسته، ټیم د ارزوني فورمي د بیاکتنې لپاره مرکزي دفتر کې د چاپیریالي او ټولنیز خوندیتوب کاپوره ته استوي.

په عمومي توګه، د پروژې ټیمونه به د امکان تر کچې د خطرونو او اغېزو اټکل او مخنیوی کوي. که دا چاره شوني نه وي، تر یوې منل شوې کچې پورې به د دغو خطرونو او اغېزو د کمولو لپاره هڅه کوي. د پام وړ پاتې اغېزو د موجودیت په صورت کې به د امکان تر کچې پورې د دوی لخوا جبرانېږي او که دا چاره شوني نه وي، نو دا فعالیت به نه تطبیقېږي.

**د پروژې د چاپیریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان نمونه:** په لومړۍ ضمیمه کې د اعدادو جدول د پروژې د چاپیریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان لپاره د خطر راکمولو بشپړ پلان لري. دا پلان د هر فعالیت لپاره د خطر د مخنیوي، کموالي او جبرانولو اقدامات په ګوته کوي. د خطر د کمولو جدول د احتمالي خطرونو او اغېزو، اړوندو نړیوالو غوره صنعتي کړنو، د خطر کمولو اقداماتو او هغو شاخصونو او پایلو یو ماخذ او سرچینه ده چې د پروژې په اوږدو کې طرحه او تطبیقېږي. دا خطرونه او اغېزې، د خطر کمولو اقدامات او د څارني شاخصونه د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د معیارونو له مخې ترتیب شوي دي.

**ساحي پورې اړوند د پروژې اړوند خطر کمولو اقدامات:** د چاپیریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان به د چاپیریال او ټولنیز خطر ارزوني پر بنسټ د ځانګړو فرعي پروژو او یا د پروژو د مجموعي لپاره د پروژې اړوند د چاپیریال او ټولنیز خطر راکمولو اقداماتو د چمتو کولو په موخه د یو بنسټ په توګه کارول کېږي. په دې پلان کې وړاندیز شوي اقدامات د غوره صنعتي کړنلارو پر بنسټ او د چاپیریال ساتني، روغتیا او خوندیتوب د لارښوونو څخه جوړ شوي عمومي اقدامات دي. هر فعالیت په ځانګړي وضعیت او شرایطو کې ترسره کېږي او خاصې ځانګړتیاوې لري، چې د پروژې اړوند د چاپیریال او ټولنیز خطر راکمولو اقداماتو لکه د پروژې اړوند د چاپیریال او ټولنیز مدیریت ساده شویو پلانونو په چمتو کولو کې به په پام کې ونیول شي، او دا پلانونه باید د هر ډول ساختماني فعالیت (لکه د ځمکې پاکول، د قراردادي بسیجول او داسې نور) ترسره کېدو دمخه ترتیب شي. د خطر کمولو نور اقدامات د اټکل شویو خطرونو او اغېزو د کچې په پام کې نیولو سره زیاتېدای شي او د څارني میکانیزمونه د فرعي پروژې له پیل څخه مخکې تنظیمېږي. د نمونې د بشپړولو او د فرعي پروژې د پلانونو لپاره لومړۍ ضمیمې ته مراجعه وکړئ.

**د کارګرو د مدیریت کړنلارې:** دا پروژه د رغنیزو کارونو لپاره د ګمارل کېدونکو کارګرو بیلابیلو ډولونو ته په پام سره د کارګرو خطرونه او اغېزې لري. په دې خطرونو او اغېزو کې د کاري روغتیا او خوندیتوب موضوعات، شاقه او اجباري کارونه، د کارګرو ترمنځ شخړې، تبعیض او د زیان سره مخ او محرومو خلکو ویستل او د جنسیتي تاوتریخوالي اړوند ستونزې شاملې دي. د دغو خطرونو د راکمولو لپاره د کارګرو د مدیریت ځانګړې کړنلارې ترتیب شوي دي (څلورمې ضمیمې ته مراجعه وکړئ). د دې کړنلارو موخه د پروژې د ټولو کارګرو لکه، د پروژې د مستقیمو کارګرو، قراردادي کارګرو، لومړنیو عرضه کوونکو کارګرو او ټولنیزو کارکوونکو لپاره د ځایي قوانینو د اړینو شرایطو او د نړیوال بانک د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار سره سم د کارګرو د واضح او روښانه کړنلارو جوړول دي.

د کاري روغتیا او خوندیتوب غوښتنو سره سم، د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو PPE پروپوزل په اوومه ضمیمه کې وړاندې شوی دی. د پروګرام د لومړي جزء فرعي پروژې تر چتر لاندې فعالیتونو لپاره د اړتیا وړ شخصي خوندیتابه تجهیزاتو په اړه د مفصلو معلوماتو لپاره دغې ضمیمې ته مراجعه وکړئ، ترڅو د چاپیریالي او ټولنیزو مدیریتي کړنو سره همغږي یقیني شي.

**د کلتوري میراثونو د موندنې کړنلارې:** د چاپیریال او ټولنیز مدیریت اتم معیار د پروژې په شرایطو کې اړوند معیار نه دی. سره له دې چې افغانستان بډایه کلتوري میراثونه لري، په ځانګړو موقعیتونو کې د رغنیزو کارونو پر مهال د دغو کلتوري توکو او اجناسو د اغېزمن کېدو خطرونه شته، چې د دغو خطرونو د راکمولو لپاره د کلتوري میراثونو د موندنې کړنلارې ترتیب شوي دي (د زیاتو معلوماتو لپاره دریمې ضمیمې ته مراجعه وکړئ).

**د جنسیتي تاوتریخوالي، جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې کاري پلان:** د پروژې د فعالیتونو د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې اړوندو خطرونو او اغېزو د راکمولو لپاره د جنسي استثمار او ناوړه ګټې

اخیستنې او جنسي ځورونې یو کاري پلان ترتیب شوی دی. دا پلان د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې شکایتونو ته د رسېدنې لپاره یو منظم چینل لري او د مخنیوي میکانیزمونه وړاندې کوي. دا کاري پلان به د پروژې د ټولو تطبیقوونکو ادارو لخوا په جدي توګه تعقیب شي.

**د ښکیلو اړخونو ګډون او د معلوماتو شریکول:** د دې پروژې لپاره د ښکیلو اړخونو د ګډون یو جلا پلان ترتیب شوی دی. د ښکیلو اړخونو ګډون او د معلوماتو شریکول د سلامشورو او معلوماتو د شریکولو برخه کې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د لسم معیار مطابق یوه جوړه شوې، موخه ایزه او په کلتوري توګه مناسبه لاره چاره تعریفوي. د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره د پروژې د ښکیلو اړخونو مختلف او متفاوت خطرونه او توقعات درک کوي او په بیلابیلو ظرفیتونو کې چې دوی له پروژې سره سروکار لري، هر ښکیل اړخ ته د رسېدنې لپاره د یوې لارې چارې د جوړولو په لټه کې ده.

**د پروژې شکایتونو ته رسېدنې میکانیزمونه:** ملګري ملتونه په افغانستان کې د آواز افغانستان (آواز) په نوم د شکایتونو اورېدو یو غوره میکانیزم لري، چې د ملګرو ملتونو د بیلابیلو ادارو او بشري مرستو ادارو په استازولۍ د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر لخوا پلی کېږي. آواز د حساب ورکونې یو مشترک او د ټولنې د ګډ کار پروګرام دی، چې له فیس پرته په ټول هېواد کې د (۴۱۰) شمېرې په درلودلو سره زیانمن شوي وګړي کولای شي ژبه ورته ووهي او د بشري مرستو د پروګرامونو په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولري او خپل فیډبک ثبت کړي.
"د افغانستان آواز" د دوه اړخیز ارتباطي چینل په توګه، له ساحې څخه راپورته شوې اړتیاوې او لومړیتوبونه اړوندو ښکېلو اړخونو ته لېږدوي ترڅو په افغانستان کې د پروګرام جوړونې کیفیت ښه والي کې مرسته وکړي.

همدارنګه "د افغانستان آواز" د عامو اصولو پر بنسټ ولاړ سیستم دی یعنې د شکایتونو او فیډبیک ترلاسه کولو او حل کولو او د معلوماتو خوندي کولو لپاره خپلې پروسې او پالیسی لري او د شکایتونو د راجع کولو یو بین الاداراتي میکانیزم لري. د. افغاستان آواز سیستم د اندیښنو حل کولو لپاره د لاسرسي وړ، مرستندویه، چټک او مؤثره سیستم په توګه ډیزاین شوی دی آواز د ۱۰ بیلابیلو ژبو پرمخ وړونکي کسان لري (چې ۵۰ سلنه یې ښځینه دي) او د ۲۰۱۸م کال مې میاشتې راهیسې یې ۲۰۱۴۱۲ اړیکو ته ځواب ورکړی دی. د آواز استازي په دري، پښتو، اردو، انګلیسي او نورو ژبو خبرې کوي. له ډېلو او همکارو ادارو سره د مراجعې د میکانیزمونو په جوړولو سره هغه قضیې چې پاملرنې ته اړتیا لري، په ټاکلي وخت (د زیانمن شوي شخص په موافقه) شریکیږي، او له بشري غبرګون سره مرسته کوي څو په چټکۍ سره خپل خدمتونه له حقیقي اړتیاوو سره برابر کړي. د آواز په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره [https://awaazaf.org](https://awaazaf.org) ته مراجعه وکړئ.

په دري کټګوریو کې، شکایتونو ته د رسیدنې جوړښتونه رامنځته شوي دي چې په لومړۍ سطحه کې د کلي په کچه شکایتونو ته د رسیدنې ټیمونه، په دویمه کچه کې د همکارې مؤسسې او په دریمه سطحه کې په مرکزي کچه شکایتونو ته د رسیدنې ټیمونه چې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو میکانیزمونو له مخې فعالیت کوي. د هر شکایت کوونکي شخص لپاره د استناف غوښتنې په موخه شرایط شته دي او هر زیانمن اړخ کولای شي په مرکزي کچه شکایتونو ته د رسیدنې ټیم ته مراجعه وکړي. د شکایتونو ته د رسیدنې ټیمونو جوړښت د پروژې د فعالیتونو له پیل څخه مخکې د مشورو پر بنسټ ترسره شوی دی.
که څه هم، د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژه کې د "آواز افغانستان" او نورو موجودو میکانیزمونو څخه ګټه اخیستل شوېده، خو د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت لسم معیار نورو اړتیاوو پوره کولو په موخه، د دې پروژې لپاره په دې سیستم کې د پورته یادو شویو اصولو او لاندې پړاوونو په اساس لا ښه والی رامنځته شو.

- **لومړی پړاو: د شکایتونو د سپارلو لارې چارې:** د پروژې ښکېل لوري کولای شي له بېلابېلو لارو شکایتونه راپور او شکایت کوونکو ته د شکایتونو په هکله معلومات (فیډبک) ورکړي. شکایت کوونکی هم کولای شي د شکایت د حل پاره تر ټول مؤثره مرجع او د شکایت د ثبت لپاره تر ټولو اسانه لار غوره کړي او ترڅنګ یې هغو جزئي ښکېلو اړخونو ته د شکایت سپارلو څخه ډډه وکړي چې د لاس لرلو شکمنتیا پرې ولري. همدارنګه شکایت کوونکي باید دا هم وکولای شي چې د شکایت سپارلو ځینې هغه لارې چې د دوی په فکر احتمالا غیرځواب ورکوونکي یا غرضي دي، له پامه وغورځوي. یعنې شکایت کوونکي کولای شي خپل شکایتونه د ټېلفون (۴۱۰) شمېرې، ټیلفوني پیغام، برېښنالیک، شکایتونو ته د رسیدنې فورمې ډکولو، شفاهي ډول، لیکلي یا کتبي شکل د پلي کوونکو ادارو د وېبپاڼو، د مرستې مېزونو او د فرعي پروژې ساحه کې د شکایتونو صندوقونو له لارې پلي

کوونکو ادارو ته وسپاري. له نوم پرته شکایتونه هم سپارل کېدلای شي. د شکایتونو سپارلو ټولې لارې باید په درې او پښتو ژبو کې د شکایتونو د وړاندې کولو اسانتیاوې برابرې کړي.

همدارنګه، د همکارو مؤسسو لخوا د فرعي پروژو د تطبیق ساحو کې د شکایتونو اورېدو په موخه د مرستې میزونه رامنځته شویدي. د مرستې مېز له لارې اغېزمن شوي ښکېل لوري کولای شي د پروژې د فعالیتونو په هکله خپلې پوښتنې مطرح کړي او ترځنګ یې په مستقیم ډول کولای شي د مرستې مېز مسؤل شخص ته خپل شکایتونه وسپاري.

سربېره پردې، د هرې فرعي پروژې ساحه کې به د کلي په کچه شکایتونو ته د رسېدنې ټیمونو غړي هم شتون ولري. له دوی څخه به غوښتنه وشي چې د پروژې اړوند رسمي شکایتونه ومني او ډاډ تر لاسه کړي چې خلکو ته د شکایتونو ثبت کولو ځای د لاسرسي وړ وي. د کلي د خلکو ټولو احتمالي شکایتونو تر لاسه کولو لومړنۍ مسؤلیت شکایتونو ته د رسېدنې ټیمونو غړو په غاړه دی. شکایتونو ته د رسېدنې ټیمونو ته په کار ده چې رسمي شکایتونه تر لاسه یا کولای شي شکایت کوونکی ته د شکایتونو د ثبت شمېره ورکړي یا یې د مرستې مېز یا یې د وړاندیزونو سپارنې صندوق ته رهنمایي کړي.
د مرستې مېزونو کارکوونکو، شکایتونو ته د رسېدنې ټیمونو غړو او د شکایتونو د ثبت لپاره د تلیفوني اړیکو کارکوونکو لپاره د پروژې د پلي کوونکي اداري لخوا (ا) د شکایتونو ثبت کولو؛ (ب) شکایت کوونکو سره د تعامل او اړیکو؛ (ج) د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې/جنسي ځورونې اړوند مسائلو ته د مناسبو غبرګونونو؛ (د) د کارکوونکو شکایتونو او (هـ) د پروژې د اجزاوو او همکارو مؤسسو په هکله روزنه ورکول کیږي.

- **دوهم پړاو: د شکایتونو ترتیب او طی مراحل کول:** ټول تر لاسه شوي شکایتونه په ځایي کچه د اړوندې همکارې مؤسسې شکایتونو ته د رسېدنې فوکل پاینټ یا په مرکزي کچه د پلي کوونکي واحد فوکل پاینټ ته استول کیږي. شکایتونو ته د رسېدنې فوکل پاینټ لخوا شکایتونه تر کټګورۍ کولو وروسته اړوند واحد ته راجع کیږي او ترځنګ یې شکایتونه په هماغه فارمټ کې ثبتوي چې د پروژې د پلي کولو واحد لخوا کارول کیږي.
- **درېم پړاو: د شکایت د تر لاسه کولو تائید او تعقیب:** د شکایت له سپارلو وروسته د درې ورځو په ترڅ کې، شکایتونو ته د رسېدنې مکانېزم فوکل پاینټ لخوا شکایت کوونکي سره اړیکه نیول کیږي او د شکایت د حل لپاره د ترسره کېدونکو احتمالي اقداماتو او حل نېټې په هکله معلومات وړاندې کیږي. د اړتیا په صورت کې که شکایت د پروژې پلي کوونکي واحد څخه بهر حل ته اړتیا درلوده نو په دې صورت کې شکایت کوونکي ته د کړنلارې او د هر پړاو اټکلي مهالویش په هکله هم معلومات ورکول کیږي.
- **څلورم پړاو: د شکایت تصدیق کول، څېړل، اقدام او اسناد کول:** په دې پړاو کې د شکایت په هکله معلومات راټولول شامل دي څو د موضوع شاوخوا حقایق معلوم کړي او د شکایت اعتبار تصدیق کړي او وروسته وړاندیز شوې حل لاره وړاندې کیږي. ډېری شکایتونه په دې پړاو کې حل کیږي. د تېرو ذکر شویو او راتلونکو پړاوونو په جریان کې ټول ترسره شوي فعالیتونه او د شکایتونو ثبت کتاب کې د شکایتونو ټولې حل لارې مستند کیږي. که چېرې کوم شکایت په دې پړاو کې نه حل کیږي، راتلونکي مرحلې یا کچې ته راجع کیږي.
- پنځم پړاو: څارنه، ارزونه او راپور ورکول: د شکایتونو د څارنې پروسه د شکایتونو د تعقیب او حل په لور د پرمختګ ارزولو څخه عبارت ده. د پروژې هره پلي کوونکي اداره به د شکایتونو د ثبت یو کتاب جوړ او ځان سره ولري او ټول هغه پړاوونه چې د شکایتونو د حل لپاره اخیستل شوي وي ثبت کیږي او په دې توګه به اداره وکولای شي چې د شکایتونو په هکله هر ډول پوښتنو او فیډبک ته ځواب ووایي. شکایتونو ته درسېدنې مېکانېزم معلومات راټولیږي او په ټولو کچو کې په میاشتنې ډول راپور کیږي.

د څارنې دریمګړې اداري لخوا د ښکېلو اړخونو د مشارکت پلان او شکایتونو ته د رسېدنې مکانېزم تطبیق په ګډون د ټولې پروژې پلي کولو او د پروژې د پایلو په اړه خپلواکه عملیاتي بیاکتنه ترسره کیږي. د پروژې پلي کوونکي واحد لخوا د څارنې دریمګړې ادارې او پلي کوونکو شریکانو له لوري د ترسره شویو بیاکتنو ټول راپورونه او موندنې توحید کیږي او د راپور وړاندې کېدونکي نمونه کې د ښکېلو اړخونو د مشارکت برخې په یو ځانګړي څپرکي کې د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د پرمختګ عمومي راپور جوړوي. پروژه خپل راپور په درې میاشتنې ډول وړاندې کوي.

- شپږم پړاو: شکایت کوونکي ته د شکایت په هکله د معلوماتو (فیډبک) ورکول: **په دې پړاو کې شکایت کوونکو ته د هغوی لخوا د سپارل شویو شکایتونو، اندېښنو او مسائلو د حل په تړاو معلومات ورکول کیږي. د شونتیا په**

**صورت کې، شکایت کوونکو ته باید په حضوري شکل د وړاندیز شوي حل په هکله معلومات ورکړل شي په دې توګه شکایت کوونکو ته د تعقیقي پوښتنو مطرح کولو یو فرصت ورکول کیږي. که شکایت کوونکي د شکایت د حل څخه راضي نه وو، په دې صورت کې هغوی ته د نورو لارو په هکله معلومات ورکول کیږي. شکایتونو ته د رسیدنې مېکانیزم د هېڅ ډول قضایي او اداري لارو چارو ته د لاسرسي مخنیوی نه کوي. هر شکایت د ترلاسه کولو موده وروسته باید د ۳۰ ورځو په ترځ کې حل او د ـحل شوي، بېرته اخیستل شوي یا راجع شوي- په توګه ثبت شي.**

**د امنیتي خطر مدیریت:** د امنیتي خطرونو مدیریت پروسې د پروژې په عملیاتي لاربسود کې وړاندې شوي دي.

**د چارو د مسؤلیتونو جدول:**

د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو د مدیریت عمومي مسئولیت او حساب ورکونه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې په غاړه ده؛ خو لاندې جدول کې د فرعي پروژې په کچه د بېلابېلو اسنادونو چمتو کولو په ګډون د همکارو مؤسسو او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې دندې او مسئولیتونه مشخص کیږي.

په لاندې جدول کې، "مسئول" هغه اړخ ته ویل کیږي چې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت او پروسې د څارنې، مدیریت، او بریالیتوب ډاډ ورکولو لومړنۍ دنده یا مکلفیت په غاړه لري؛ ترڅنګ یې "حساب ورکونکی" هغه اړخ دی چې د مدیریت، تصمیم نیونې، اړینو اقداماتو ترسره کولو، اړتیا وړ منابعو برابرولو، او د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو د پېژندنې، ارزونې، او راکمولو لپاره حساب ورکونکی ګڼل کیږي.

**د مسؤلیتونو جدول: د لومړي جزء (کلیوالي) برخې لپاره**

**مسئول (R)، بررسي شوی (Re)، حساب ورکوونکی (A)، خبر شوی (I)، سلا شوی (C)، پلي کوونکی (Im)**

| ګڼه | کړنې/فعالیتونه | د یونَپس دفتر | همکاره مؤسسه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ډاډ ترلاسه کول چې د چاپېریالي او ټولنیزو خوندیتوبونو او د کاري روغتیا او خوندیتوب شرایط له همکارو موسسو سره په قراردادونو کې شامل شوي دي. | R, A | Re, Im | نړیوال بانک د چاپېریالي او ټولنیزو معیارونو/ د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ژمنتیا پلان د پلي کېدو اړوند پرمختګ د پروګرام د تطبیق د ملاتړ ماموریتونو په ترڅ کې ارزوي. |
| ۲ | د همکارو مؤسسو لپاره د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت او د کاري روغتیا خوندیتوب برخو کې د روزونکو د روزنې برنامې او ترېنګونه په لاره اچول | R, Im | I, C | |
| ۳ | همکارو مؤسسو ته په کار ده چې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت برخې یو متخصص وګماري، او دومره کافي منابع چمتو کړي ترڅو د فرعي پروژو د چاپېریالي او ټولنیزو چارو ارزونه ترسره کړي او د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت چوکاټ او د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان له مخې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت او د کاري روغتیا خوندیتوب تدابیر پلي کړي. | Re, C | R, Im, A | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | د غیر مجاز فرعي نوملړ/چک لست له مخې د فرعي پروژو ارزونه ترسره کول | Re, C | R, Im, A | |
| ۵ | د هرې فرعي پروژې لپاره د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب ارزونې بهیر باید ترسره شي، ترڅو چاپېریالي او ټولنیز خطرونه په ګوته او د خطرونو د راکمولو لپاره مناسب تدابیر وړاندیز او په ساحه کې پلي شي. | Re, C | R, Im, A | |
| ۶ | د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې په MIS سېستم کې د فرعي پروژې د پروپوزل د یوې برخې په توګه د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب ارزونې معلومات اپلوډ کول | Re | R, Im, A | د UNOPS اداره د کیفیت د ډاډمنتیا په موخه معلومات په نمونه ای شکل ګوري او د همکارو مؤسسو د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب ارزونې معلومات مرور کوي. |
| ۷ | څارنه: همکاري مؤسسې د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو د راکمولو اقداماتو د تطبیق څارنه ترسره کوي. | Re, C | R, Im, A | د UNOPS اداره د ساحوي لیدنو ترسره کولو په ترڅ کې په نمونه ای ډول د اسنادونو بیاکتنه ترسره کوي څو د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب اسنادونو سره د پروژو د ټولو پلي کوونکو مطابقت او سمون ډاډمنتیا ترلاسه کړي.<br>همکاري موسسې باید د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب اسنادونو سره په سمون کې د خپلو فرعي قراردادیانو او عرضه کوونکو څارنه او نظارت وکړي. |
| ۸ | راپور ورکول | Re, C | R, Im, A | همکاري موسسې خپل میاشتني او څلور میاشتني راپورونه د UNOPS اداري ته وړاندې کوي.<br>د UNOPS اداره خپل کلني راپورونه نړیوال بانک ته استوي. |
| ۹ | د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب او د کاري روغتیا او خوندیتوب روزنې په زنجیره ای شکل د کلي ټولو نماینده ګانو او کاریګرو ته وړاندې کول او په ساحه کې یې د روزنې سوابق/اسناد ساتل. | Re, C | R, Im, A | د UNOPS اداره د نمونه ای بررسي په ترڅ کې د وړاندې شویو روزنو اسناد ګوري. |
| ۱۰ | د چلند د اصولو برابرول | R | Im, A | نړیوال بانک د چاپېریالي او ټولنیزو معیارونو/د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ژمنتیا پلان د پلي کېدو اړوند پرمختګ د پروګرام د تطبیق د ملاتړ ماموریتونو په ترڅ کې ارزوي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | د همکارو مؤسسو کارکوونکو لخوا د چلند د اصولو لاسلیک کول | Re, C | R, Im, A | همکارې موسسې خپلو کارکوونکو ته د چلند د اصولو په هکله روزنه ورکوي او ډاډ ترلاسه کوي چې ټول کارکوونکي د چلند پر اصولو پوهیږي. د دې ترڅنګ، همکارې موسسې د روزنې سوابق او اسناد ساتي. |
| ۱۲ | همکارې موسسې اړ دي چې د خپلو کارکوونکو لپاره د شخصي خوندیتابه اړین تجهیزات او د لومړنیو مرستو کڅوړنه د اړوند پروپوزل له مخې برابر کړي. | Re, C | R, A, Im | نړیوال بانک د چاپېریالي او ټولنیزو معیارونو/د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ژمنتیا پلان د پلي کېدو اړوند پرمختګ د پروګرام د تطبیق د ملاتړ ماموریتونو په ترڅ کې ارزوي. |
| ۱۳ | د پېښو راپور ورکول: د پېښو راپورونه چمتو او د UNOPS ادارې ته وړاندې کول او په هکله يې د اړتیا په صورت کې د همغږۍ په غونډو بحث کول. | Re, C | R, Im, A | |
| ۱۴ | نړیوال بانک ته د پېښو راپور وړاندې کول | R | C,I | |
| ۱۵ | د پېښې د اصلاحي کاري پلان پلي کول | Re,C,I | R, Im | |

**جدول: د دویم جزء (ښاري) برخې لپاره**


| ګڼه | کړنې/فعالیتونه | د UNOPS اداره | همکاره مؤسسه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د غیر مجاز فرعي نوملړ/چک لست له مخې د فرعي پروژو ارزونه ترسره کول | R, A | Im | نړیوال بانک د چاپېریالي او ټولنیزو معیارونو/د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ژمنتیا پلان د پلي کېدو اړوند پرمختګ د پروګرام د تطبیق د ملاتړ ماموریتونو په ترڅ کې ارزوي. |
| ۲ | د هرې فرعي پروژې لپاره د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب ارزونې بهیر باید ترسره شي، ترڅو چاپېریالي او ټولنیز خطرونه په ګوته شي. | R, A | Im | |
| ۳ | د پروژې د پېژندل شویو خطرونو او اندازې له مخې او د خطرونو د راکمولو اقداماتو سره مل د فرعي پروژې لپاره د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت ځانګړي پلان چمتو کول. | R, A | Im | |
| ۴ | د قراردادونو اسنادو کې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب شرایط: ډاډ ترلاسه شي چې د داوطلبي ټول اسناد او قراردادونه کې د پلي کوونکو لخوا د چاپېریالي او ټولنیزو خوندیتوبونو شرایط د رعایت شرایط شامل وي او ترڅنګ يې د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو د کمولو اقدامات او د پلي کولو بودیجه د ساختماني کارونو | R, A | Im | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | قراردادونو کې شامل وي. | |
| | R | Re, C | قرارداديان خپلو اړوندو فرعي قراردادیانو او عرضه کوونکو ته د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب ټولو شرايطو او مسؤليتونو په هکله د معلوماتو ورکولو مکلفيت لري. | ۵ |
| | Im | R, Re, A | څارنه: د يونَپس دفتر د چاپېريالي او ټولنيزو خطرونو د کمولو اقداماتو د پلي کولو څارنه ترسره کوي. يونَپس دفتر د ساحوي ليدنو په ترڅ کې اسنادونه ګوري او چک کوي چې آيا ټول قرارداديان د چاپېريالي او ټولنيزو خونديتوبونو اسنادو او د پروژو اړوند د خطرونو د کمولو اقداماتو سره تطابق لري او که نه. | ۶ |
| | C | R | راپور ورکول: د يونَپس دفتر څلور مياشتني راپورونه نړيوال بانک ته استوي. | ۷ |
| | Re,Im | R, A | د قراردادیانو په قراردادونو کې د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب او د کاري روغتيا او خونديتوب شرايطو شاملولو څخه ډاډمنتيا ترلاسه کول. | ۸ |
| | Im | R, A | د قراردادیانو لپاره د کاري روغتيا او خونديتوب په ګډون د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب په هکله د روزنو+معلوماتي روزنو په لاره اچول. | ۹ |
| کارکوونکو ته لومړی د يونَپس دفتر د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب+ کاري روغتيا او خونديتوب روزنه ورکوي او وروسته بيا قراردادي همدا روزنه د پروژې د پلي کولو پر مهال کارکوونکو ته ورکوي. | R,Im | R,A | د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب او د کاري روغتيا او خونديتوب روزنې په زنجيره ای شکل ټولو کاريګرو ته وړاندې کول او په ساحه کې يې د روزنې سوابق/اسناد ساتل. | ۱۰ |
| نړيوال بانک د چاپېريالي او ټولنيزو معيارونو/د چاپېريال او ټولنيز مديريت د ژمنتيا پلان د پلي کېدو اړوند پرمختګ د پروګرام د تطبيق د ملاتړ ماموريتونو په ترڅ کې ارزوي | R, A | Re | په مؤثره ډول د کاري روغتيا او خونديتوب قواعدو د رعايت په موخه د قراردادیانو مهم کارکوونکي او کارګران بايد د چلند د اصولو پاڼه لاسليک کړي. | ۱۱ |
| | R | Re | د پېښو راپور وړاندې کول: د پېښو راپورونه چمتو او د يونَپس دفتر ته وړاندې کول او په هکله يې د اړتيا په صورت کې د همغږۍ په غونډو بحث کول. | ۱۲ |
| | C,I | R | نړيوال بانک ته د پېښو راپور وړاندې کول | ۱۳ |
| | R, Im | Re,C,I | د پېښې د اصلاحي کاري پلان پلي کول | ۱۴ |

## 7. اداري ترتيبات او څارنه او ارزونه

**اداري ترتيبات:** د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره به په مستقیم ډول د نړیوال بانک سره قرارداد کوي او د هر ډول همغږۍ رامنځته کولو، د ځايي سازمانونو او قراردادیانو سره د تدارکاتي ترتیباتو، د کلیو سره د ګډ کار، امانت ساتنې، د کارکوونکو ګمارنې، روزنیزو پروګرامونو او د چاپیریال او ټولنیز مدیریت، د کیفیت د تضمین، څارنې او راپور ورکولو، او د تخنیکي مرستي د فعالیتونو د مدیریت کولو مسؤلیت په غاړه ولري. د کليوالي برخي تر چتر لاندې، دا پروژه د غیر دولتي سازمانونو د شبکي (همکارو مؤسسو) له لارې تطبیقیږي، چې په افغانستان کې د نړیوال بانک د اوږد مهاله ګډون څخه زیاتي تجربي او درسونه ترلاسه کوي. د ښاري برخه پر بنسټ، دا پروژه په مستقیمه توګه او د ځايي خصوصي قراردادي شرکتونو لخوا چې د ازادو داوطلبیو له لارې ګډون کوي، پلي کیږي. د ښارونو د پانګوني پروګرام او په افغانستان کې د کارموندنې (EZ-Kar) پروژې تجربي د عامه کارونو لپاره د ښه قراردادي ظرفیت ښودنه کړې ده. له قراردادي شرکتونو سره په ګډ کار او ګډون سره دا پروژه د دوی د ظرفیت په پایداره پاتې کیدو کې مرسته کوي. ځايي ټولنه او د کلیو نماینده ګان به د پروژو په ټاکنه او نظارت کې ونډه ولري.

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره به د پروژې پلي کوونکي واحد ولري، چې په یاد واحد کې به هغه کارکوونکي شامل وي چې یو شمیر کلیدي دندې لکه: د پروګرام او قرارداد مدیریت، مالي مدیریت، تدارکات، د ټولني بسیجول او روزنه، انجینري کارونه، راپور ورکول، څارنه او ارزونه، سمیه ایزه همغږي، جنسیت، شکایتونو ته رسیدنه او د چاپیریال او ټولنیز خطر مدیریت پرمخ وړي.




شکل: د مالي مرستو جریان

همکار غیر دولتي سازمانونه به کلیو د نماینده ګانو په استازولۍ، د کلیو د نماینده ګانو بانکي حسابونو ته د دغو مرسته شویو پیسو د لیږدولو پرته، دا پیسي مدیریت کوي.

د پروژې د پلي کولو واحد په د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام لومړي پړاو کې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت یو کارپوه ګمارلی و چې دغه کارمند به د پروګرام د اضافي تمویل برخه کې هم کار کوي. د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې اضافي تمویل برخې تر چتر لاندې په ولایتي کچه د کلیوالي برخې لپاره د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت دوه کارپوهان او د ښاري برخې لپاره پنځه کارپوهان ګمارل کیږي ترڅو په کلیوالي او ښاري برخو کې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت چوکاټ پلي کولو او پیاوړي کولو ترڅنګ قراردادیانو او همکارو موسسو لپاره د روزنې پروګرامونه هم وړاندې کړي. د پروګرام په لومړي پړاو کې د زون په کچه څلور ګمارل شوي امنیتي فوکل پاینټونه د پروګرام د اضافي تمویل برخې لپاره ساتل کیږي او د زون په کچه به یوازې یو اضافي امنیتي فوکل پاینټ وګمارل شي، چې ټولټال به پنځه امنیتي فوکل پاینټان شي. دغه فوکل پاینټان به له همکارو موسسو او ښاري برخې قراردادیانو سره د عمومي امنیتي خطرونو په مدیریت کې مرسته کوي. د مهرباني له مخې په دې هکله د اداري جوړښت په اړه لومړي جدول ته مراجعه وکړئ.

د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت کارکوونکي د فرعي پروژو د ټولو پلي کوونکو د څارنې او ارزونې مسئولیت په غاړه لري ترڅو د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت اسنادونو سره د ټولو فعالیتونو مطابقت او سمون ډاډمن کړي. دوی په منظم ډول له ټولو شریکانو څخه د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت اړوند راپورونه ترلاسه او د نړیوال بانک لپاره د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت څلور میاشتني راپورونه چمتو او وړاندې کوي.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام د اضافي تمویل/تمدید شوي برخې لپاره، همکارې مؤسسې د خپلو قراردادونو تر چتر لاندې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب مدیریت یو کارکوونکی او د روغتیا او خوندیتوب یو کارکوونکی د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت چوکاټ شرایطو پلي کولو لپاره ګماري.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام په لومړي پړاو کې شکایتونو ته د رسېدنې دوه پخواني ګمارل شوي Senior Associates کارکوونکي به د همکارو مؤسسو اړوند شکایتونو ته د رسېدنې فوکل پاینټانو سره په ګډه د پروژې اړوند شکایتونو ته د رسېدنې مېکانېزم لپاره کار کوي.

د شکایتونو د اورېدو مرکز د پرمخ بیولو لپاره به د اړیکو د مرکز یو کارکوونکی په قراردادي توګه په دنده وګمارل شي او د ټولنیز متخصص تر نظارت لاندې به خپلې چارې ترسره کوي. ټولې همکارې مؤسسې او د ښاري برخې ټول قراردادیان اړ دي چې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب یو یو کارپوه وګماري ترڅو د کافي سرچینو برابرولو له لارې او د ESMP او ESMF شرایطو په رڼا کې د فرعي پروژې اړوند د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو ارزونه او د چاپېریالي، روغتیا او خوندیتوب خطرونو کمولو اقدامات ترسره کړي.

**څارنه او ارزونه:** د چاپېریال او ټولنیز خطر کمولو اقداماتو او پایلو د تطبیق د څارنې عمده موخه د دې ډاډ رامنځته کول دي چې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت دا چوکاټ او د پروژې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت نور قوانین او مقررات د پروژې د ټولو همکارانو او شریکانو لخوا تطبیق او رعایت شوي دي. دا موخه د پروژې د ټول کار موده تر پوښښ لاندې راولي. د نظارت فعالیتونه د PIU دچاپېریالي او ټولنیز مدیریت کارکوونکو لخوا د نظارت او ارزیابۍ کارپوه په همکارۍ ترسره کیږي. دغه کارکوونکي د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب د ټولو اړوندو شاخصونو (چې په پورته جدول کې ذکر شوي دي) څارنه کوي، ځکه چې دا شاخصونه د فرعي پروژې د اړوندې همکارې مؤسسې یا قراردادي لپاره د پلي کېدو وړ دي. د فرعي پروژې ځانګړو خطرونو او اغیزو ته په کتو، ښایي د خطرونو او اغېزو راکمولو اضافي تدابیر او شاخصونه هم وټاکل شي. نظارت کې تر ډېره د اسنادو بیاکتنه او د پروژې ځایونو کې نمونه ای بررسي او نظارت شامل دي.

د هر ډول پیښو او حادثو په هکله راپور ورکول او پلټنې د (د چاپېریالي او ټولنیزو پېښو ته د غبرګون اسنادو ESIRT) له مخې ترسره کیږي. همدارنګه، د پیښې په هکله د لومړنیو معلوماتو شریکول او پلټنه او د پېښې د اصلي لامل تحلیل د ترسره کولو مهال ویش باید د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د ژمنتیا پلان ESCP د هوکړو سره سم ترسره شي.

د څارنې یوه دریمګړې اداره به د فعالیتونو په څارنه کې مرسته وکړي او د دې ډاډ به رامنځته کړي چې مرسته شوې پیسې مطلوبو ګټه اخیستونکو ته رسېدلې او فعالیتونه د دولت په کنټرول کې نه دي. د یادې ادارې په فعالیتونو کې به د ساحې په کچه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت، د خطر کمولو اقداماتو او د ټولو تطبیقوونکو ادارو لخوا د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب د ټولو قوانینو او مقرراتو د رعایت څخه څارنه شامل وي. نړیوال بانک په افغانستان کې د څارنې یو دریمګړی پروګرام جوړ کړی، چې اعتباري کنټرولونه او د پروژې نظارت او همدارنګه په ساحه کې له نږدې څارنه تر پوښښ لاندې نیسي. د څارنې دا پروګرام د روڼتیا او حساب ورکونې د زیاتولو په موخه له ډیجیټلي پروګرامونو او سیسټمونو څخه کار اخلي.

په پای کې، د کليو نماينده ګان به د ټولنيز ځار، د حساب ورکونې ځايي ميکانيزمونو او شکايتونو ته له رسېدنې سره مرسته وکړي. ياد نماينده ګان د ځارنې او شکايتونو اوريدلو ارتباطي اشخاص ټاکلې چې د کار پرمختګ او د خلکو د فيډبک په اړه غير دولتي سازمانونو ته په منظم ډول راپور ورکوي.

د ځارنې او ارزونې سيستم به د جدي ځارنې او راپور ورکولو د مهالويش پر بنسټ وي، چې د ټولو تطبيقوونکو ادارو لخوا راپور ورکول په کې شامل دي.

## 8. د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ لپاره تخمين شوې بودجه

د چاپېريال او ټولنيز مديريت د دې چوکاټ تطبيق به لاندې تخمين شوي لګښتونه ولري. د امنيتي خطر د مديريت لګښتونه په جلا توګه محاسبه شوي دي.

لومړی جدول: د چاپېريال او ټولنيز مديريت د پلان د تطبيق بودجه

| د چاپېريال او ټولنيز مديريت فعاليتونه | |
|---|---|
| د چاپېريال او ټولنيز مديريت کارپوهانو ګمارل: | |
| د کارکوونکو لګښتونه | د پروګرام د پلي کولو واحد (PIU) د وړ کارکوونکو او منابعو سره د پروګرام د چاپېريالي او ټولنيزو خطرونو او اغېزو د مديريت ملاتړ لپاره، په لاندې ډول شامل دي:<br>- يو تن د چاپېريال ساتنې او ټولنيز خونديتوب کارپوه په مرکزي دفتر کې ؛<br>- پنځه تنه د چاپېريال ساتنې او ټولنيز خونديتوب کارپوهان - د پروګرام د دويمې برخې تر چتر لاندې د ښاري سيمو د ځارنې د پياوړي کولو او د روزنيزو غونډو وړاندې کولو لپاره.<br>- يو تن د چاپېريال ساتنې او ټولنيز خونديتوب کارپوه - د پروګرام د لومړۍ برخې تر چتر لاندې د کليوالي سيمو د ځارنې د پياوړي کولو او د روزنيزو غونډو وړاندې کولو لپاره.<br>- يو تن د جنسيت برخې کارپوه.<br>- يو تن د جنسيتي تاوتريخوالي اړوند شکايتونو ته د رسېدنې کارپوه.<br>- درې تنه د جنسيتي تاوتريخوالي روزنې سلاکاران.<br>- دوه تنه شکايتونو ته د رسېدنې مېکانيزم لوړپوړي کارکوونکي – شکايتونو ته د رسېدنې مېکانيزم پر مخ وړلو او غير دولتي سازمانونو او قرارداديانو ته د روزنو وړاندې کولو لپاره؛ او<br>- په پنځو زونونو کې پنځه تنه د امنيتي برخې کارکوونکي.<br><br>ټولې همکارې مؤسسې او د ښاري برخې ټول قراردادیان اړ دي چې د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب يو يو کارپوه وګماري ترڅو د کافي سرچينو برابرولو له لارې او د ESMP او ESMF شرايطو په رڼا کې د فرعي پروژې اړوند د چاپېريالي او ټولنيزو خطرونو ارزونه او د چاپېريالي، روغتيا او خونديتوب خطرونو کمولو اقدامات ترسره کړي. |
| | د چاپېريالي او ټولنيز مديريت چوکاټ د تطبيق لګښت د پروګرام د تمديد وروسته د ټولې مودې لپاره ۲.۷ ميليونه امريکايي ډالر اټکل شوی دی او لاندې موارد تر پوښښ لاندې |

| | |
|---|---|
| | راولي.. |
| **روزنه او ظرفیت لوړونه:** | |
| د ټولو شپږو همکارو مؤسسو او ۱۲۰ قراردادیانو لپاره روزنو او وړتیا لوړولو پروګرامونو په لاره اچول | |
| د همکارو مؤسسو او قراردادیانو لخوا د کارکوونکو لپاره د چاپیریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب(E&S) او د کاري روغتیا او خوندیتوب (OHS) په اړه د روزنې ترسره کول | |
| **د عامه پوهاوي کمپاین:** | |
| د یونَپس دفتر او همکارو مؤسسو لخوا په کلیو کې د عامه پوهاوي کمپاینونو په لاره اچول | |
| **سلا مشورې او د معلوماتو شریکول:** | |
| د یونَپس دفتر او همکارو مؤسسو لخوا په ټولو ولسوالیو/کلیو/د پروژې په سایټونو کې مشورتي غونډې | |
| **شکایتونو ته د رسېدنې مېکانېزم:** | |
| شکایتونو ته د رسېدنې ټېلیفون شمېرې/شکایتونو سپارلو لارو لګښتونه | |
| **د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ د تطبیق څارنه او اسنادو برابرول** | |
| څارنه او سوپرویژن په دې موخه ترسره کیږي چې د فرعي پروژې په کچه په سم کیفیت سره د چاپیریالي او ټولنیز مدیریت اسنادونو جوړېدول تائید شي او ترڅنګ یې معلوم شي چې په ESMP کې د وړاندیز شویو اقداماتو له مخې د خطرونو او اغېزو د کمولو اقدامات په مناسبه توګه تطبیق کیږي. | |
| **د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې د کاري پلان تطبیق :** | |
| د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې د کاري پلان تطبیق لپاره بودجه | |

## 9. روزنه او ظرفیت لوړونه

د پروژې په کچه، نړیوال بانک به د اړتیا په صورت کې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري کارکوونکو لپاره د چاپېريالي او ټولنيز مديريت چوکاټ په اړه روزنيزې ناستې وړاندې کړي او ترڅنګ يې د پروژې د پلي کولو په جريان کې بياځلي روزنيزې غونډې هم ترسره کېدلای شي.

د روزنې او ظرفيت لوړولو پلان د روزنې اړتياوې او پلان شوې روزنيز فعاليتونه تشريح کوي ترڅو د دې ډاډ ترلاسه شي چې ټولې تطبيق کوونکې اداري او ګټه اخيستونکي کلي د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ او د چاپېريال ساتنې او ټولنيز خونديتوب نورو قوانينو او مقرراتو پلي کولو ته چمتو دي. دا روزنيز پروګرامونه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د کارکوونکو، تطبيق کوونکو غير دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو د ظرفيتونو د لوړولو په موخه ترسره کېږي. د پروژې د تېرې مرحلې د تطبيق څخه د لاسته راغلو تجربو پر اساس، په دې پلان کې د همکارو مؤسسو او قراردادیانو لپاره په ظرفيت لوړونه کې زياتوالى راغلى دى.

**د ظرفيت لوړولو اړتياوې:** د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري او ټولو غير دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو د روزنې او ظرفيت لوړونې ځانګړې اړتياوې عبارت دي له: (الف) د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټ او د پروګرام د چاپېريال او ټولنيز مديريت د قوانينو او مقرراتو روزنه؛ (ب) د ښکيلو اړخونو ګډون ؛ (ج) چاپېريالي او ټولنيزه ارزونه؛ (د) کاري روغتيا او خونديتوب؛ (ر) د بيړني حالت پر مهال چمتووالى او غبرګون؛ (س) د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې/جنسي ځورونې مخنيوى او د خطر کمول؛ (ص) د چاپېريال او ټولنيز مديريت چوکاټونو تطبيق، څارنه او راپور ورکول؛ (ط) د کارګرو د مديريت کړنلارې؛(ع) پېښه او د پېښې راپور ورکول. د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري او ټولو تطبيق کوونکو ادارو ته به د پروژې پلي کوونکي څانګه د چاپېريال او ټولنيز متخصص او يا د دې موخې لپاره ګمارل شويو بيروني سلاکارانو لخوا روزنه ورکول کېږي. د چاپېريال او ټولنيز مديريت کارپوهان د ToT روزنې د دې ډاډمنتيا ترلاسه کولو په موخه وړاندې کوي څو همکارې مؤسسې او قراردادیان وکولای شي دغه اړوندې روزنې په زنجيره ای شکل نورو ترلاس لاندې کارکوونکو ته ورسوي. د دې لپاره چې روزنې په زنجيره يي شکل تر نورو ورسيږي، په همدې موخه د ټولو اړوندو روزنو او د ظرفيت لوړونې شرايط د همکارې مؤسسې او قراردادیانو په تړونونو کې شامليږي.

د ګټه اخيستونکو، ځايي کليو او د پروژې لخوا زيانمن شويو لورو لپاره د روزنې او ظرفبت لوړونې ځانګړې اړتياوې عبارت دي له : الف) د کلي د روغتيا او خونديتوب موضوعات؛ ب) د بيړني حالت پر مهال چمتووالى او غبرګون؛ ج) د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې/جنسي ځورونې په اړه عامه پوهاوى، مخنيوى، د خطر کموالى او غبرګون؛ د) د کوويډ-۱۹ مخنيوى؛ د) شکايتونو ته د رسېدنې ميکانيزم. دا روزنيز پروګرامونه به کليو ته د همکارو مؤسسو (د امکان په صورت کې د غير دولتي سازمانونو او د قراردادي شرکتونو) لخوا ورکول کېږي.

د پروژې کارګرو لکه ټولنيزو کارکوونکو، د کار په بدل کې د نغدو پيسو کارکوونکو او داسې نورو ته به هم نور روزنيز پروګرامونه برابرېږي. په يادو روزنيزو پروګرامونو کې دا موضوعات شامل دي: الف) کاري روغتيا او خونديتوب؛ ب) د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې/جنسي ځورونې په اړه عامه پوهاوى؛ ج) د چال چلند اصول؛ د) د کارګرو د مديريت کړنلارې؛ ر) د کاري وسايلو په اړه خبرې (لکه د شخصي محافظتي تجهيزاتو په اړه)؛ ص) پېښه او د پېښې راپور ورکول؛ ط) د کارګرو شکايتونو ته د رسېدنې ميکانيزم. دا روزنيز پروګرامونه په مستقيم ډول د قراردادي شرکتونو لخوا کارګرو ته ورکول کېږي. که چېرې قراردادي شرکتونه په يوه ځانګړې موضوع کې ظرفيت ونلري، د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د پروژې پلي کوونکې څانګه يا تطبيق کوونکې اداره به د روزنې مسؤليت په غاړه اخلي.

**د روزنې او ظرفيت لوړولو پلان:** د چاپېريال ساتنې او ټولنيزې ژمنتيا د پلان او د پروژې د فعاليتونو اړوند مشخص شويو اړينو شرايطو پر بنسټ، لاندې روزنيز پروګرامونه او د ظرفيت لوړولو درسونه ترسره کېږي.

۲ جدول: د روزنې او ظرفيت لوړونې پلان

| د روزنې موضوع | ټاکلې ډله | مهالويش | د روزنې د برابرولو مسؤل | تخمين شوې لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| **د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري، غير دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو لپاره روزنيز پروګرامونه** | | | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ او د پروګرام د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د قوانینو او مقرراتو روزنه | همکاري مؤسسې او قراردادیان | د فعالیتونو د پیل څخه مخکې او د پروژې د تطبیق په ترڅ کې بیاځلي | د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د پروژې پلي کوونکي څانګه | د فعالیتونو د پیل څخه مخکې شپږ روزنیز پروګرامونه د همکارو مؤسسو او ۱۲۰ روزنیز پروګرامونه د قراردادیانو لپاره<br><br>د همکارو مؤسسو لپاره بیاځلي روزنیز پروګرامونه |
| د ښکیلو اړخونو مشارکت | | | | |
| چاپېریالي او ټولنیزه ارزونه | | | | |
| کاري روغتیا او خوندیتوب | | | | |
| د بیړني حالت پر مهال چمتووالی او غبرګون | | | | |
| د جنسیتي تاوتریخوالي/جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې مخنیوی او د خطر کمول | | | | |
| د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټونو تطبیق، څارنه او راپور ورکول | | | | |
| د کارګرو د مدیریت کړنلارې | | | | |
| پېښنه او د پېښې راپور ورکول. | | | | |
| **د کلیو لپاره روزنیز پروګرامونه** | | | | |
| د کلي روغتیا او خوندیتوب | کلي | د فعالیتونو د پیل څخه مخکې او د پروژې د تطبیق په ترڅ کې بیاځلي | د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د پروژې پلي کوونکي څانګه/همکاره مؤسسه/قراردادي | د فعالیتونو د پیل څخه مخکې ۸۰ روزنیز پروګرامونه او ۱۶۰ بیاځلي روزنیز پروګرامونه (دوه روزنیز پروګرامو د پروګرام د تطبیق په جریان کې) |
| د بیړني حالت پر مهال چمتووالی او غبرګون | | | | |
| شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم. | | | | |
| **د کارګرو لپاره روزنیز پروګرامونه** | | | | |
| کاري روغتیا او خوندیتوب | د پروژې ټول کارکوونکي | له کار پیلولو سمدلاسه وروسته | د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د پروژې پلي کوونکي څانګه/همکاره مؤسسه/قراردادي | د اړتیا په صورت کې |
| د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې په اړه عامه پوهاوی | | | | |
| د چال چلند اصول | | | | |
| د کارګرو د مدیریت کړنلارې | | | | |
| د کاري وسایلو په اړه خبرې (لکه د شخصي محافظتي تجهیزاتو په اړه) | | | | |
| پېښنه او د پېښې راپور ورکول | | | | |
| د کارګرو شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم | | | | |

## لومړۍ ضمیمه: د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې فورمه، د چاپېریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان او سایټ پورې ځانګړې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان نمونه

**د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې فورمه:**

1. د پروګرام د لومړۍ جزء لپاره د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب ارزونې فورمونه جوړ شوي دي. د کلیوالي سیمو فرعي پروژې کې باید د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان (۴ جدول ته مراجعه وکړئ) کې د خطرونو او اغېزو راکمولو وړاندیز شوي اقدامات شامل کړي. د یونَپس دفتر لخوا د نمونې ای ارزونو او پرله پسې نظارت په ترڅ کې، د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې د فورمونو کیفیت د خطرونو د راکمولو ټاکل شویو اقداماتو له مخې ارزول کیږي. نړیوال بانک به هم د ټولو حمایوي ماموریتونو په ترڅ کې د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب ارزونې فورمونو نمونې مرور کوي.
2. د پروګرام د لومړۍ جزء تر چتر لاندې د فرعي پروژو لپاره سایټ پورې ځانګړې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلانونه اړین نه دي.
3. د پروګرام د دویم جزء ښاري برخې د فرعي پروژو لپاره د چاپېریالي او ټولنیزې ارزونې چک لېسټونه او سایټ پورې ځانګړې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلانونه اړین دي.

۳ جدول: د چاپېریالي او ټولنیزي ارزونې فورمه

| | |
|---|---|
| **د فرعي پروژې د پېژندنې شمېره/عنوان** | **کلی/سیمه** |
| **د پروژې نوعیت (ډول)** | **ولسوالي/ښاروالي** |
| **د کلي د ذیدخل نماینده نوم (د شتون په صورت کې)** | **ولایت** |
| **د فرعي پروژې د پیل نېټه** | **د فرعي پروژې د پای نېټه** |
| | |

| **د فرعي پروژې ماهیت** | | **د فرعي پروژې کټګوري** | | | | **احتمالي خطر** | **اړوند اغېزې کومې دي؟** | **د خطر کمولو اقدامات او د څارنو شمېر** |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **شمېره** | **د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پایلې** | **هیڅ او مثبته اغېزه** | **کمه اغېزه** | **متوسطه اغېزه** | **زیاته اغېزه** | | | |
| ۱ | آیا د دې پروژې د فعالیتونو تطبیق د هوا د ککړتیا لامل کیږی؟ که ځواب "هو" وي؛ د هوا د ککړتیا منبع څه ده؟ | | | | | | | |
| ۲ | آیا د دې پروژې د فعالیتونو تطبیق د غږیزې ککړتیا لامل کیږی ؟ که ځواب "هو" وي؛ د هوا د ککړتیا منبع څه ده؟ | | | | | | | |
| ۳ | آیا د دې پروژې د فعالیتونو تطبیق | | | | | | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د غونډیو د مخ په ځوړې برخو د پرې کولو او د کیندل شویو ساحو څخه د موادو/خاورې لرې کولو لامل کیږی؟ که ځواب "هو" وي؛ آیا دا کیندل شوې ساحې رسمي منظورې شوې ساحې دي؟ | | | | | | | |
| ۴ | آیا د دې پروژې د فعالیتونو تطبیق به داسې جامد او مایع کثافات رامنځته کړي چې د ځمکې د سطحې اوبو او د ځمکې لاندې اوبو منابعو د ککړتیا لامل شي؟ که ځواب "هو" وي؛ | | | | | | | |
| ۵ | آیا د فرعي پروژې ساحې ته نږدې د چاپیریال له پلوه مهمې ساحې (خوندي ساحه، ځنګلونه، ملي پارکونه یا اوبه لرونکې ځمکې) شته؟ | | | | | | | |
| ۶ | آیا د دې فرعې پروژې د فعالیتونو تطبیق به د شنو ځایونو او ونو د له منځه وړلو لامل کیږي؟ که ځواب "هو" وي؛ راتلونکي ترسره کېدونکي پړاوونه/کارونه کوم دي. | | | | | | | |
| ۷ | آیا د دې فرعې پروژې د فعالیتونو تطبیق به له خطر او ګواښ سره مخ نوعو پر وړاندې یو ګواښ دی؟ | | | | | | | |
| ۸ | آیا دا فعالیت د مالدارۍ د کموالي لامل کیږي؟ | | | | | | | |
| ۹ | آیا د کیندنې او ښکار کړنې چاپیریال اغېزمنوي؟ | | | | | | | |
| ۱۰ | آیا ټاکل شوی سایټ د سېلابونو له خطر سره مخ دی؟ | | | | | | | |
| ۱۱ | آیا ټاکل شوی سایټ د برف کوچونو او تیږو ښویېدنو له خطر سره مخ دی؟ | | | | | | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | آیا د دې فرعي پروژې د فعالیتونو تطبیق د اوبو د کیفیت او کمیت د پراخو بدلونونو لامل کیږی؟ | | | | | | | |
| ۱۳ | آیا د دې فرعي پروژې د فعالیتونو تطبیق د اوبو د جریان د بدلون لامل کیږي؟ | | | | | | | |
| ۱۴ | آیا د ابیاری په موخه د ځمکي لاندې اوبو د راویستلو لپاره کوم سیستم (لکه څاه ګانې) کارول کیږي؟ | | | | | | | |
| ۱۵ | آیا د فرعي پروژې د تطبیق مرحله کې د اوبو له ویالې څخه اوبه اړوي چې د ښکته پرتو کلیو لپاره د اوبو د ونډې د کموالي لامل کیږي؟ | | | | | | | |
| ۱۶ | آیا د اوبو راویستلو په موخه د برېښنايي/سولري سیستمونو د چلولو لپاره ټول کال کافي اوبه شته؟ | | | | | | | |
| **د کاري روغتیا او خوندیتوب پایلې** | | | | | | | | |
| ۱۷ | آیا کار پورې د تړلو حادثو خطر شته دی؟ (لکه په لوړوالی کې کار کول، کیندنه/بیا ډکول، بارول/کوزول، سنګکاري/خشتکاري، د تیرو ټوټه کول/ تیره پرته له مسالې وچه اېښودل، د ګبیون نصب کول، کانکریټ کاري، پلستر/انګاف کاري، د کانال بیارغونه/پاکول، بند یا تړلی ځای، د ماشینونو فعالیتونه، د توکو او تجهیزاتو لاسي انتقال، جغل اچول، او داسې نور.) | | | | | | | |
| ۱۸ | آیا دا فعالیت د رغوني پر مهال یا له هغي وروسته د انسانانو لپاره د روغتیا او خوندیتوب خطرونه لري؟ | | | | | | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ایا د فرعي پروژې لپاره ټاکل شوی ځای کې د ماینونو، ناچاودو مهماتو، یا د جګړې پاتې شونو چاودیدونکو توکو خطر شته دی؟ | | | | | | | |
| ۲۰ | آیا د پروژې د کارګرو او په ساحه کې د جایدادونو لپاره کوم امنیتي خطر شته؟ | | | | | | | |
| **ټولنیزې پایلې** | | | | | | | | |
| ۲۱ | آیا د پروژې د ګټو لکه کاري فرصتونو، زېربیناوو او روزنیزو پروګرامونو او داسې نورو څخه د زیانمنو خلکو د اخراج خطر شته؟ | | | | | | | |
| ۲۲ | آیا پر ماشومانو د شاقه کارونو یا اجباري کارونو خطر شته؟ | | | | | | | |
| ۲۳ | آیا د پروژې د کاریګرو او ګټه اخیستونکو لپاره د جنسیتي تاوتریخوالي، جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې خطر شته؟ | | | | | | | |
| ۲۴ | آیا د دې فرعي پروژې لپاره ځمکې یا د کارونو د پرمختیا لپاره د ځمکې استملاک (دولتي یا شخصي ځمکه په موقتي یا دایمي ډول) ته اړتیا شته؟ | | | | | | | |
| ۲۵ | آیا دا فرعي پروژه به د خلکو ترمنځ شخړې رامنځته کړي؟ | | | | | | | |
| ۲۶ | ایا دغه فرعي پروژه په داسې ځای کې تطبیق کیږي چې په مستقیم ډول به د فرد یا کلي پر فصلونو، ونو، څارویو، یا نورو عایداتي فعالیتونو مستقیم اغېز ولري؟ | | | | | | | |
| ۲۷ | آیا په نږدې ساحو کې کوم کلتوري او لرغوني آثار شته؟ | | | | | | | |
| ۲۸ | آیا د هغو اقتصادي سرچینو (لکه | | | | | | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مالڅر، کبانو د نیولو ځایونه، ځنګلونه) د کارولو څخه به کوم څوک چې منظم لاسرسی يې ورته درلود، منع شي ؟ | | | | | | | |
| ۲۹ | آيا کيدای شي دا پروژه هغه کلي او له زيان سره مخ خلک سخت اغېزمن کړي چې په دې ساحه کې ژوند کوي؟ | | | | | | | |

**پاملرنه:**

1. د "خطر نلري" لپاره د " X" علامه وکاروئ.
2. د "کم خطر لري" د " X" علامه وکاروئ.
3. د "متوسطې کچې خطر لري" لپاره د " X" علامه وکاروئ. د ټيټې کچې اغېزې لرونکې فعاليتونه هغه فعاليتونه دي چې تاثيرات يې د مديريت وړ وي.
4. د "له متوسطې کچې پورته خطر لري" لپاره د " X" علامه وکاروئ. د متوسطې کچې اغېزې لرونکي فعاليتونه هغه فعاليتونه دي چې زياتې بودجې او پلان جوړونې، د خطر کمولو اقداماتو تطبيق او څارنې ته اړتيا لري ترڅو احتمالي اغېزې يې راکمې کړل شي.
5. د "لوړې کچې خطر لري" لپاره د " X" علامه وکاروئ. د لومړې کچې خطر لرونکي فعاليتونه د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام تر چتر لاندې نه تمويل کيږي.

| |
|---|
| دلته د اړتيا په صورت کې د فرعي پروژې د سايټ يو انځور اضافه کړئ |
| د دې چک لیست ډکوونکي انجينر/د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب کارپوه/ټولنيز کارکوونکي نوم: |
| د ارزونې نېټه: |
| لاسليک: |

## د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان نمونه:

د چاپیریال او ټولنیز مدیریت لاندې پلان د ټولو فرعي پروژو لپاره عام دی او د پروژې ساحې اړوند د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د پلان د جدول ترتیبولو په موخه د پلي کوونکو لپاره د یو لارښود په توګه کار کولای شي.

۴ جدول: د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان نمونه

| **احتمالي خطرونه او اغېزې** | **د خطر کمولو وړاندیز شوي اقدامات** | **مرحله** | | | **د څارنې شاخصونه** | د څارنې ترسره کولو مهالوېش | | | د تطبیق او څارنې مسؤلیت | تخمین شوی لګښت [18] |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلان جوړونه | رغونه | اجرآت | | دوامداره | | | | |
| د پروژې له ګټو څخه له زیان سره د مخ ډلو (لکه بیوزله ښځو او په هېواد کې د جنګ ځپلو او امنیتي وضعیت له امله بې ځایه شوي خلک) ویستل. | د پروژې شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم تطبیقوي او څارنه یې کوي | X | X | | شکایتونو ته د رسېدنې اړوند د وړاندې شویو او حل شویو شکایتونو سلنه | | | X | تطبیق/څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره | |
| د کاري روغتیا او خوندیتوب اړوند خطرونه: د کار اړوند پېښې (ټپي کېدل، مړینې، د ناوچادو توکو له امله ټپي کېدل، د شدیدي تودوخې یا یخنۍ خطر، د غیر خوندي اوبو د څښاک له امله ککړتیا او داسې نور.)<br>د کار کولو تر ټولو بد وضعیت او شرایط: غیر خوندي کاري چاپیریال | په کارونو کې کارول شوي تجهیزات باید هره ورځ وکتل شي او ترمیم شي ترڅو د سم او خوندي کار ډاډ یې تر لاسه شي.<br><br>په کارځایونو کې قراردادي شرکت او کارکوونکو او لیدونکو ته د اخطاریې په موخه د خوندیتوب د نښو کارول.<br><br>کارګرو او کلیوالو ته د خطر د بشپړو نښو برابرول او له دوی سره شریکول. | | X | | د پېښې/پېښې د ثبت کتابونو شتون<br><br>له پېښو وروسته د پېښې د اصلي سبب/لاملونو د تحلیل د بشپړتیا سلنه<br><br>د کاري روغتیا او خوندیتوب د موضوعاتو په اړه روزل شویو کارګرو شمېر | X | X | | تطبیق: قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |

.

18 په دې مرحله کې لګښتونه په بشپړه توګه معلومیدای نشي. دا لګښتونه به د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د فعالیت اړوند پلانونو کې د هر فعالیت لپاره محاسبه کېږي.

| احتمالي خطرونه او اغېزې | د خطر کمولو وړاندیز شوي اقدامات | مرحله | | | د څارني شاخصونه | د څارني ترسره کولو مهالوېش | | | د تطبیق او څارني مسؤلیت | تخمین شوی لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلان جوړونه | رغونه | اجراآت | | دوامداره | | | | |
| | د لومړنیو مرستو د کیټونو برابرول | | | | د خوندیتوب د خطر د ارزونې د راپورونو سوابق<br><br>د کاري روغتیا او خوندیتوب د پلان د یوې برخې په توګه د خوندیتوب د ترسره شویو بحثونو سوابق<br><br>د پروژې په سایټ کې د لومړنیو مرستو د کیټونو موجودیت<br><br>د تېر مهال پېښنو او نا اټکل شویو پېښنو سوابق<br><br>د کاري روغتیا اوخوندیتوب په اړه ورکړل شوي روزنه | | | | | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پر ماشومانو شاقه او اجباري کارونه | د کارگرو د مدیریت کړنلارو رعایتول (څلورمه ضمیمه وګورئ)د لاندې مواردو په ګډون:<br><br>د هر ډول کار لپاره د لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ټاکل (د ملي قوانینو او د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار سره سم) او د ګمارلو وروسته د کارګرو د عمر لیکل<br><br>د داوطلبی په بهیر کې د قراردادیانو د پخوانی سابقې د تعقیب پلټنه ترسره کول (د روغتیا او خوندیتوب د سرغړونو، جریمو، د کارګرو د حقونو د سرغړونو اړوند عامو اسنادو په پام کې نیولو سوابق او نور) | X | X | | د سرغړونو شمېر (پر ماشومانو شاقه او اجباري کار)<br><br>د ټولو قراردادیانو د کارګرو د عمر د تائیدی د موجوده/ساتل شویو ثبت کتابونو شمېر<br><br>د عامه پوهاوي کمپاینونو شمېر | | X | | تطبیق: قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |

| احتمالي خطرونه او اغېزې | د خطر کمولو وړاندیز شوي اقدامات | مرحله | | | د څارنې شاخصونه | د څارنې ترسره کولو مهالوېش | | | د تطبیق او څارنې مسؤلیت | تخمین شوی لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلان جوړونه | رغونه | اجراآت | | دوامداره | | | | |
| | پر ماشومانو شاقه کارونو کې د نه ښکیلیدو او شریکېدو په اړه د کلیو/عرضه کوونکو د عامه پوهاوي لوړول | | | | | | | | | |
| د ګرد او دوړو له منځه وړل (د هوا کیفیت) | د اوبو د شیندلو او ځمکې لوندولو په وسیله د اړتیا په صورت کې د ګرد او دوړې له منځه وړل<br>د کار ځای پاکول؛ د خاورو خځلو جارو کول<br>د درنو ماشینونو لپاره د سرعت محدودیت تطبیقول<br>د دوړې او ګرد د خپرېدو د مخنیوي په موخه په ترپال سره د خاورې، شګې او تیګو وړونکو لویو موټر پوښول | | X | | د اوبو د شیندلو شواهد<br><br>د هغو لاریو شمېر چې ترپال پرې کش شوی وي | | X | | تطبیق: قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |
| د کثافاتو رامنځته کېدل (مایع، جامد، خطرناک)، د بیلګې په توګه د تېلو په واسطه چلېدونکو تجهیزاتو او ماشینونو له استفادې څخه | په پروژه کې د باطله دانی برابرول<br><br>په کټوره توګه د موادو کارول<br><br>د کثافاتو او باطله موادو د تولید مخنیوی او کمول<br><br>له غورځولو مخکې د کثافاتو د بیاکاروني څخه ډاډ ترلاسه کول<br><br>د کثافاتو او باطله موادو په مدیریت کې د کارګرو روزل | | X | | په پروژه کې د باطله دانیو شمېر<br><br>د کثافاتو د پېښو/اچولو شمېر<br><br>په ساختماني پروژو کې د څښاک د پاکو اوبو اسانتیاوو شمېر | | X | | تطبیق: قراردادي شرکتونه<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |

| احتمالي خطرونه او اغېزي | د خطر کمولو وړاندیز شوي اقدامات | مرحله | | | د څارنې شاخصونه | د څارنې ترسره کولو مهالوېش | | | د تطبیق او څارنې مسؤلیت | تخمین شوی لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلان جوړونه | رغونه | اجراآت | | دوامداره | | | | |
| د ساختماني کارونو په ترڅ کې په زیاته کچه د رامنځته کېدونکو کثافاتو لرې کول او مدیریت کول | د جامدو کثافاتو اچولو لپاره د ټاکلو ساحو په ګوته کول<br>په غوره نړیوالو صنعتي کړنلارو کې ذکر شویو اندازو پر بنسټ د ساختماني کارونو لپاره د خامو موادو برابرول | | X | | د حقیقي پروژو سوابق<br><br>په ټاکل شویو ځایونو کې اچول شوي مواد<br>په غوره نړیوالو صنعتي کړنلارو کې د ذکر شویو اقداماتو پلي کېدل | | X | | تطبیق: قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |
| د ساختماني کیندنو په ترڅ کې د کیندل شویو سرخلاصو کندو څخه رامنځته کېدونکي د د روغتیا او خوندیتوب خطرونه (د ماشومانو او کلیو لپاره او د غوماشو د زیاتېدو ساحې) | د موادو له ویستلو وروسته د کیندل شویو کندو بیارغونه<br>د ساحې څخه د کټارو تاوول او په دخولي دروازه کې د اخطاریو د نښو لګول | | X | | د رامنځته شویو کندو سلنه د کټارو موجودیت<br><br>د سر خلاصو کندو له امله رامنځته شویو پېښو/ټپي کېدنو شمېر | | X | | تطبیق: قراردادي شرکتونه<br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |
| د پروژې د ښځینه کارکوونکو یا ګټه اخیستونکو لپاره د جنسیتي تاوتریخوالي/د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې خطرونه | د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې په کاري پلان کې د ذکر شویو اقداماتو ترسره کول لکه:<br><br>اګاهي ورکول/د پروژې د کارګرو ټولنیز پوهاوی لوړول | | X | | د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې اړوند ثبت شویو شکایتونو شمېر<br><br>پر وخت د مدیریت شویو شکایتونو سلن | | X | | تطبیق: قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |

| احتمالي خطرونه او اغېزې | د خطر کمولو وړاندیز شوي اقدامات | مرحله | | | د څارني شاخصونه | د څارني ترسره کولو مهالوېش | | | د تطبیق او څارني مسؤلیت | تخمین شوی لګښت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پلان جوړونه | رغونه | اجراآت | | دوامداره | | | | |
| | د دغه ډول شکایتونو د مدیریت لپاره د شکایتونو ته د رسېدني د میکانیزم تطبیق<br><br>هر قراردادي د کارګرو لپاره د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستني/جنسي ځوروني په تړاو د ځانګړو مکلفیتونو په لړلو سره د چال چلند اصول تطبیقوي<br><br>د پروژې ټولو کارکوونکو ته باید د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستني د عامه پوهاوي په پروګرامونو کې روزنه ورکړل شي | | X | | د هغو کارګرو سلنه چې د چال چلند اصول یې لاسلیک کړي دي<br><br>د کلي لپاره د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستني/جنسي ځوروني د عامه پوهاوي روزنیزو پروګرامونو شمېر | | X | | | |
| د پروژې د کارګرو، سایټونو او یا جایدادونو لپاره امنیتي خطرونه | د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره د مستقیمو کارګرو لپاره د ملګرو ملتونو امنیتي پروتوکولونه تعقیبوي<br><br>غیر دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو د امنیتي خطرونو ارزوني ترسره کول<br><br>غیر دولتي سازمانونه او قراردادي شرکتونه ځایي امنیتي پروتوکولونه برابروي او د اړوندو امنیتي معیاري عملیاتي کړنلارو موجودیت څرګندوي | X | X | | د ځایي امنیتي پلان ترتیبوونکو غیر دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو سلنه<br><br>د اړوندو معیاري عملیاتي کړنلارو درلودونکو او پلي کوونکو غیر دولتي سازمانونو او قراردادي شرکتونو سلنه | | X | | تطبیق: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره/غیر دولتي سازمانونه/قراردادیان<br><br>څارنه: د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري د پروژې پلي کوونکي څانګه | |

**د فرعي پروژې سایټ پورې اړوند د چاپیریال ساتنې او ټولنیز مدیریت پلان:**

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره د ارزونې پروسې او د دویم جزء تر چتر لاندې د فرعي پروژې د خطرونو او اغېزو معلومولو وروسته ، د اړوندې فرعي پروژې لپاره د پروژې سایټ پورې اړوند د چاپیریال او ټولنیز مدیریت لاندې پلان ترتیبوي. د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان بشپړول یواځې په هغه صورت کې اړین دی چې د ارزونې په فورمه کې د ټیټې، متوسطې او لوړې کچې خطرونو او اغېزو پېژندنه.

۵ جدول: د فرعي پروژې سایټ پورې اړوند د چاپیریال او ټولنیز مدیریت پلان نمونه

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نېټه: | | | | | | | |
| د پروژې شمېره/نوم: | | | | | | | |
| د کلي/ولسوالی/ښاروالی/ولایت نوم: | | | | | | | |
| د کلي د نماینده د پېژندنې کود که شتون ولري: | | | | | | | |
| د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د پلان ډکوونکي انجینر نوم: | | | | | | | |
| د فرعي پروژې د پیل اټکل شوې نېټه: | | | د فرعي پروژې د پای اټکل شوې نېټه: | | | | |
| **شمېره** | **خطر یا اغېز** | **د خطر/اغېز کمولو اقداماتو تفصیل** | **د څارنې میتودونه** | **د څارنې مهالوېش** | **د څارنې پایلې** | **اړین اصلاحي اقدامات** | **مسؤل شخص** |
| ۱ | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | |
| ۶ | | | | | | | |
| | | | | | | | |

## دویمه ضمیمه: د منفي (غیر مجاز) پروژو نوملړ

لاندې فعالیتونه د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې تر چتر لاندې د مالي تمویل وړ نه دي:

- وسلې؛ چې ماینونه، ټوپکونه، مهمات او چاودېدونکي توکي په کې شامل دي خو په دې پورې محدود نه دي؛
- د برقي آرو تدارک کول؛
- د منفي پروژو په دې لیست کې د هر ډول خطرناکو توکو لکه الکولو، تنباکو، وسلو او ممنوع موادو د تولید ملاتړ؛
- محافظت شویو سیمو ته د سړکونو بیارغونه او جوړول؛
- هر ډول فعالیتونه چې په حفاظت شویو سیمو (لکه د آب ایستاده ځروبې ساحه؛ آجر دره (وړاندیز شوی) د ژوو خوندي ځای؛ د دشت ناور د ځروبې ساحه؛ د بند امیر ملي پارک، قول حشمت خان (وړاندیز شوی) ځروبې ساحه) باندې تاثیرات لري؛
- هر هغه فعالیت چې د غیر منقولو کلتوري ملکیتونو د خرابېدو لامل کېږي (چې لاندې ساحې په کې شامل دي: د هرات تاریخي آثار، د بامیان درې تاریخي آثار، د آی خانم لرغوني سیمه، د غزني تاریخي سیمې او آثار، د جام منار، د حاجي پاینده/نه گنبد مسجد، بلخ ولایت، د گلدری ستوپه، د لشکر بازار، بست ساحې او تاریخي اثار، د سرخ کوتل لرغوني سیمې)؛
- هغه فعالیتونه، تجهیزات او یا مواد چې د ژمنه شوي مالي تمویل مخکنی بدیلي سرچیني لري؛
- د سیاسي او انتخاباتي کمپاین مواد یا هر ډول مرستې؛
- معاش لرونکي کارونه چې د ۱۸ کلنی کم عمره ماشومان استخداموي؛
- هغه فعالیتونه چې په ناعادلانه ډول د هر عمر لرونکو ښځو او سړیو څخه استفاده کوي؛
- هغه فعالیتونه چې د فرعي ډلو یا کورنۍ زیانونه زیاتوي او یا د کلیو ټولیز غیر مساوات زیاتوي؛
- په لانجمنه ځمکه کې د هر ډول فعالیت ترسره کول؛
- هر هغه فعالیت چې د ځمکې د استملاک یا په داوطلبانه توگه د ځمکې د بخښنې لامل شي؛
- نقلیه وسایط (لکه تراکتورونه، ټریشرونه، لارۍ او بسونه)؛
- هر هغه فعالیت چې د ټولنیزو فشارونو او یا د اړوندو شرایطو څخه پورته تاوتریخوالي د زیاتېدو لامل کېږي؛
- هر هغه فعالیت چې د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د پام وړ اغېزې او خطرونه ولري او د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د اغېزو ارزونه یې اړینه وي؛
- د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ لخوا اداره کېدونکی هر ډول فعالیت
- هر هغه فعالیت چې دولتي چارواکو او ادارو ته د پیسو د ورکړې اړتیا رامنځته کوي؛
- هر هغه فعالیت په هغه ځمکه باندې چې د امنیتي خطرونو یا د ناچاودو ماینونو او بمونو د موجودیت له امله

خطرناکه ګڼل کیږي.

## دریمه ضمیمه: د قراردادیانو لپاره د قرارداد د مادو بېلګې

د ساختماني کارونو د چاپېریال او ټولنیز مدیریت یوازې په هغه صورت کې بریالی دی چې: (۱) پروژه په ښه شکل سره طرحه شوې او د پروژې لپاره یو سم او غوره موقعیت ټاکل شوی وي؛ (۲) په هغه صورت کې چې قراردادیان د چاپېریال ساتنې او ټولنیز مدیریت د لوړو معیارونو په رعایتولو سره خپل کار ترسره کوي. دا ضمیمه کلیدي برخې لري چې باید په ټولو شرطنامو، قراردادونو او کاري اوامرو کې شامل وي. ټول قراردادي شرکتونه باید د حالاتو مطابق وي، چې د کارګرو د مدیریت په کړنلارو (دریمه ضمیمه) کې، په ځانګړې توګه د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې او د پروژې شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم د مسؤلیتونو او اړینو شرایطو او همدارنګه د کارګرو شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم اړینو شرایطو په اړه، بیان شوي دي.

۶ جدول: د قراردادي شرکتونو لپاره د قرارداد مادې

| موضوعي برخې | د داوطلبی اسنادو (شرطنامو) محتوی |
|---|---|
| ممنوعیتونه | په فرعي پروژه کې او یا نږدې ساحه کې لاندې کړنې ترسره کول منع دي:<br>• د رغونې لپاره تائید شوې ساحې څخه بهر په هر علت د ونو پرې کول؛<br>• د مهندسي او تاریخي ارزښت درلودونکي مصنوعي آثر تخریبول؛ اور اچول؛<br>• د وسلو کارول (له اجازه لرونکو امنیتي ساتونکو پرته)؛<br>• د کارګرو لخوا د الکولو استعمالول. |
| د کثافاتو او باطله موادو مدیریت | • کثافات باید په سم ځای کې واچول شي او یا لرې وغورځول شي؛<br>• د کثافاتو د اچولو ساحې په ګوته او وټاکئ ترڅو ځانګړي مواد هلته واچول شي؛<br>• ټول ساختماني کثافات (هر ډول پرې شوي او مات شوي شیان) چې د فرعي پروژې لخوا تولید شوي وي او د کثافاتو د اچولو لپاره ټاکل شویو ځایونو کې یې واچوئ (په هغو ځایونو کې چې تر ۳۰۰ مترو پورې له سیندونو، جهیلونو او جبه زارو څمکو څخه واټن ولري)؛<br>• د کثافاتو د بیاځلي استعمال، دوران ته د راوستلو او جلا کولو لپاره اقدامات ترسره کړئ. |
| کیندل شوي ځایونه | • د موادو د زېرمه کولو لپاره ځایونه په ګوته او جلا کړئ او د دې ډاډ ورکړئ چې کیندل شوي ځایونه له حساسو ساحو لکه ژورو او ځوړو ساحو، له ښوئیدو سره مخ خاورو، او هغو ساحو څخه چې په مستقیم ډول د اوبو د تېرېدو لاره وي، لږ تر لږه ۵۰ متره په لرې واټن کې دي؛<br>• په اجازه لرونکو او جلا کیندل شویو او ژورو شویو برخو کې د موادو کیندنه محدوده کړئ.<br>• د کیندل شویو ځایونو بیا رغونه |
| پاکول او صفا کاري | • د ورځني پاکوالي کړنلارې جوړې او پلې کړئ لکه، د ودانیو ساتنه او څارنه او د ساختماني کثافاتو په سم ځای کې اچول. |
| د رغونې پر مهال خوندیتوب | د قراردادي شرکت په مسؤلیتونو کې د ساختماني کارونو له ساحې سره نږدې د اشخاصو او ملکیت خوندیتوب هم شامل دی. همدارنګه قراردادي شرکت د خوندیتوب د ځایي او ملي اړینو شرایطو او حکمونو او د پېښو د مخنیوي لپاره د نورو اړینو اقداماتو د رعایت مسؤل دی. دغه اقدامات په لاندې ډول دي:<br>• د پلي ګرځېدونکو کسانو لپاره د خوندي لارو او مسیرونو په نښه کول.<br>• په کاري ساحه کې هر مهال د نقلیه واسطې سرعت ۲۰ میله یا له دې کم وي.<br>• ترافیکي نښې تنظیم او ترتیب کړئ (لکه رڼګول، پایي لګول، د نښو مواد او داسې نور)، په سړکونو د نښو او جلا کوونکو لګول ترڅو د ساختماني کارونو پر مهال د پلي تلونکو کسانو خوندیتوب ته پاملرنه شي.<br>• ساختماني کارګرو ته د کار له پیل مخکې د خوندیتوب د روزنې ورکول.<br>• د شدید باران او یا نورو بیړنیو حالاتو پر مهال د ټول کار درول. |
| د دوړو او ګرد کنټرول | د ګرد او دوړو د اذیت د کنټرول لپاره باید مسؤل شخص لاندې کارونه ترسره کړي:<br>• د ساختماني چارو اړوند ټولو نقلیه او ګرځېدونکو وسایطو سرعت د کلیو په سړکونو کې په ساعت کې له ۱۵ میلو څخه ټیټ وساتي.<br>• په کاري ساحه کې پر ساعت له ۲۰ میله څخه خپل سرعت زیات نکړي.<br>• د دوړو او نورو ځانګړو موادو تولید هر مهال راکم کړي ترڅو په نږدې کورنیو او کاروبارونو، او په ځانګړې توګه په تر ټولو زیاتو |

| | |
|---|---|
| | له زیان سره مخ خلکو (ماشومانو او سپین ږیرو) یې د اغېزو مخه ونیول شي.<br>• د شنو ځایونو او شنو بوټو د له منځه وړلو نه ډډه وکړئ ترڅو پراخې او لویې ساحې د باد له خطر سره مخ نشي.<br>• په ناپاکو سړکونو، پرې کېدونکو ساحو او د خاورې په ډیریو یا د ډکون موادو باندې د اړتیا پر مهال اوبه وپاشئ.<br>• د ساختماني کارونو څخه د لړزې یا اواز د آذیت او مزاحمت د مخنیوي لپاره مناسب اقدامات ترسره کړئ. |
| د لرغونو اثارو او موادو د سر پټو ځایونو او خزانو د موندلو په صورت کې باید: | • د هر ډول احتمالي لرغوني، تاریخي، پخواني او هر ډول کلتوري ارزښت درلودونکو موادو د موندلو په صورت کې سمدلاسه کار ودروئ، او یو شخص باید د پروژې مدیر ته د دغو موندنو په اړه خبر ورکړي او اړوند مسؤلین او ادارې په جریان کې واچوي.<br>• لرغوني اثار باید په پلاستیکي پوښونو سره پټ او د اړتیا په صورت کې د دې ساحې د خوندي او ثابت ساتلو لپاره باید اقدامات ترسره شي ترڅو دا اثار په بشپړه توګه خوندي وساتل شي.<br>• دغو تاریخي اثارو ته هر ډول غیر مجاز لاسرسی ممنوع او د جزا وړ وګرځوي.<br>• یواځې له اجازې وروسته دې بېرته ساختماني کارونه پیل شي. |
| د کارګرو مدیریت | د کارګرو د مدیریت کړنلارو ته مراجعه وکړئ. |
| د ساختماني کارونو پر مهال چاپیریال ساتنې ته پاملرنه | شرطنامې باید د نړیوال بانک د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د معیارونو او د پروژې اړوند د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د قوانینو او مقررو رعایتول بیان کړي. د ساختماني کارونو څارنه د چاپیریال ساتنې د مدیریت په پلان کې د وړاندې شویو ځانګړتیاوو رعایتول اړین بولي او باید د چاپیریال ساتنې د ټاکل شوي ارتباطي شخص لخوا یې څارنه وشي. همدارنګه قراردادي شرکتونه مکلف دي ترڅو د چاپیریال، عامې روغتیا او خوندیتوب تنظیموونکي ملي او ښاري مقررات رعایت کړي. |

## څلورمه ضمیمه: د کارکوونکو د مدیریت ساده شوې کړنلارې

د دې پروژې لپاره د کارکوونکو د مدیریت ساده شوې کړنلارې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار د شرایطو پر بنسټ ترتیب شوي دي. دا کړنلارې هغه لارې چارې بیانوي چې له مخې یې د پروژې پلی کوونکې څانګه د اړوندو خطرونو او اغېزو پر وړاندې د پروژې ټول کارکوونکي مدیریت کوي.

د کار د مدیریت کړنلارو موخې په لاندې ډول دي: په پروژه کې د شاملو ټولو بیلابیلو احتمالي کارکوونکو پېژندل؛ د پروژې د فعالیتونو لپاره د کارکوونکو اړوند خطرونو او اغېزو په ګوته کول، تحلیلول او ارزول؛ د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار او څلورم معیار او د افغانستان د نافذه قوانینو د شرایطو او حکمونو پوره کولو لپاره د کړنلارو برابرول.

د کارکوونکو د مدیریت ساده شوې کړنلارې د ملي قوانینو د حکمونو، په عمومي توګه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د نورو معیارونو او په ځانګړې توګه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د څلورم معیار سره د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار د متقابل تړاو په پام کې نیولو سره تطبیق کېږي.

د پروژې لپاره د کارکوونکو لاندې کټګورۍ مشخصې شوې دي. د کارکوونکو د مدیریت کړنلاره د ټولو کټګوریو لپاره د پلي کېدو وړ ده:

۷ جدول: د کارګرو کټګورۍ

| کټګوري | تفصیل |
|---|---|
| **مستقیم کارکوونکي** | هغه کارکوونکي چې په مستقیمه توګه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې لخوا په دنده ګمارل شوي دي، چې کارکوونکي او سلاکاران په کې شامل دي. |
| **قراردادي کارکوونکي** | هغه کسان چې د دریم لوریو له لارې د پروژې اساسي دندو سره اړوند کار ترسره کوي؛ په دې کټګورۍ کې د هر غیر دولتي نړیوالو او داخلي تطبیق کوونکو ادارو کارکوونکي، مدني ټولني یا قراردادي شرکتونه شامل دي. |
| **د لومړنیو خدمتونو د عرضې کارکوونکي** | هغه کسان چې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې، غیر دولتي سازمانونو یا قراردادي شرکتونو لخوا د لومړنیو عرضه کوونکو په توګه ګمارل شوي وي. په دې کټګوریو کې د سرکونو د رغنیزو موادو لکه جغل او یا نورو اړینو توکو عرضه کوونکي شامل دي. |
| **ټولنیز کارکوونکي** | هغه کسان دي چې د ټولنیزو پروژو د فعالیتونو په برابرولو کې ګمارل شوي او په دنده بوخت وي. |

د کارکوونکو د مدیریت کړنلاره د پروژې په دایمي، قراردادي، موقتي او موسمي کارکوونکو د پلي کېدو وړ ده.

د پروژې د هرې برخې لپاره د اړینو کارکوونکو د ډولونو وړاندوینه په لاندې ډول ده:

**لومړۍ جزء: په کلیوالي سیمو کې د معیشت بېړنۍ مرستې او ملاتړ:** د فعالیتونو د مدیریت او نظارت لپاره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې مستقیم کارکوونکي؛ د فعالیتونو (د ساختماني/بیارغونې فعالیتونو په ګډون) د تطبیق لپاره د همکارو ادارو او قراردادیانو قراردادي کارکوونکي؛ د ساختماني او بیارغونې کارونو لپاره د لومړنیو خدمتونو د عرضې کارکوونکي؛ او ټولنیز کارکوونکي چې پر کارګرو ولاړو فعالیتونو او د کار په بدل کې نغدو پیسو لپاره کار کوي.

**دویم جزء: په ښاري سیمو کې د معیشت بېړنۍ مرستې او خدمتونه:** د فعالیتونو د مدیریت او نظارت او همدارنګه تطبیق لپاره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې مستقیم کارکوونکي؛ د فعالیتونو (د ساختماني/بیارغونې فعالیتونو په ګډون) د تطبیق لپاره د همکارو ادارو او قراردادي شرکتونو قراردادي کارکوونکي؛ د ساختماني او بیارغونې کارونو لپاره د لومړنیو خدمتونو د عرضې کارکوونکي؛ او پر کارګرو ولاړو فعالیتونو او د کار په بدل کې نغدو پیسو لپاره ټولنیز کارکوونکي.

**دریم جزء: په کلیوالي او ښاري سیمو کې د میرمنو او تر ټولو زیاتو له زیان سره مخ وګړو ته  ټولنیزې مرستې:** د فعالیتونو د مدیریت او نظارت لپاره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري مستقیم کارکوونکي او د همکارو مؤسسو او قراردادیانو قراردادي کارکوونکي؛ او د فعالیتونو د تطبیق لپاره قراردادي کارکوونکي؛

**څلورم جزء: ټول شموله او په ځانګړې توګه میرمنو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره د ټولنیزو بنسټونو پیاوړي کول:** د همکارو مؤسسو قراردادي کارکوونکي چې د کلیو له نماینده ګانو سره کار کوي.

**پنځم جزء: د تطبیق ملاتړ:** د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري مستقیم کارکوونکي.

د کارکوونکو د مدیریت ساده شوې کړنلارې د پروژې د ټولو کټګوریو کارکوونکو لپاره چې د چاپیریال او ټولنیز مدیریت په دویم معیار کې واضح شوي دي، کفایت کوي. خو، د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري کارکوونکي او سلاکاران به د ملګرو ملتونو د مقرراتو تابع وي، چې د کارګرو نړیوال سازمان په کنوانسیونونو او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري په مقررو کې تصریح شوي دي.

**د کار د خطر ارزونه:** لاندې فعالیتونه د کار د خطر او اغېزې د ارزونې د یوې برخې په توګه، د خطر سره مخ کېدو لارو چارو په اړه پوهېدو کې مرسته کوي. د راتلونکو احتمالي فعالیتونو د کارګرو اړوند ځینې کلیدي خطرونه په لاندې ډول وړاندې شوي دي:

(1) د ټولنیزو کارکوونکو لپاره عمده فعالیتونه به د اوبو د منابعو، د ځنباک د پاکو اوبو اسانتیاوو او کلیوالي سړکونو د بیارغونې او ساختماني آسانه کارونه وي.

(2) د قراردادي کارکوونکو لپاره عمده فعالیتونه به د اوبو د منابعو، د ځنباک د پاکو اوبو اسانتیاوو او کلیوالي سړکونو د بیارغونې او ساختماني کارونه او د درنو ملکي کارونو (درندو تجهیزاتو) په ګډون مختلف فعالیتونه وي.

لاندې جدول د کارکوونکو څخه د تمې وړ کار اخیستلو او د پروژې د ساحې د عمومي بنسټیزو ترتیباتو په پام کې نیولو سره د کارګرو اړوند احتمالي  خطرونه او اغېزې په ګوته او تحلیلوي.

۸ جدول: د کار د خطر او اغېزو ارزونه

| خطرونه/اغېزې | تحلیل (اندازه، کچه، مهالویش، امکان، اهمیت) | د خطر کمولو اقدامات چې د قرارداد په اسنادو کې ذکر کېږي |
|---|---|---|
| **د چاپېریال او ټولنیز مدیریت دویم معیار: کار او کاري وضعیت** | | |
| د کار کولو خراب وضعیت: غیر خوندي کاري چاپېریال | په افغانستان کې د اوږدې جګړې او د دولتي عدلي او قضايي بنسټونو د کمزورتیا له امله، د کارکوونکو کاري وضعیت او شرایط ښايي خراب وي. پروژې باید ډاډ ترلاسه کړي چې دا ډول کاري شرایط د منلو وړ نه دي. اغیزه د پام وړ ده چې دا ښايي د هغه کلي په استثمار کې څرګند شي چې پروژه ورته ګټه رسوي، د بېلګې په توګه ټولنیز کارکوونکي، خو قراردادي کارکوونکي هم اغېزمن کېدای شي.<br>د دې ترڅنګ، د ناچاودو توکو خطر هم شته چې په ناڅاپي ډول پیدا او چاودېدلای شي. | د قراردادیانو د کارګرو د مدیریت د کړنو څارنه د دې خطر په کمولو کې اړین دي. د دې موخې لپاره د قراردادي شرکت چک لیست کارول کېږي.<br>دا پروژه به د دې ډاډ ترلاسه کړي چې د کارګرو شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم شتون لري، ترڅو کارګر وکولای شي د دوی له حقونو څخه سرغړونې بیان کړي او شکایتونو ته یې رسېدنه وشي.<br>د ناچاودو توکو د خطر مدیریت پلان د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت په دې چوکاټ کې ضمیمه شوی دی. |
| د کار کولو خراب وضعیت: د کارګرو د حقونو څخه سرغړونه | په عملي ډول د دې مادو تطبیق ښايي کمزوري عدلي او قضايي سیستم ته په پام سره ډېر ستونزمن نه وي. | دا پروژه به د کارګرو شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم له لارې د دې ډاډ ترلاسه کړي کارګر کولای شي د دوی له حقونو څخه سرغړونې بیان کړي او شکایتونو ته به یې رسېدنه وشي. |
| پر ماشومانو شاقه کارونه کول | په افغانستان کې د کار کولو لپاره اړین عمر ۱۸ کاله دی. د ۱۵ نه تر ۱۷ کلونو پورې ماشومان په هغه صورت کې چې دا کار دوی ته زیان نه رسوي، د کار کولو اجازه نلري، او په هره اونۍ کې د ۳۵ ساعتونو څخه کمې روزنې ته اړتیا لري او یو ډول مسلکي روزنه وړاندې کوي.<br>ممنوعیتونه پلي شوي نه دي. | دا پروژه د کارګرو په ټولو کټګوریو کې یواځې ۱۸ کلنو او یا پورته عمر لرونکو کسانو ته د کار کولو اجازه ورکوي.<br>دا پروژه د خپلو ټولو اړوند کارکوونکو لپاره د قراردادي شرکتونو لخوا د عمر د تائیدۍ کړنلارو پلي کول اړین بولي. |
| پر ماشومانو تر ټولو بد شاقه کارونه | ماشومان تر ټولو بدو شاقه کارونو، په ځانګړې توګه په جنګ جګړو، سوداګریز جنسي استثمار او د خښتو او قالینو په جوړولو کې اجباري کارونو ته ګمارل شوي دي.<br>. | دا پروژه د کارګرو په ټولو کټګوریو کې یواځې ۱۸ کلنو او یا پورته عمر لرونکو کسانو ته د کار کولو اجازه ورکوي.<br>دا پروژه د خپلو ټولو اړوند کارکوونکو لپاره د قراردادي شرکتونو لخوا د عمر د تائیدۍ کړنلارو پلي کول اړین بولي. |
| په کار ځای کې د کارګرو زخمي کېدل | کار ګمارونکي اداره مکلفه ده څو د اړوندو خطرونو پر وړاندې د کارکوونکو د روغتیا او خوندیتوب د ساتنې لپاره بشپړ اقدامات ترسره کړي لکه د خوندي او پاک کاري چاپېریال برابرول او په وسایلو مجهز، رغول شوي او تنظیم شوي کار ځایونه چې د څښاک د پاکو اوبو اسانتیاوې، اوبه او نور اساسي وسایل او توکي برابروي.<br>که څه هم، شخصي محافظتي تجهیزات ښايي د قراردادي کارګرو او یا ټولنیزو کارکوونکو لپاره کم وي، او د روغتیا او خوندیتوب مقررات ښايي شتون ونلري او یا تطبیق شوي نه وي. | د قراردادي کاري خطر ارزونې او د خطر کمولو پلانونه به طرحه او تطبیق شي.<br>د کاري روغتیا او خوندیتوب پلان تطبیق |
| **د چاپېریال او ټولنیز مدیریت څلورم معیار: د کلي خوندیتوب او روغتیا** | | |
| د کارګرانو د راتګ حاضري او جنسیتي تاوتریخوالی | ښايي په ټاکل شویو کلیو کې د پروژې څخه بهر ساحو څخه خلک د کار پیدا کولو او اړوندو ګټو ترلاسه کولو لپاره راشي. سربېره پر دې، د رغنیزو کارونو د ترسره کولو لپاره کلیو ته د قراردادي شرکتونو د کارکوونکو راوستلو ډېر کم چانس شته. د کارګرو د راتګ له امله د خلکو تګ راتګ ښآیي د جنسیتي تاوتریخوالي/جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې د پېښو لامل شي. | ټول قراردادي شرکتونه به د کارګرو د راتګ د مدیریت کړنلارې تطبیقوي (لاندې معلومات وګورئ)؛ د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې کاري پلان به تطبیقېږي (د زیاتو معلوماتو لپاره نهمه ضمیمه وګورئ). |

| | | |
|---|---|---|
| | | د پروژې د کارکوونکو لخوا د چال چلند د لاسلیک کېدونکو اصولو تطبیقول او په ټولو قراردادي شرکتونو پلي کول |

**د کار د مدیریت کړنلارو د تطبیق لپاره اداري ترتیبات:** په داسې حال کې چې د هرې برخې فعالیتونه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې د پروژې د پلي کوونکې څانګې لخوا پر مخ وړل کېږي، دا څانګه به د کار د مدیریت کړنلارو د تطبیق او څارنې عمده مسؤلیت سرته رسوي.

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره به د پانګونې د پلانونو پر بنسټ د فرعي پروژو فعالیتونه په ګوته کوي او د فرعي پروژې د ډیزاین او جوړولو اسناد به ترتیب کړي او د قراردادي شرکتونو سره به تړونونه وکړي.

د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې د زیربناوو ټیم د قراردادي شرکت او د پروژې د څارنې، د تخنیکي کیفیت د تضمین، سرټیفیکیشن، او د کارونو د پیسو د ورکړې مسؤلیت لري. د پروژې پلي کوونکې څانګه به د قراردادونو/داوطلبۍ پروسو په تدارکاتو کې د کارګرو د مدیریت کړنلارو د شمولیت څخه ډاډ ترلاسه کوي. د پروژې پلي کوونکې څانګه به د چاپیریالي او ټولنیزې ارزونې پروسې سره د اړتیا پر مهال د مرستې کولو او د ارزونې د پایلو د تائید او منظورۍ او د چاپیریال او ټولنیز خوندیتوب د راتلونکو پلانونو او د چاپیریال او ټولنیز خطر کمولو د ټولو اقداماتو د څارنې او تطبیق، د هغو په ګډون چې د کار د مدیریت په کړنلاره کې وړاندې شوي دي، مسؤلیت په غاړه ولري.

د کار د مدیریت کړنلارو د تطبیق څارنه او نظارت د پروژې پلي کوونکې څانګه کې د ټولنیز خوندیتوب د کارپوه لخوا، چې په یاد څانګه کې د خطرونو د مدیریت د ټیم یوه برخه ده، ترسره کېږي. دا ټولنیز کارپوه به د پروژې اړوند د کار خطرونه په دوامداره توګه تحلیلوي؛ د ټولو تطبیق کوونکو ادارو لخوا د کار د مدیریت کړنلارو د تطبیق څخه به څارنه کوي او د کار د مدیریت کړنلارو څخه به هم څارنه کوي. د چاپیریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب د ټولو قوانینو او مقررو د تطبیق مسؤلیت د پروژې پلي کوونکې څانګه کې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې د پروژو مدیر په غاړه دی.

**کلیدي کړنلارې:** دا پروژه د فقر د کمولو او پراخې اقتصادي ودې په لټه کې د کار رامنځته کولو او عاید برابرولو د اهمیت په درک کولو سره پر مخ وړل کېږي. دا به د کار د مدیریت سالمې اړیکې دود کړي او په پروژه کې د کارګرانو سره په عادلانه چلند او د خوندي او صحي کاري شرایطو برابرولو له لارې د پروژې پرمختیایي ګټې لا زیاتې کړي. د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره، همکارې مؤسسې، غیر دولتي سازمانونه او قراردادي شرکتونه به د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار د موخو د بشپړ ترلاسه کولو څخه ډاډ ورکوي. د دې کار د اسانتیا لپاره ټول کارکوونکي د قراردادي شرکتونو په نوم یادېږي. د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره په دې کې شامل نه ده.

**د ګمارنې او تغییر او تبدیل کړنلاره:** د دې کړنلارې موخه د دې ډاډ رامنځته کول دي چې د ګمارنې پروسه او د قراردادي کارګرو تغیر او تبدیل په داسې یوې طریقې سره ترسره کېږي چې له هر ډول تبعیض څخه پاکه او کارکوونکي (د ټولنیزو کارکوونکو لپاره لاندې کړنلارې ته مراجعه وکړئ) ته د کار اړوند ټولو اړینو موضوعاتو په اړه لارښوونه کېږي.

1. ګمارونکې اداره د پروژې پلي کوونکې څانګه ته د استخدام پلان د بیاکتنې او منظورۍ لپاره سپاري، چې دا پلان به لاندې جزئیات ولري:
    1. د اړتیا وړ کارکوونکو شمېر
    2. د کار کولو مطلوب او په پام کې نیول شوی وضعیت او شرایط
    3. د کارکوونکو لپاره په پام کې نیول شوي موقعیتونه
    4. د لوړو زده کړو او تجربې په برخه کې د دندې ځانګړتیاوې
2. ګمارونکې اداره په اړوندو رسنیو (ځایي خبرپاڼو یا د قراردادي کارکوونکو لپاره مستقیمه بلنه او د ټولنیزو کارکوونکو لپاره د ځایي مشرانو له لارې په شفاهي توګه) د دندې اعلان خپروي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ټول احتمالي نوماندان، د ښځو په ګډون معلوماتو ته لاسرسی لري او د اداري فساد او خپلوۍ پالنې خطرونو ته په فعاله توګه رسېدنه کوي.
3. د نوماندانو شارټ لیست او استخدام باید لاندې موارد تضمین کړي:
    1. هر څومره چې امکان ولري، ۵۰ سلنه شارټ لیست شوي نوماندان ښځې دي.

2. هر څومره چي امکان ولري، ۵۰ سلنه موجوده کارکوونکي ښځي دي.
3. د ۱۵ کلنۍ څخه کم عمره نوماندان د استخدام له بهیر څخه حذف شوي دي.
4. د ګمارنې په بهیر کې باید د دندې قرارداد د مستقیمو او قراردادي کارکوونکو لخوا په داوطلبانه توګه او د کارکوونکي په خپله خوښه لاسلیک شي.
5. ګمارونکي اداره به د کار له پیل څخه مخکې ډاډ ورکوي چې کارکوونکي ته د کار اړوند اړینو موضوعاتو په اړه چې په (ب) ضمیمه کې ذکر شوي دي، لارښوونه کېږي، چې دا موضوعات په لاندې ډول دي:
   1. د دندې کلیدي ځانګړتیاوې
   2. د دندې شرایط
   3. د چال چلند ځانګړي اصول
   4. انظباطي او تادیبي کړنلارې
   5. د کارګرو شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم
   6. د کارګرو د ټولنې په فعالیتونو یا سوداګریزه ټولنه کې د بشپړ ګډون او ورسره یوځای کېدو ازادي
   7. د پروژې او د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ د چاپیریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب کلیدي اړخونه
   8. د بیړنیو حالاتو پر مهال چمتووالی
6. د پروژې پلي کوونکي څانګه، نړیوال بانک یا مقرراتي ادارې لخوا د بیاکتنې لپاره د کار د ټولو سوابقو په واک کې ورکول.

**د کاري روغتیا او خوندیتوب کړنلاره:** د دې کړنلارې موخه د پروژې د ټولو کارکوونکو (قراردادي کارکوونکو او ټولنیزو کارکوونکو) او کوربه کلي لپاره د یو صحي او خوندي کاري چاپیریال رامنځته کول او ساتل دي.

1. د پروژې پلي کوونکي څانګه به د قراردادیانو د تدارکاتو په بهیر کې، اړوندو قراردادیانو ته د چاپیریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ چمتو کوي. دا به شرکتونو ته زمینه برابره کړي چې په اړوندو آفرونو کې د کاري روغتیا، خوندیتوب، او ټولنیزو روغتیایي او خوندیتوب تدابیرو لپاره د بودجې تخصیص شامل کړي.
2. قراردادي به د کاري روغتیا او خوندیتوب د مدیریت یو داسې سیستم ترتیب او پلی کوي، چې د کار ساحې، د قرارداد دوام او د نړیوالې مالي ادارې د چاپیریال ساتنې، روغتیا او خوندیتوب د عمومي لارښوونو سره سمون ولري.
3. قراردادي شرکت به د چاپیریال او ټولنیز خطر کمولو ټول اقدامات چې د فرعي پروژې لپاره وړاندیز شوي دي، تر لاس لاندې نیسي.
4. قراردادي شرکت به یو مناسب، مجرب، او  او وړ د خوندیتوب، روغتیا او چاپیریال ساتنې متخصص وګماري، چې مسؤلیت به یې د کار ګمارونکي ادارې ته  د کاري روغتیا او خوندیتوب اړوندو موضوعاتو په اړه لارښوونه او مشوره ورکولو مسؤلیت وي.
5. قراردادي شرکت به د خوندیتابه تدابیر نیسي، چې پکې د خطر لرونکو شرایطو یا موادو بدلون، تبدیلول یا له منځه وړل شامل دي. دا تدابیر به د ارزونې او پلان پر بنسټ تطبیق کېږي.
6. قراردادي شرکت د کاري روغتیا او خوندیتوب د موضوعاتو په اړه د پروژې کارکوونکو ته روزنه او لارښوونه ورکوي. همدارنګه، د دغو روزنو اسناد او سوابق به له ځانه سره ساتي.
7. قراردادي شرکت د چاپیریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ د لارښود پر بنسټ د کار اړوند پېښو، امراضو او نورو پېښو اسناد ترتیب او راپورونه به یې ورکوي.
8. قراردادي شرکت به د بیړنیو حالاتو لپاره د مخنیوی، چمتووالي او غبرګون لازم ترتیبات برابروي، دا ترتیبات به د ځای پېښو، د کارځای ناروغیو، سیلابونو، اور لګېدو، ناروغیو د خپرېدو، د کارګرو ناراحتی او امنیتي ګواښونو ته ځواب ورکوي، خو په دې پورې محدود نه دي.
9. قراردادي باید د خوندیتوب، روغتیا او چاپیریال ساتنې مدیریت اړوند ټول اړین اسناد او سوابق وساتي ترڅو د

پروژې پلي کوونکي څانګه، نړيوال بانک يا د څارنې درېمګړې اداره وکولای شي د اړتيا پر مهال دا اسناد وڅيړي او ارزونه يې وکړي.

**د قراردادي شرکت د مدیریت کړنلاره:** د دې کړنلارې موخه دا ده چې ډاډ تر لاسه شي، چې د پروژې پلي کوونکي ځانګه د قرارداد له مخې صلاحیت لري  ترڅو د قراردادي شرکت لخوا د کارګرو د مدیریت کړنلارې نه رعایتولو پر وړاندې ځارنه، ارزونه، او اړین اقدام تنظیم او اداره کړي.

1. د پروژې پلي کوونکي ځانګه باید ټول اړوند اسناد وکاروي ترڅو قراردادي شرکت ته د کارګرو د مدیریت کړنلارې د اغېزناک تطبیق لپاره د اړینو شرایطو په اړه لازم معلومات ورکړي.
2. قراردادي شرکت باید د هر قرارداد لپاره د آفر offer له سپارلو مخکې د کارګرو د مدیریت کړنلارې په ګډون، د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د چوکاټ اړتیاوې په دې آفر کې ځای کړي.
3. قراردادي شرکت به د کارګرو د ګمارنې پلان برابروي.
4. قراردادي شرکت به په ټولو کارګرو د چال چلند اصول (Code of Conduct) لاسلیکوي.
5. قراردادي شرکت به د کاري روغتیا او خوندیتوب او د بیړني حالت پر مهال د چمتووالي اړوند شواهد وړاندې کوي.
6. قراردادي شرکت به د کار د مدیریت کړنلارې په ګډون، د خطر کمولو اقداماتو او نورو اړینو تدابیرو د تطبیق په اړه منظم کاري راپورونه سپاري. او د پروژې پلي کوونکي ځانګه ته به د لاسرسي اجازه ورکوي، ترڅو دوی د کار د مدیریت کړنلارې اړینو شرایطو د تطبیق سموالی تائید او تصدیق کړي.
7. د پروژې پلي کوونکي ځانګه کولای شي د اړتیا په صورت کې، قراردادي ته د پیسو اداینه تر هغه وخته وځنډوي ځو چې د کار د مدیریت کړنلارې د پام وړ نه رعایت په اړه لازمي اصلاحي  کړنې تطبیق شي. د نه رعایتولو ځینې بیلګې په لاندې ډول دي چې قراردادي شرکتونه یې باید په پام کې ونیسي:
   - د لازمي ربعوار (فصلي) کاري راپورونو نه سپارل
   - د خطر کمولو د اقداماتو ترسره کولو په تړاو د پلټنې لپاره د ځانګړو اسنادو څخه کار نه اخیستل
   - د پېښې په اړه پر وخت خبر نه ورکول او د پېښې د پلټنې د راپور نه سپارل
   - د چاپیریال ساتنې، روغتیا او خوندیتوب د یو وړ او مجرب کارمند نه ګمارل یا نه تبدیلول
   - د ځایي کلي څخه بهر د غیر تخنیکي کارکوونکو ګمارل

**د لومړنیو عرضه کوونکو کړنلاره:** د دې کړنلارې هدف دا دی چې د کار اړوند خطرونه، په ځانګړې توګه پرماشومانو شاقه او اجباري کارونه او همدارنګه د لومړنیو خدمتونو د عرضې کارکوونکو لخوا پروژې ته رامنځته کېدونکي د خوندیتوب جدي ستونزې د چاپیریال او ټولنیز مدیریت د دویم معیار د شرایطو سره سمې او مؤثره مدیریت شي.

د پروژې پلي کوونکي ځانګه او ټول قراردادیان/تطبیق کوونکي اداري به لاندې اقدامات تر لاس لاندې نیسي: په حقوقي او قانوني توګه جوړو شویو عرضه کوونکو څخه د لومړنیو موادو تدارک کول.

په قانوني توګه ثبت شوی شرکت د دې ډاډ رامنځته کوي چې یاد شرکت له حقوقي پلوه مکلف دی څو په افغانستان کې د کار نافذه قوانین رعایت کړي، چې د دې امکان رامنځته کوي ترڅو د کار قوانین د عرضه کوونکي په شرکت کې رعایت شي. په دې کې د لاندې مواردو د شواهدو په اړه ډاډ ورکول شامل دي: د شمولیت تصدیق؛ د عرضه کوونکي شرکت د کار د مدیریت سیستم په اړه د فزیکي کتنو ترسره کول، په تېره بیا کاري روغتیا او خوندیتوب، د تېر کار اړوند د چاپیریال ساتنې یا کاري پېښې، د عمر محدودیتونه (۱۸ کلن یا له دې پورته)، یا داوطلبانه کار.

**د ټولنیزو کارکوونکو کړنلاره:** د دې کړنلارې هدف دا دی، چې ډاډ ترلاسه شي ټولنیز کارکوونکي په خپله خوښه یا داوطلبانه ډول توګه کار کوي، او د دندې شرایط ورته د منلو وړ دي.

د پروژې پلې کوونکي ځانګه، همکارې مؤسسې او قراردادي شرکتونه چې ټولنيز کارکوونکي لري د ټولنيزو کارکوونکو سره د کار کولو پر مهال لاندې کړنلارې پلې کوي:

1. د پروژې پلي کوونکي څانګه به د دندې معیاري لایحه، کاري وختونه، د حقوق او امتیازاتو سیستمونه (د کار نوعیت ته په پام سره) د پیسو د ادایني میتودونه، د ادایني وختونه او د تولني لپاره د چال چلند اصول ترتیبوي، چې د پروژې په ټولو فعالیتونو کې به د تطبیق وړ وي. دا ټول به د پروژې د پیل په مرحله کې ترتیب شي.
2. همکارې مؤسسې او قراردادي شرکتونه باید د استخدام یو پلان جوړ کړي او د پروژې پلي کوونکي څانګې لخوا تر بیاکتنې لاندې ونیول شي او د یادې څانګې د تائید وړ وګرځي.
3. همکارې مؤسسې او قراردادي شرکتونه باید غونډې وکړي او د اړوندو ټولنیزو کارکوونکو د استخدام په اړه د ټولنې سره د غونډو پرېکړې مستندې کړي. په دې پرېکړو کې باید د کار د ماهیت، کاري وختونه، د عمر د محدودیتونو (اتلس کلن یا له دې پورته)، د حقوق او امتیازاتو د مبلغ، د پیسو د ادایني میتودونو، د ادایني وختونه، د غونډې د اعلامیې د لاسلیکوونکي شخص یا لاسلیکوونکي استازي، د خپلې خوښې یا داوطلبانه کار، د کلي لپاره د چال چلند اصولو په اړه بشپړ معلومات شامل وي.
4. قراردادي شرکتونه به د کلیو سره د ګډو غونډو له لارې په شرایطو باندې بحث کوي، په دې اړه وضاحت ورکوي، خبرې اترې پرې کوي او هغه به مستند کوي، او هر ټولنیز کارکوونکی په پرېکړو باندې د لاسلیک په کولو یا د دندې د پرېکړو کوونکي غونډې د حاضرۍ پاڼې په لاسلیکولو سره خپل رضایت څرګندوي.
5. همکارې مؤسسې او قراردادي شرکتونه مسؤلیت لري چې ټولنیزو کارکوونکو ته د کار د مدیریت د کړنلارې په مهمو برخو کې پراخه روزنه ورکړي. دا روزنه باید په جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې/جنسي ځورونې، د پروژې شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم، کاري روغتیا او خوندیتوب، د اچ آی وي ایډز د عامه پوهاوي، او په خوندي توګه د تجهیزاتو د استعمال او وزن پورته کولو په مناسب طریقو کې شامل وي.

**د نه تبعیض او مساوي فرصت کړنلاره:** د دې کړنلارې موخه د دې ډاډ ورکول دي چې د پروژې د کارکوونکو ګمارنه او له دوی سره چلند د مساوي فرصت او عادلانه چلند د اصولو پر بنسټ دي.

د پروژې پلي کوونکي څانګه، همکارې مؤسسې او قراردادي شرکتونه به د ټولنیزو کارکوونکو سره د کار کولو پر مهال لاندې کړنلارې پلي کوي:

1. د کاري اړیکو په ټولو برخو کې باید هېڅ ډول تبعیض یا توپیري چلند ونشي، په ځانګړې توګه په هغو مواردو کې لکه: استخدام او ګمارنه؛ د حقوقو او امتیازاتو ورکول (د ورځني مزد او ګټې؛ د دندې کاري شرایط، روزنیزو پروګرامونو ته لاسرسي؛ ټاکل شوې دندې او کارونه؛ ارتقاء؛ له دندې ګوښه کول او انظباطي کړنې)
2. د ځورونې، سپکاوي او یا استثمار مخنیوی به وکړل شي، او یا به په مناسبه توګه ورته رسېدنه وشي.
(a) د خوندیتوب او د تبعیض په له منځه وړلو کې هر ډول اقدام، او همدارنګه د ځانګړو دندو لپاره د مرستې ځانګړي تدابیر چې په ټاکنه کې مرسته کوي، هېڅکله د تبعیض په توګه نه ګڼل کیږي.
(b) د پروژې له زیان سره مخ کارکوونکي به ځانګړی خوندیتوب او ملاتړ ترلاسه کوي.

د ټولو کارکوونکو لپاره شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم: ټول کارکوونکي به، د ټولنیزو کارکوونکو په ګډون د کار اړوند هر ډول شکایتونو د ثبت لپاره دا میکانیزم تطبیقوي. کارکوونکي کولای شي خپلې اړوندې ادارې سره د شته موضوعاتو د حل لپاره اړیکه ونیسي. په هر حال، هر کارکوونکی کولای شي هر وخت شکایتونه په مستقیم ډول د تطبیق کوونکي ادارې او یا د پروژې پلي کوونکي څانګې سره ثبت شي (په هغو مواردو کې چې شکایتونه د تطبیق کوونکي ادارې یا قراردادي شرکت اړوند وي)، د پروژې شکایتونو ته د رسېدنې میکانیزم وکاروي.

د شکایت سپارلو لارې عبارت دي له: د ۴۱۰ تیلیفوني شمېره، برېښنالیک، د شکایتونو فورمه ډکول، شفاهي طریقې، همکارې/تطبیق کوونکې ادارې د اړوندې وېبپاڼې له لارې د شکایت عریضې استول او د مرستې میزونه. د شکایت سپارلو

په ټولو لارو چارو کې باید په رسمي ژبو (دري او پښتو) د شکایت سپارل مجاز وي.

## پنځمه ضمیمه: د لرغونو اثارو د موندنې کړنلاره

د لرغونو آثارو د موندنې کړنلارې د تاریخي او کلتوري آثارو د ساتنې او څارنې قانون (رسمي جریده، ۲۱ ډسمبر، ۱۹۸۰) کې تعریف شوي دي، چې د کلتوري میراثونو د ادارو واکونه او مسؤلیتونه په هغه صورت کې واضح کوي چې کله ساحې یا مواد د پروژې د تطبیق په جریان کې وموندل شي. دا قانون بیانوي چې ټول منقول او غیر منقول تاریخي او کلتوري آثار د دولت ملکیت دی، او په کې راغلي:

i. د تاریخي او کلتوري آثارو د ساتنې، څارنې او ارزونې مسؤلیت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په چوکاټ کې د لرغون پېژندنې کمېټې په غاړه دی، چې په ولایتي کچه هم استازي لري.
ii. د کلتوري او تاریخي آثارو (منقولو او غیر منقولو) د موندنې پر مهال باید د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې د پروژې پلي کوونکي څانګه ته خبر ورکړل شي، او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره به د دې موندنې د ارزونې لپاره متخصصان راولي. که د کار دوام تاریخي او کلتوري آثارو ته خطر وي، په دې صورت کې باید کار تر هغې پورې وځنډول شي چې د دغو آثارو د ساتنې لپاره یوه حل لاره پیدا شي.
iii. که چېرې په یو ولایت کې منقول یا غیر منقول تاریخي او کلتوري آثار وموندل شي، د دغه ولایت والي یا ولسوال ته باید د دوو اونیو په موده کې خبر ورکړل شي او دوی باید د لرغون پېژندنې کمېټې ته اطلاع ورکړي. که چېرې غیر منقول تاریخي او کلتوري آثار په یوه ښار کې وموندل شي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د تاریخي ارزښتونو د ساتنې ریاست ولایتي څانګې ته باید د دوو اونیو په موده کې اطلاع ورکړل شي (هنر.۱۸).
iv. که آثار په مرکز کې وموندل شي، د لرغون پېژندنې کمېټې ته باید په مستقیم ډول د یوې اونی په موده کې اطلاع ورکړل شي (هنر۲۵).

د منقولو یا غیر منقولو تاریخي او کلتوري آثارو په صورت کې، د تطبیق کوونکې ادارې مسؤلیت دی چې دغه اثار د غلا، پټولو او خرابوالي څخه خوندي وساتي تر هغو چې دا مسؤلیت لکه څرنګه چې پورته ذکر شوې، یوې بلې اړوندې ادارې ته وسپارل شي.

دا کړنلارې، په هغه صورت کې چې د تطبیق وړ وي، باید په ساختماني قراردادونو کې د معیاري حکمونو او شرایطو په توګه شاملې شي. د پروژې انجینر (سایټ/ساحوي انجینر) باید د پروژې د نظارت پر مهال د هر ډول تاریخي آثارو سره د چلند په تړاو د پورتنیو مقرراتو د تطبیق څرنګوالي په دقت سره وڅاري.

## شپږمه ضمیمه: د ځمکني ماینونو (LM)، ناچاودو توکو (UXO)، او د جګړې له پاتې شونو (ERW) د مدیریت معیاري عملیاتي کړنلاره

د سیمې وضعیت او د ماینونو او چاودېدونکو توکو تاریخچې ته په پام سره، د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره (UNOPS) او قراردادیان باید تر هغې د فرعي پروژې ساحې ته داخل نشي، ترڅو د ماین پاکۍ تصدیق لیک تر لاسه نه کړي او د UNOPS دفتر لخوا د ساحې د ورتګ رسمي منظوري نه وي ورکړل شوې. د پروژې مدیر باید هغه سیمې په واضح ډول مستندې کړي چې قراردادي ته یې د ورتګ اجازه نشته، او دا هم باید په پام کې ونیسي چې د ماین پاکۍ سند د سیمې له ټولو احتمالي خطرونو څخه د بشپړې تصفیې ضمانت نه کوي. که د فرعي پروژې ډیزاین کې د لویو کیندنو یا د ژورو خندقونو اړتیا شامله وي، نو د ناچاودو توکو د موندلو خطر لا هم موجود دی. له همدې امله، د پروژې ډیزاین کارپوهان باید د پروژې په مشخصاتو کې د دا ډول احتمالي خطرونو په واضح ډول مستند کړي او اړینې لارښوونې په کې شاملې کړي.

هغه سیمې چې د ځمکني ماینونو، ناچاودیدلو توکو او د جګړې پاتې شونو د شتون احتمال پکې لوړ وي:

1. نظامي پوستې
2. نظامي هدفونه (هوایي ډګرونه، فابریکې، ګودامونه، پلونه او نور)
3. ویجاړې شوې ودانۍ، نقلیه وسایط او تجهیزات
4. ترانسپورټي یا نفوذي لارې (د نظامي اکمالاتو لارې، تنګې فرعي لارې او پلې لارې)

یوه نادره پېښه چې سختې پایلې لري:
په افغانستان کې د رغنیزو ساحو په اوږدو کې د ځمکني ماینونو، ناچاودو توکو او د جګړې پاتې شونو د موندلو خطر منځنۍ کچه لري، خو د دې خطر پایلې خورا جدي دي خو چې پر روغتیا، امنیت، چاپېریال، د پروژې پر لګښت او مهالویش ژور اغېز لري. مهم خطرونه یې په لاندې ډول دي:

1. ټپي کېدل او مادي زیان
2. د پروژې د درېدو وخت له امله، د پروژو ځنډېدل او د اټکل څخه زیات لګښتونه
3. د ساحې تخلیه کول
4. د سرکونو بندیدل
5. د اعتبار زیان
6. قانوني مسوولیتونه

**د بیړني غبرګون پلان**: په جګړه ځپلو سیمو کې که څه هم د ماین پاکۍ سند ترلاسه شوی وي، بیا هم د ځمکنیو ماینونو، ناچاودو توکو او د جګړې پاتې شونو خطرونه له منځه نه دي تللي. له همدې امله، تر هغه چې د بېړني غبرګون پلان Emergency Response Plan تطبیق نشي، په دې سیمو کې رغنیز فعالیتونه باید پیل نشي.
یاد پلان باید د فرعي پروژې د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان یوه برخه وي او د ساحې ټیمونو ته په دې اړه لازم معلومات ورکړل شي.
**د بېړني غبرګون پلان پلي کولو کلیدي اقدامات**

1. **د مناسبه مسؤلینو ټاکنه:** د بیړني غبرګون پلان د مؤثر تطبیق لپاره باید مسؤل اشخاص وټاکل شي، ترڅو د بیړنیو پیښو پر مهال ځانګړي مسؤلیتونه ترسره کړي او اړین اقدامات تنظیم کړي.
2. **د معلوماتو شریکولو او ارتباطاتو اسانه لارې چارې:** د بیړنۍ پېښې په ټولو پړاوونو کې د ساحوي کارکوونکو باخبره ساتل اړین او د حالاتو په اړه هغوی ته معلومات ورکول ضروري دي. ټاکل شوي مسؤل اشخاص باید د بیړنیو خدماتو ټیمونو ته او د اړتیا په صورت کې، د سیمې اوسېدونکو ته لنډ معلومات ورکړي.

3. **د ساحې د تخلیې پلان جوړول:** د خبراوي (آلارم) ځرنګوالی، د تخلیې لارې او ځای او د راغونډې ځایونه باید مشخص وي.
4. **د امنیتي کمربند جوړول او د ساحې بندول:** د مشکوک شی د نوعیت او د ساحې شرایطو ته په کتو، د خطرناکې سیمې د بندولو اندازه باید مشخصه شي. د ځمکني ماینونو، ناچاودو توکو او د جګړې پاتې شونو مشکوکې ساحې له کشف وروسته، ټاکلي مسؤلین باید د محدودې ساحې څارنه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ساحې له تړلو وروسته هېڅوک ساحې ته دننه نشي.
5. **د مشکوک شی حالت تاییدول:** چې عموماً د کارپوهانو لخوا ترسره کېږي.
6. **د ټیلیفوني شمېر لېست جوړول:** د قراردادیانو، مشتریانو، روغتونونو او سیمه ییز پولیسو د بېړنیو اړیکو معلومات پیدا کول.

ساختماني ساحه کې د ځمکني ماینونو، ناچاودو توکو یا د جګړې پاتې شونو د موندل کېدو په صورت کې لازم اقدامات:

1. د بیړني غبرګون پلان په عملي ډول تطبیق کړئ.
2. ټول فعالیتونه په سملاسي توګه ودروئ.
3. ساحه تخلیه کړئ او خلک له سیمې څخه وباسئ.
4. د ماینونو، ناچاودو توکو یا د جګړې پاتې شونو لرونکي کشف شوې سیمې په اړه نږدې پولیسو ته راپور ورکړئ.
5. د کشف شوې سیمې راپور د پروژې مدیر او د پروژې د روغتیا، خوندیتوب او چاپېریالي مدیریت فوکل پاینټ ته د بېړني راپور فورمې په کارولو سره وړاندې کړئ.
6. د فرعي پروژې ته نږدې مېشتو اوسېدونکو ته د وضعیت په اړه معلومات ورکړئ.
7. د سیمې لاسرسي څارنه وکړئ – له سیمې سره واټن وساتئ او اړینه ده چې سیمه په سم ډول وتړئ.
8. د ساحې د تصفیې او پاکارۍ په اړه د مرستندویانو ترسره کړي کارونه تعقیب کړئ.
9. د تصفیې تر بشپړېدو وروسته، له مرستندویانو څخه لیکلي تائیدي ترلاسه کړئ چې په پروژه کې نور چاودېدونکي توکي شتون نه لري.
10. د مرستندویانو لخوا د ماینونو، ناچاودو توکو یا د جګړې پاتې شونو لرونکي سیمو د تصفیې او پاکارۍ تر بشپړېدو وروسته، د فرعي پروژې فعالیتونه بیا پیل کړئ.
11. د تصفیې او پاکارۍ فعالیتونه د شواهدو په توګه د انځورونو په ګډون په نهایي راپور کې شامل کړئ او وړاندې یې کړئ.

ساختماني ساحه کې د رغنیزو کارونو له وجهې د ځمکني ماینونو، ناچاودو توکو یا د جګړې پاتې شونو د چاودېدو له امله د ټپي کېدو په صورت کې باید مسؤل/ټاکل شوی شخص باید څه وکړئ؟

1. ټول فعالیتونه سمدستي ودروئ.
2. ساحه په خوندي ډول تخلیه کړئ.
3. لومړنۍ اړینې مرستې وړاندې کړئ.
4. د ټپي کس لوري ته په بیړه مه ځئ؛ احتیاط حرکت وکړئ.
5. د ټپي کس لوري ته د تګ لپاره مسیر په دقت او پلټنې سره پاک کړئ.
6. د ټپي کس شاوخوا سیمه سمدستي او په خوندي ډول پاکه کړئ.
7. ټپي کس ژر تر ژره نږدې روغتون ته ولېږدئ.
8. نږدې پولیسو ته د پېښې په اړه خبر ورکړئ.
9. د پېښې راپور د بیړني راپور نمونې په کارولو سره د پروژې مدیر ته وسپارئ.

10. د اړتیا په صورت کې د پېښې په اړه نور جزئیات د پروژې مدیر ته وړاندې کړئ.

**له پېښې وروسته:**

1. د پروژې ساحې ته د لاسرسي څارنه وکړئ - د ساحې د ترړلو لپاره د خنډ ټیپ او د "ننوتل منع دی" نښې ولګوئ.
2. تر هغه وخته د پروژې فعالیتونه وځنډوئ چې ځایي مسؤلینو یا د ماین پاکۍ غیر دولتي مؤسسو لخوا اجازه ورکړل شوې نه وي.
3. تفصیلي راپور چمتو او وړاندې کړئ.
4. د اغېزمن/اغېزمنو شویو کسانو د حالت په اړه ورځني معلومات چمتو کړئ.
5. د پروژې مدیر او قراردادي باید د بېړني غبرګون پلان بیاکتنه وکړي او په کې تېرې تجربې او زده شوي درسونه شامل کړي.
6. د پروژې فعالیتونو د بیا پیل لپاره نهایی راپور وړاندې کړئ.
7. د پروژې فعالیتونه بیا پیل کړئ او د پروژې او قراردادي پرسونل لپاره اړین پوهاوي روزنیز پروګرامونه تنظیم او ترسره کړئ.

افغانستان کې د ماین پاکۍ اداره:

د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ پروګرام (UNMAS) د ماین پاکۍ په برخه کې د ملګرو ملتونو مخکښه اداره ده. دا اداره په هېواد کې د ځمکنیو ماینونو، ناچاودو توکو او د جګړې پاتې شونو په اړه تازه معلومات او نقشې ساتي. د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره، د پروژې ټیمونه کولای شي د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ پروګرام ته مراجعه وکړي او د هغوی له لارې په پروژو کې د ماین پاکۍ شریکانو سره اړیکه ونیسي.

د اړیکو شمېرې:

| **نوم** | **د ټېلېفون شمېره** |
|---|---|
| د افغانستان د ماین پاکۍ پروګرام (MAPA) | 0708 606060 |
| آواز افغانستان | 410 |
| د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب | 0773204790 |
| د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې امنیتي څانګه | 0797578881 |

**اوومه ضمیمه:** د پروژې لومړي جزء (کليوالي برخې) لپاره د شخصي خونديتابه تجهيزاتو (PPE) او د لومړنيو روغتيايي مرستو کېټونو اړتیاوې

**د کاري روغتيا او خونديتوب مديريت، د شخصي خونديتابه تجهيزاتو برابرولو، د لومړنيو روغتيايي مرستو کېټونو مديريت، او پلي کولو اړوند دندې او مسؤليتونه:**

لاندې دوه برخې، د کاري روغتيا او خونديتوب مديريت، د شخصي خونديتابه تجهيزاتو برابرولو او د فرعي پروژې ساحه کې يې د پلي کولو په اړه د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر او همکارو مؤسسو دندې او مسؤليتونه روښانه کوي. دواړه برخې واضح مسؤليت پذيري، اغېزمنه همغږي، او د خونديتوب اهدافو ترلاسه کولو ډاډ ورکوي ترڅو د کارکوونکو خونديتوب او روغتيا ته اولويت ورکړل شي او ټول اړين تدابير د پروژې په ټولو برخو کې په مؤثره توګه پلي شي.

**د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو دفتر**

- د دې پروپوزل له مخې، همکارو مؤسسو ته د کاري روغتيا او خونديتوب، د شخصي خونديتابه تجهيزاتو، او لومړنيو روغتيايي مرستو کېټونو د ټوليز مديريت په اړه د ظرفيت لوړونې روزنيز پروګرامونه برابرول.
- ډاډ ترلاسه کول چې د همکارو مؤسسو په قراردادونو کې د شخصي خونديتابه اړينو تجهيزاتو او لومړنيو روغتيايي مرستو کېټونو د پيرودلو لپاره کافي بوديجه شامله ده.
- د همکارو مؤسسو لخوا د خونديتوب اړوند چمتو شويو ابزارو/اسنادو د ارزونې په موخه د نمونه ای ارزونو ترسره کول او د کيفيت تضمين.
- له همکارو مؤسسو سره همغږي کول ترڅو د کاري روغتيا او خونديتوب اړوند عامه پوهاوی او روزنې تر ساحوي کارګرانو پورې ورسوي.
- د نمونه ای ارزونو پر مهال د دې پروپوزل له مخې د کارګرانو لخوا د شخصي خونديتابه تجهيزاتو کارونې تاييدول.
- په ټاکلي وخت کې نړيوال بانک ته د کاري روغتيا او خونديتوب هر ډول پېښو په اړه راپور ورکول.
- ډاډ ترلاسه کول چې همکارې مؤسسې د کارګرانو لپاره وړاندې شويو روزنيزو پروګرامونو ښه او بشپړ سوابق ساتي.
- د شکايتونو د رسيدنې مېکانيزم له تطبيق او د کاري روغتيا او خونديتوب اړوند شکايتونو د ترلاسه کولو او طی مراحل کولو څخه ډاډ ترلاسه کول.

**همکارې مؤسسې**

د کاري روغتيا او خونديتوب اړوند خطرونو ارزونه او د کمولو پلان:

- هره فرعي پروژه په لومړي سر کې د غير مجاز فرعي پروژو لېست له مخې ارزول کيږي. هغه فرعي پروژې چې د خطر لرونکي موقعيت يا په لنډ، منځنې، يا اوږدمهال کې پاينښت نلري، يا داسې خطرونه او اغيزې ولري چې د مخنيوې، کمولو او جبران وړ نه وي، د ټولنيز ملاتړ او معيشت پروګرام تر چتر لاندې د تمويل وړ نه دي.
- د کاري روغتيا او خونديتوب خطرونو معلومولو په موخه د هرې فرعي پروژې يا د فرعي پروژې ساحې پورې اړوند فعاليت لپاره د چاپېريال او ټولنيز مديريت ارزونه ترسره کيږي او د ورکړل شويو ځوابونو پر بنسټ د څلورم جدول څخه په ګټه اخيستنې د کاري روغتيا او خونديتوب خطرونو او اغيزو کمولو مناسب تدابير ټاکلی کيږي.
- د لومړي جزء کليوالي برخې فرعي پروژو لپاره سايټ پورې اړوند د چاپيريال ساتنې او ټولنيز مديريت پلانونه اړين ندي.

د شخصي خوندتابه تجهيزاتو برابرول او مديريت:

- له دې پروپوزل او د کاري روغتیا او خوندیتوب له شرایطو سره سم، د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو تدارک، توزیع او مدیریت کول.
- ډاډ ترلاسه کول چې شخصي خوندیتابه تجهیزات مناسب وي، په ښه توګه ساتل شوي وي، او که زیانمن یا غیر مؤثر شي، پر وخت بدیل تجهیزات برابر شي.

د لومړنیو روغتیایي مرستو کڅوړو طبي برابرول او مدیریت:

- په ټولو کارځایونو کې د لومړنیو روغتیایي مرستو کڅوړو له شتون څخه ډاډ ترلاسه کول.
- د تجویز شویو شرایطو پوره کولو په موخه، په منظم ډول د لومړنیو روغتیایي مرستو کڅوړو کتل او پوره کول.
- د لومړنیو روغتیایي مرستو وړاندې کولو او د لومړنیو روغتیایي مرستو کڅوړو مدیریت کولو په موخه د روزل شویو کارکوونکو ټاکل.
- ډاډ ترلاسه کول چې د لومړنۍ روغتیایي مرستو تجهیزات د لاسرسي وړ دي او کارګران د ځای او کارونې په اړه پوهیږي.

د کاري روغتیا او خوندیتوب پروګرامونو پلي کول:

- په ټولو فعالیتونو کې د کاري روغتیا او خوندیتوب د ټاکل شویو لارښوونو رعایت تضمینول.
- د خطرونو له منځه وړلو او د خوندیتوب اړینو تجهیزات او د لومړنۍ روغتیایي مرستو کڅوړو چمتو کولو له لارې د خوندي کاري چاپېریال رامنځته کول او ساتل.

روزنه او ظرفیت لوړونه:

- کارګرانو ته د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو د کارونې په اړه د پوهاوي او روزنیز پروګرامونه برابرول.
- د دوامداره چمتووالي لپاره په منظم ډول د بیاځلي روزنیزو ناستو ترسره کول.

څارنه او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې ته راپور ورکول:

- د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو کارونې او د لومړنۍ روغتیایي مرستو کڅوړو حالت څارنه او تعقیب کول.
- د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې ته د پېښو په ځانګړي ډول د هغو ټپي کېدو پېښو په هکله راپور ورکول، چې لومړنۍ روغتیایي مرستو ته اړتیا لري.
- د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو ادارې ته د لومړنۍ روغتیایي مرستو د مدیریت معیارونو سره په سمون کې د کاري روغتیا او خوندیتوب اجرآاتو په اړه په منظم ډول راپورونه وړاندې کول.

د شخصي خوندیتابه تجهیزات

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې د خپلې لومړنۍ مرحلې تر چتر لاندې په بریالیتوب سره په شاوخوا ۶۰۰۰ کلیو کې له ۷۰۰۰ زیاتې فرعي پروژې تطبیق کړې. د دومره پراخ شمېر فرعي پروژو سره سره، د کاري روغتیا او خوندیتوب یوازې دوه پېښې ثبت شوې دي چې یوه مهلکه پېښه په بدخشان کې او بله د موټرسایکل یوه پېښه په ارزګان کې وه، چې وروستۍ پېښې په مستقیم ډول د فرعي پروژو د تطبیق یا فعالیتونو سره تړاو نه درلود.

د کار په بدل کې د نغدي پیسو ورکړې فعالیتونو کې د کارګرو لپاره د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو برابرول یوه دوامداره ستونزه ګڼل کیږي، چې عمده لامل یې د دغو پروژو لپاره کمه بودجه ګڼل کیږي، چې د هرې پروژې اوسط بودیجه یې شاوخوا ۲۵,۰۰۰ زره امریکایي ډالره ده. د فرعي پروژو د ټاکلو اساسي معیار د ۸۰/۲۰ تناسب دی، چې ۸۰ سلنه یې کارګرو ته او ۲۰ سلنه یې توکو ته ځانګړې کیږي.

د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونو له نظره، مهمه ده چي په یاد ولرو دغه پروژې باید د ټیټ څخه تر منځني کچي خطر لرونکي طبقه بندي شوي وي، ځکه د فرعي پروژې په کچه د فعالیتونو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو او اغېزو په تناسب د شخصي خوندیتابه کافي تجهیزاتو برابرول اړین دي.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې لومړنی مرحلي څخه ترلاسه شوي تجربې:

د پروژې لومړنۍ مرحلي څخه ترلاسه شوې یوه مهمه تجربه دا وه چي د همکارو مؤسسو په قراردادونو کي د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو او لومړنیو روغتیایي مرستو کېټونو لپاره بودیجه ځانګړې کول اړین دي. د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو لپاره بودیجه د همکارو مؤسسو لخوا له مخکي څخه نه وه په پام کي نیول شوي او په مالي پروپوزل کي شامل نه وه، چي له امله یې د کارګرو لپاره د شخصي خوندیتابه اړین تجهیزات او د لومړنۍ روغتیایي مرستي کېټونه په پیل کي په بودیجه کي نه وو، چي دا چاره د نا اټکل شویو لګښتونو رامنځته کېدو سبب شوه. د دې خوندیتابه اقداماتو په تړون شوي بودیجه کي د نه شاملولو له امله د کارګرو د خوندیتوب په یقیني کولو کي خلا رامنځته شوه، چي د خوندیتوب خطرونو او د مطابقت ستونزو لامل کېدلی شوای.

د دې ستونزې په ګوته کولو سره، د پروژې لومړنی مرحلي په ترڅ د همکارو مؤسسو په قراردادونو کي تعدیل راوستل شو او د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو او لومړنی روغتیایي مرستو کېټونو لپاره یې بودیجه ځانګړې کړه، خو دا تعدیل ناوخته وو ځکه چي ډېری پروژې وختي بشپړې شوې وې.

د پروژې د لومړنی مرحلي څخه یوه بله مهمه تجربه او زده کړه دا وه چي د چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو او اغیزو ارزوني پروسه په سمه توګه نه وه ترسره شوي، ځکه ځیني خطرونه په پام کي نه وو نیول شوي او له همدې امله د چاپېریال ساتني او ټولنیز مدیریت پلان کي د دغو خطرونو او اغېزو کمولو لپاره هېڅ تدابیر شامل نه وو.

د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې د اضافي تمویل مرحله:

د پروژې لومړنی مرحلي له تطبیق څخه د لاسته راغلو تجربو په پام کي نیولو سره، د همکارو مؤسسو په قراردادونو کي د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو او د لومړنیو روغتیایي مرستو کېټونو د تدارکاتو لپاره ځانګړې بودیجه چي په لاندې جدول کي ښودل شوې ده ، شامله شوه. د همکارو مؤسسو په قراردادونو کي دغه بدلون د دې ډاډمنتیا په موخه ترسره شو، څو همکارې مؤسسي د دې اړینو خوندیتابه تجهیزاتو د لګښت پرې کولو امکانات ولري. دغه تجهیزات خوندي کاري چاپېریال ته ښه والی ښني او د روغتیا او خوندیتوب معیارونو سره د پروژې مطابقت او سمون کي ښه والی رامنځته کوي.

تمه کیږي چي د پروژې د اضافي تمویل مرحلي/برخي تر چتر لاندې په ۲۶۹۰ کلیو کي ۳۴۴۳ فرعي پروژې پلي شي او د اټکل له مخي به ۳۴۴۳۰۰۰ کارګران په کي کار کوي. د همکارو مؤسسو لپاره د لاندې دلائلو له مخي، د بیا رغوني/جوړوني کارونو کي د دومره زیات شمېر دخیلو کارګرانو لپاره د کاري روغتیا او خوندیتوب اړوند د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو برابرول غټه ننګونه ده:

- د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو د لګښت اغېزې؛
- په بازار کي د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو شتون.

۱ جدول: د سکتور له مخي د فرعي پروژو شمېر لنډیز

| ګڼه | سکتور | د اضافي تمویل برخي تر چتر لاندې ټولټال فرعي پروژې |
|---|---|---|
| 1 | ساختماني | ۹ |
| 2 | چاپېریالي/اقلیمي | ۱۰ |
| 3 | اوبه لګول | ۱۴۹۲ |

| | | |
|---|---|---|
| 4 | ترانسپورت | ۱۸۸۸ |
| 5 | اوبه رسونه، روغتیا ساتنه او د حفظ الصحې زده کړه | ۴۴ |
| | ټولټال | ۳۴۴۳ |

د کاري روغتیا او خوندیتوب ارزښت او د دې برخې اړوندو خطرونو مدیریت ته په پام سره، له پروژې غوښتنه وشوه چې د پروژې کلیوالي اجزاوو کې د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو د واضح تطبیق لپاره یو وړاندیز چمتو کړي. د شخصي خوندیتابه تجهیزات د کاري تجهیزاتو یوه مهمه ګڼل کیږي او نه کارول یې د ټپي کېدو یا مرګ لامل کېدلای شي.

د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ له مخې، د کلیوالي برخو لپاره مسؤلې همکارې مؤسسې د یو خوندي او پاک کاري چاپېریال پر برابرولو او روغتیا او خوندیتوب اړوند مناسبو تدابیرو پر چمتو کولو مکلفې دي ترڅو کارکوونکي، کارګران، او کلي له اړوندو خطرونو څخه خوندي وساتي.

دا معلومه ده چې د شخصي خوندیتابه تجهیزات د کارګرو او کلیو لپاره یوه کم پیدا سرچینه ده. خو، د دې پروپوزل موخه د فرعي پروژې ساحه او کوربه کلي کې د ټولو لپاره یو روغ او خوندي کاري چاپېریال ترلاسه کول او ساتل دي.

د دې پروپوزل بله مهمه موخه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت چوکاټ او د چاپېریال او ټولنیز مدیریت عمومي پلان د تدابیرو یوې برخې په توګه، د کاري روغتیا او خوندیتوب اړوند ځانګړو خطرونو او اغیزو د ارزونې او مدیریت لپاره د تدابیرو او اقداماتو چمتو، تائید او پلي کول دي. د یادونې وړ ده، چې د شخصي خوندیتابه تجهیزات کارول له خطرونو د خوندي پاتې کېدو وروستی لاره ده. د خطر مهارونه په لاندې ترتیب درجه بندي شوې دي، چې له منځه وړل یې تر ټولو اغېزمنه لار او د شخصي خوندیتابه تجهیزات کارونه یې تر ټولو کمه اغېزمنه لار ګڼل کیږي:

- له منځه وړل – په فزیکي ډول د خطر لرې کول
- بدیله لار موندل – خطر په بل څه بدلول
- انجنیري کنترولونه – خلک له خطر څخه لرې کول
- اداري مهارول – د خلکو د کار کولو طریقه بدلول
- د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو په مرسته د کارګر ساتنه

په نامحدود ډول د کاري روغتیا او خوندیتوب تجهیزاتو کې لاندې شیان شامل دي:

- د خوندیتابه خولۍ: کله چې د شیانو د لوېدو یا پورته کېدو خطر وي، یا د شیانو سره د ټکر خطر وي.
- د خوندیتابه عینکې: کله چې د سترګو یا مخ د ټپي کېدو خطر وي لکه د دوړو یا هوایي ذراتو له امله.
- دستکش: کله چې د ټپي کېدو تصادفي خطرونه وي لکه ټپي کېدل، ګرېدل، سوځېدل او داسې نور.
- د خوندیتابه/کاري بوټان: کله چې د شیانو د لوېدو، تېرو شیانو د ننوتلو، او داسې نور خطرونه وي.
- د ښاروالۍ واسکټونه: کله چې کاري ځایونه تت او تایره وي او نور احتمالي خطرونه وي.

د فرعي پروژو لپاره د ارزونې راپور له بشپړولو وروسته، او د کاري روغتیا او خوندیتوب خطرونو د شتون په صورت کې، کلکه سپارښتنه کېږي چې په لومړي قدم کې خطرونه د نورو لارو لکه له منځه وړل، بدیله لار موندل، انجنیري کنترولونه او اداري مهارولو له لارې کم شي ځکه ډېرې وختونه دا لارې د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو چمتو کولو په پرتله هم خوندي او هم ارزانه وي.

کله چې د ناوړه شرایطو او د پېښو یا روغتیایي زیان اړوند خطرونو څخه ساتنه له نورو لارو چارو شوني نه وي، همکاري مؤسسې اړ دي چې کارګرو ته په دوی باندې د لګښت اچولو پرته د کار نوعیت او خطرونو په پام کې نیولو سره د شخصي خوندیتابه مناسب تجهیزات برابر کړي.

**۲ جدول: د اضافي تمویل برخې تر چتر لاندې د همکارو مؤسسو لپاره د فرعي پروژو شمېر**

| ګڼه | د همکارې مؤسسې نوم | د کلي نماینده ګان | د فرعي پروژو شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | **د آغاخان بنسټ AKF** | **۲۶۶** | **۳۴۰** |
| ۲ | **د تخنیکي همکارۍ او پراختیا اداره ACTED** | **۳۹۳** | **۵۰۳** |
| ۳ | **د افغانستان د کلیو د بیارغونې ټولنه RRAA** | **۴۲۸** | **۵۴۸** |
| ۴ | **د بشردوستانه مرستو همغږي CHA** | **۶۶۳** | **۸۳۶** |
| ۵ | **د خلکو په مشرۍ د پرمختګ موسسی CDDO** | **۵۷۵** | **۷۵۵** |
| ۶ | **د افغان کډوالو لپاره د ډنمارک کمیټه DACAAR** | **۳۶۰** | **۴۶۱** |
| **ټولټال** | | **۲۶۸۵** | **۳۴۴۳** [19] |

د پروګرام د لومړي جزء تر چتر لاندې، د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو د لېږ تر لږه غوښتنو سره د موافقت لپاره، د پروژې په عملیاتي لارښود کې د مجاز فرعي پروژو فعالیتونه په ۱۳ مهمو ساختماني فعالیتونو وېشل شوي دي، چې هر یو یې ځانګړو شخصي خوندیتابه تجهیزاتو ته اړتیا لري. د دې لارښوونو ټاکنه د لګښتونو او پروژه کې د لوړې شمېرې کارګرو په پام کې نیولو سره شوې ده. د کارګرو د لوړې شمېرې په نظر کې نیولو سره، د خوندیتوب اړتیاوې او د محدودې بودیجې توازن په دقت سره ارزول شوي دي.

د مجاز فرعي پروژو نوملړ کې د ۱۳ ساختماني فعالیتونو/فرعي پروژو لپاره د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو لږ تر لږه اړتیاوې په دې موخه وړاندیز شوي دي، ترڅو د کارګرانو خوندیتوب یقیني کړي او په ورته وخت کې لګښتونه کنټرول شي. دا تګلاره د پروژې په بېلابېلو فعالیتونو کې د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو کارونې د معیاري کولو لپاره غوره شوې ده، ترڅو کارګران په مناسبه توګه تجهیز شي او غیر ضروري لګښتونه مخنیوی وشي.

د دې لارښوونو په تطبیق سره، د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژه یقیني کوي چې په ساختماني فعالیتونو کې ښکېل کارګران د خپلو دندو اړوند ځانګړو خطرونو څخه خوندي پاتې شي، په داسې حال کې چې د لګښتونو موثریت وساتل شي. د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو لپاره د دې منظمې لارې پلې کول نه یوازې د فرعي پروژې په ساحه کې د پېښو او ټپي کېدو مخنیوی کې مرسته کوي، بلکې د یو خوندي او مثمر کاري چاپېریال په رامنځته کولو کې هم ونډه لري.

لاندې جدول کې د مجاز فرعي پروژو فعالیتونه په ۱۳ اصلي ساختماني فعالیتونو وېشل شوي دي چې د هر فعالیت لپاره د خطر کچې او ماهیت ته په کتو د شخصي خوندیتابه اړین تجهیزات تعریف شوي دي.

[19] دا د فرعي پروژو اټکلي شمېر دی

۳ جدول: د لومړي جزء تر چتر لاندي عمده ساختماني فعالیتونه

| ګڼه | اصلي فعالیتونه | د شخصي خوندیتابه لږ تر لږه اړتیاوې | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| ۱ | کیندل/بیرته ډکول | - د خوندیتابه خولۍ<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالۍ واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسکونه | – که د کیندنې ژوروالی له ۱ متر څخه کم وي، د خوندیتابه خولۍ په سر کولو ته اړتیا نشته.<br>– که د کیندنې ژوروالی له ۱ متر څخه زیات وي، کارګران باید د خوندیتابه خولۍ ولري؛ او د موادو انتقال لپاره باید د خوندیتابه تدابیر مراعات شي.<br>– د سختو شیانو قطع کولو، او د هغو کیندنو لپاره چې په کې ډبرې، غټې تیګې، او د ونو/بوټو ریښې وي، کارګران باید د خوندیتابه بوټان وکاروي.<br>– د نرمې خاورې او خټو په کیندنه کې، عادي چرمي یا ربړي بوټان د منلو وړ دي.<br>– د بیل، چارې، کراچۍ، تبر، او نورو ورته وسائلوکارولو په صورت کې د ټولو کارګرانو لپاره د دستکشونه په لاس کول اړین دي ترڅو د غیر ضروري لګېدنو مخنیوی وشي.<br>– که د دوړو خطر وي، د ماسکونو اچول اړین دي. |
| ۲ | د ساختماني توکو لکه تیږو، شګې، جغل، او سمنټو باروول او ښکته کول | - د خوندیتابه خولۍ<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالۍ واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسکونه | - هغه کارګران چې ساختماني توکي باروي او ښکته کوي، باید د شخصي خوندیتابه ذکر شوي تجهیزات ولري. |
| ۳ | سنګکاري/خشت کاري | - د خوندیتابه خولۍ<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالۍ واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسکونه | - هغه کارګران چې د سنګکاري او خشت کاري کوي، باید د خوندیتابه بوټان وکاروي.<br>- د سنګکاري او خشت کاري پر مهال د شیانو د لوېدو یا نورو خطرونو د امکان په صورت کې د خوندیتابه خولۍ ضرورت دي.<br>- د خوندیتابه عینکې یوازې هغه کارګرانو ته په کار دي چې تیږې یا خښتې ماتوي.<br>- دستکشونه د ټولو هغو کارګرو لپاره په کار دي چې د سنګکاري او خشت کاري کارونه کوي.<br>ماسکونه هغو کارکوونکو ته په کار دي چې مساله جوړوي. |
| ۴ | کانکرېټ اچونه | - د خوندیتابه خولۍ<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالۍ واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسکونه | - په لوړو یا ژورو کانالونو کې چې ژوروالی یې له ۱ متر څخه زیات وي، د کانکرېټ اچونې پر مهال کارګران باید د خوندیتابه خولۍ ولري.<br>- کارګران باید چرمي یا ربړي بوټان وکاروي.<br>- د ټولو هغو کارګرو لپاره چې د کانکرېټ اچونې کارونه کوي، باید دستکشونه ولري<br>- ماسکونه د ټولو هغو کارګرو لپاره اړین دي چې د کانکرېټ اچونې کارونه کوي. |

| ګڼه | اصلي فعالیتونه | د شخصي خوندیتابه لپر تر لږه اړتیاوې | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| ۵ | ځاه کیندنه | - د خوندیتابه خولی<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د بناروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- عینکي<br>- د خوندیتوب غوږۍ<br>- ماسکونه | - د ځاه کیندني پر مهال د شخصي خوندیتابه ټول ذکر شوي تجهیزات کارول لازمي دي، او د ساحې د لیدنې/خطر ارزونې پراساس، د خوندیتوب غوږۍ او تنفسي تجهیزات باید هغه مهال برابر شي چې کارګران په داسي ځای کې چې د اکسیجن کچه ټیټه وي کار کوي لکه د لاس په وسیله د ځاه او کاریزونو کیندل او تر څنګ یې بیړني تدابیر هم باید ونیول شي.<br>- که ځاه د برمې په وسیله کیندل کیږي، په دې صورت کې د خوندیتوب غوږۍ باید وکارول شي.<br>- که دوړې وې، ماسکونه هم باید واچول شي. |
| ۶ | قالب بندي | - د خوندیتابه خولی<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د بناروالی واسکټونه<br>- دستکشونه | - په لوړې ارتفاع کې قالب بندي کول د خوندیتابه خولی ته اړتیا لري<br>- ټول هغه کارګران چې د قالب بندي کارونه کوي، باید د خوندیتابه بوټان او دستکشونه ولري. |
| ۷ | د کانال رغونه/پاکاري | - د خوندیتابه خولی<br>- د اوبو ضد ربړي بوټان<br>- د بناروالی واسکټونه<br>- ربړي دستکشونه | - د هغو کانالونو رغونې/پاکاري کې چې ژوروالی یې له ۱ متر څخه کم وي، د خوندیتابه خولی کارول اړین نه دي.<br>- د هغو کانالونو رغونې/پاکاري کې چې ژوروالی یې له ۱ متر څخه زیات وي، د خوندیتابه خولی کارول اړین دي.<br>- د کانالونو رغونې/پاکاري کې دخیل ټول کارګران باید ربړي بوټان او دستکشي وکاروي. |
| ۸ | پلستر کاري/انګاپ کول | - د خوندیتابه خولی<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د بناروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسکونه | - په لوړو یا ژورو کانالونو کې د پلستر او انکاپ کاري لپاره، د خوندیتابه بوټان خولی کارول اړین دي.<br>- په لوړه ارتفاع یا ژور ځایونو کې چې ژوروالی یې له ۱ متر څخه کم وي، د پلستر کاري لپاره د خوندیتابه خولی په کار ندي خو کارګران باید ربړي یا چرمي بوټان ولري.<br>- دستکشونه او د خوندیتابه واسکټونو کارول اړین دي.<br>- د ماسکونو کارول هغه وخت اړین دي چې دوړې یا مضر زرات، په ځانګړي ډول کله چې د پلستر لپاره د مسالې ګډول یا په بندو ځایونو کې کار کول وي. |
| ۹ | د ګبیون نصبول | - د خوندیتابه بوټان<br>- د بناروالی واسکټونه<br>- دستکشونه | - د ګبیون نصب کاري کې دخیل کارګران باید درې واړه تجهیزات ولري |

| ملاحظات | د شخصي خوندیتابه لږ تر لږه اړتیاوې | اصلي فعالیتونه | ګڼه |
|---|---|---|---|
| - د تیري ماتولو کي دخیل کارګران باید دري واړه تجهیزات ولري | - د خوندیتابه خولی<br>- د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- د خوندیتابه عینکي | تیري ماتول | ۱۰ |
| - د ټولو کارګرانو لپاره چرمي یا ربړي بوټان، دستکشونه، او د خوندیتابه واسکټونه په کار دي.<br>- د خوندیتابه عینکي یوازې د هغو کارګرو لپاره په کار دي چي ډبرې ماتوي. | - د خوندیتابه بوټان<br>- د ښاروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- د خوندیتابه عینکي | د تیرو لګول/له مسالي پرته تیره وچه لګول | ۱۱ |
| - د خوندیتابه خولی کارول هغه مهال اړین دي چي د شیانو د لوېدو خطر په ګوته شوی وي .<br>- نور تجهیزات د ټولو کارګرانو لپاره په کار دي | - د خوندیتابه خولی<br>- ماسک<br>- د ښاروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- د خوندیتابه عینکي | رنګ کول | ۱۲ |
| - د لست شویو تجهیزاتو په شمول چرمي یا ربړي بوټانو کارول ضرور دي. | - د ښاروالی واسکټونه<br>- دستکشونه<br>- ماسک<br>- د خوندیتابه بوټان | جغل اچول | ۱۳ |

**د لومړنیو روغتیایي مرستو کېټونه:**

د شخصي خوندیتابه تجهیزاتو ترڅنګ، همکارو مؤسسو ته په کار ده چې د پروژې په هر سایټ کې د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونه هم برابر کړي. هر سکتور د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونو لپاره بېلابېلې اړتیاوې لري، ځکه چې د کارګرو او خطر کچې په بېلابېلو برخو کې توپیر لري. د کاري چاپېریال، سرو کار شیانو سره د تعامل، او د کارېدونکو وسایلو ډول ته په کتو، د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروژې ساختماني فعالیتونه د ټیټ او منځنی کچې خطر لرونکي دي. له همدې امله، د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونه باید داسې توکي ولري چې د ټیټ او منځني خطر چاپېریال لپاره مناسب وي. د کاري روغتیا او خوندیتوب اداره د پروژې ساحه کې د لومړنیو روغتیایي مرستو برابرولو په تړاو د کوم ځانګړي صنعت مشخصو کیټونو برابرولو شرایط نلري، خو د هغوی په وینا، "کافي تجهیزات باید شتون ولري او په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وي." موخه دا ده چې په سایټ کې د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونه باید عام توکي ولري چې د هر ډول پېښو او ټپونو لپاره مناسب وي. که چېرې کومه پېښه د دې کیټونو سره نه شي کنټرولېدای، نو باید ژر تر ژره نږدې روغتیایي مرکز ته مراجعه وشي، او په سایټ کې موجود توکي د ټپونو کنټرول لپاره په سم ډول وکارول شي.

په کلیوالو سیمو کې د فرعي پروژو لرې موقعیت او روغتیایي مرکزونو ته د محدود لاسرسي له امله، سپارښتنه کېږي چې د فرعي پروژې په هر سایټ کې د لومړنیو روغتیایي مرستو لاندې مهم توکي شتون ولري، ترڅو د پېښو په صورت کې د لومړنیو مرستو وړاندې کول ډاډمن شي. دا توکي باید د لومړنیو مرستو لږ ترلږه شرایط پوره کړي، ترڅو د وضع شویو قوانینو او مقرراتو سره سمون او مطابقت یقیني شي. د دې بستو لګښت شاوخوا ۱۵-۲۰ ډالر اټکل شوی دی.

لاندې د لومړنۍ مرستې توکي د دې ډاډ ورکوي چې د فرعي پروژې په سایټ کې د کوچنیو ټپونو او پېښو لپاره تیاری شتون لري. د پروژې ځانګړو خطرونو ته په پام سره، کېدای شي اضافي تجهیزاتو ته هم اړتیا پېښه شي.

**دندې او مسؤلیتونه:**

همکارې مؤسسې مسؤلیت لري چې د فرعي پروژو په سایټونو کې د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونو موجودیت یقیني کړي او د هغې د مدیریت لپاره یو مسلکي کس وټاکي.
همکارې مؤسسې کولای شي د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونو د مدیریت لپاره له کلي څخه یو تجربه لرونکی کس د کارګر په توګه وګماري، چې مخکې یې د دې چارو تجربه لرله. خو که داسې کس موجود نه وو، کولای شي د فرعي پروژې په سایټ کې یو کارګر ته د لومړنیو روغتیایي مرستو کیټونو د مدیریت اړینه روزنه ورکړي.

**4 جدول: د هر کلي لپاره د لومړنیو روغتیایي مرستو لږترلږه اړتیاوې**

| انځور | واحد | شمېر | نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
|  | بکس | 1 | د لومړنیو روغتیایي مرستو کېټ | 1 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1.2 | د بنداژونو یوه بسته، لږ تر لږه ۲ انچه سور لرونکي | 1 | بسته |  |
| 1.3 | د معیاري اندازې ګازي پټۍ یوه بسته (۴ × ۴ انچه) | 1 | بسته |  |
| 1.4 | د زخمونو پاکولو لمدې پټۍ | 10 | داني |  |
| 1.5 | قیچي | 1 | دانه |  |
| 1.6 | یک بار مصرف دستکشي | 10 | جوړه |  |
| 1.7 | د زخم ضد عفوني کوونکې مواد | 1 | دانه |  |

**پایله:**

همکاري مؤسسې مکلفې دي چې په دربیم جدول کې ذکر شوي د شخصي خوندیتابه تجهیزات د ۱۳ اصلي ساختماني فعالیتونو کې بنکېلو کارګرانو ته برابر کړي. سربېره پر دې، د لومړنیو روغتیایي مرستو اړین توکي به هغو فرعي پروژو ته چمتو

کړل شي چې په لرې پرتو سیمو کې موقعیت لري، په ځانګړي توګه هغه سیمې چې له روغتیایي مرکزونو څخه لرې پرتې وي